بسم الله الرحمن الرحيم

# کتاب پېژندنه

**د کتاب نوم:** بیمه

**څانګه:** اداره او منجمنت، محاسبه او د تجارت اقتصاد

**تدوین کوونکی:** مسلک پوه محمد شاه رویایی

**ژباړونکی:** خادم احمد حقیقی

**د څار کمېټه:**
- محمد آصف ننګ د تخنیکي او مسلکي زده کړو معین
- دیپلوم انجنیر عبدالله کوزابې د تعلیمي نصاب رییس
- محمد اشرف وحدت په تعلیمي نصاب کې د معینیت د مقام سلاکار

**د تصحیح کمېټه:**
- عبدالجمیل ممتاز
- عبدالاحمد محمدیار


**د ګرافیک او ډیزاین څانګې مسئول:** محمد جان علیرضایي

**ګرافیک او ډیزاین:** علی مومنی

**چاپ کال:** ۱۳۹۲ لمریز کال

**تیراژ:** ۶۰۰۰ ټوکه

**چاپ ځل:** لومړی

**وېب پاڼه:** www.d[illegible]tvet.gov.af

**[illegible]:** info@d[illegible]tvet.gov.af

**د ISBN [illegible]:** ISBN 978[illegible]03[illegible]00[illegible]74



Ketabton.com

د چاپ حق د تخنیکي او مسلکي زده کړو له معینیت سره خوندي دی

ketabton.com - The Digital Library

# ملي سرود

دا وطن افغانستان دی
دا عزت د هر افغان دی

کور د سولې کور د تورې
هر بچی یې قهرمان دی

دا وطن د ټولو کور دی
د بلوڅو د ازبکو

د پښتون او هزاره وو
د ترکمنو د تاجکو

ور سره عرب، ګوجر دي
پامیریان، نورستانیان

براهوي دي، قزلباش دي
هم ایماق، هم پشه یان

دا هیواد به تل ځلیږي
لکه لمر پر شنه آسمان

په سینه کې د آسیا به
لکه زړه وي جاویدان

نوم د حق مو دی رهبر
وایو الله اکبر وایو الله اکبر

ketabton.com - The Digital Library

# د پوهنې وزارت پیغام

**ګرانو زده کوونکو، محصلانو او درنو ښوونکو!**

د یوې ټولنې وده او پرمختګ کاملاً د همغې ټولنې د پیاوړو کاري کادرونو، بشري قوې او ماهرو فکرونو په کار او زیار پورې تړلې دي. همدا بشري قوه او کاري متې دي چې د هیواد انکشافي اهدافو ته د رسېدو لارې چارې طې کوي او د یوه نېکمرغه، مرفه او ودان افغانستان راتلونکی تضمینوي.

انســان په خپل وار سره د الله تعالی له جانبه او هم د خپل انســاني فطرت له اړخه مؤظف او مکلف دی چې د ځمکې په عمران او د یوه ســوکاله ژوند د اســبابو او ایجاباتو د تکمیل لپاره خپل اغیزمن نقش، همدارنګه ملي او اسلامي رسالت ادا کړي.

لــه همدې ځایه ده چې د یوه ژوندي او فعال انســان نقــش، د خپل ژوند د چاپېریال او خپلې اړوندې ټولنې په اړه، تل مطلوب او په هېڅ حالت کې نه نفي کېږي او نه هم منقطع کېږي.

په ټول کې د پوهنې نظام او په خاصه توګه د تخنیکي او مسلکي زده کړو معینیت مسوولیت او مکلفیت لري چې د اســلامي ارزښــتونو، احکامو او همداراز معقولو او مشروعو قوانینو ته په ژمنتیا سره، د افغانســتان په انکشاف کې فعاله، چابکه او موثره ونډه واخلي، څکه دغه ســتر او ســپېڅلي هدف ته د رســېدو په خاطر د انساني ظرفیت وده، د حرفوي، مسلکي او تخنیکي کادرونو روزنه او پراختیا یو اړین مقصد دی. همدا په تخنیکي او مسلکي زده کړو مزین تنکي ځوانان کولی شي چې په خپلې حرفې او هنر سره په سیستماتیک ډول د هیواد انکشاف محقق او میسر کړي.

جوته ده چې په افغانستان کې د ژوند تګ لاره، دولتداري او ټولنیز نظام د اسلام له سپېڅلو احکامو څخه الهام اخیســتی؛ نو لازمه ده چې زموږ د ټولنې لپاره هر ډول پرمختګ او ترقي باید په علمي معیارونو داســې اســاس او بنا شي؛ چې زموږ د کارګر نســل مادي او معنوي ودې ته پکې لومړیتوب ورکړ شي. د حرفوي ظرفیت جوړونې تر څنګ د ځوانانو سالم تربیت او په سوچه اسلامي روحیې د هغوی پالنه نه یواځې پخپل ذات کې یوه اساسي وجیبه ده، بلکې دا پالنه کولی شي چې زموږ وطن پخپلو پښو ودروي، له ضعف څخه یې وژغوري او د نورو له سیاسي او اقتصادي احتیاج څخه یې آزاد کړي.

زموږ ګران زده کوونکي، محصلان، درانه اســتادان او مربیون باید په بشــپړه توګه پوه شي، چې د ودان او نېکمرغه افغانستان ارمان، یواځې او یواځې د دوی په پیاوړو متو، ویښ احساس او نه ستړي کېدونکي جد او جهد کې نغښتی او د همدغو مسلکي او تخنیکي زده کړو له امله کېدای شي په ډېرو برخو کې د افغانستان انکشافي اهداف تر لاسه شي.

د دې نصــاب له ټولو لیکوالانو، مولفینو، ژباړونکو، ســموونکو او تدقیق کوونکو څخه د امتنان تر څنګ، په دې بهیــر کــې د ټولو کورنیو او بهرنیو همکارانو له مؤثرې ونډې او مرســتو څخه د زړه له کومې مننه کوم. له درنو او پیــاوړو اســتادانو څخه رجامندانه هیله کوم چې د دې نصــاب په ګټور تدریس او فعاله تدریب سره دې د زړه په ټول خلوص، صمیمي هڅو او وجداني پیکار خپل ملي او اسلامي نقش ادا کړي.

د نېکمرغه، مرفه، پرمختللي او وياړمن افغانستان په هیله

**فاروق وردګ**

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر

ketabton.com - The Digital Library

# لړلیک


| څپرکی | سرلیکونه | پاڼې |
| --- | --- | --- |
| لومړی | د بیمې د اصطلاحاتو مفهوم او وېشنه | ۱ |
| دویم | په نړۍ او افغانستان کې د بیمې تاریخچه | ۹ |
| درېیم | د بیمې د ترون عمده بنسټونه او د بیمې د موسسو ډولونه | ۱۹ |
| څلورم | د بیمې تر ټولو پخواني ډولونه | ۲۹ |
| پنځم | د پیښو بیمه | ۴۱ |
| شپږم | د معاصرو بیمو نور ډولونه | ۴۷ |
| اووم | د افغان ملي بیمې په وسیله دود شوي بیمې | ۵۳ |
| اتم | په ملي اقتصاد کې د بیمې ونډه او په هېواد کې د بیمې د ودې او پرمختیا لاملونه | ۶۳ |
| ضمیمه | د هېواد د بیمې قانون | ۷۱ |
| سرچینې او اخیستنې | | ۸۶ |

ketabton.com - The Digital Library

**مقدمه**

دا یوه ښکاره خبره ده، چې بیمه په اقتصادي غوړېدا او پرمختیا کې کره رول او ونډه لري ان تر دې، چې د نړۍ د نن ورځې اقتصاد له بیمې پرته معنا نه لري. د نن ورځې بیمې ړمنه داسې پراختیا موندلې، چې د ټولنې ټول ډګرونه لکه اقتصادي، ټولنیزې او سوداګریزې برخې تر خپلې اغېزې لاندې راوستي دي.

د بیمې د یاد ارزښت او اهمیت په پام کې نیولو سره، له اوږدې مودې راهیسې دغه مضمون د ادارې او حسابدارۍ په انستیتوت کې تدریس کېږي، چې په دې وروستیو کې، د درسي کتاب په توګه یې چاپچارې هم بشپړې شوې دي. دغه درسي کتاب اته بېلابېل څپرکي لري، چې لومړی څپرکی یې د بیمې د مفهوم، تعریف او وېش په تړاو مطالب په بر کې نیسي؛ دویم څپرکی یې، د بیمې تاریخچې ته ځانګړی شوی؛ درېیم څپرکی یې د بیمې تړون له عمده بنسټونو او د بیمې موسسو له ډولونو څخه بحث کوي؛ څلورم څپرکی یې د بیمې پخواني ډولونه تر څېړنې لاندې نیسي او د پنځم څپرکی په لړ کې د حادثاتو بیمه ارزول کېږي.

د دغه کتاب شپږم څپرکی د معاصرو بیمو ډولونو ته ځانګړی شوی، اوم څپرکی یې په هېواد کې د مروجو بیمو له ډولونو څخه بحث کوي او وروستی یعنې اتم څپرکی یې د ملي اقتصاد په وده کې د بیمې ونډه او په هېواد کې د بیمې د پرمختیا لاملونه څېړي. همدارنګه د دغه څپرکی په پای کې، د ضمیمې په توګه د افغانستان د بیمې قانون هم درج شوی دی.

په درنښت

مسلک پوه محمد شاه رویایی

ketabton.com - The Digital Library

د کتاب ټولیزه موخه:

د بیمې له فن سره د زده کوونکو اشنايي او د اقتصادي ونډه یې درک او د عملي کار پر کړنلارو يې پوهیدنه.

ketabton.com - The Digital Library



# د بیمې د اصطلاحاتو مفهوم او وېشنه

**ټولیزه موخه:**
د بیمې له تعریفونو او ډلبندیو سره بلدتیا.

**دزده کړې موخې:** د دغه څپرکي په پای کې به زده کوونکي پر دې وتوانېږي چې:

۱- د بیمې مفهوم وپېژني.

۲- داسې مفاهیم لکه بیمه کوونکي، بیمه کېدونکي او د بیمې موضوع توضیح کړي.

۳- له ټولنیزو بیمو څخه، اختیاري بیمې تفکیک کړي.

۴- د سمندري او ځمکنیو بیمو په اړه معلومات ترلاسه کړي.

۵- مستقیمې او نامستقیمې بیمې تشریح کړي.

ketabton.com - The Digital Library

### بیمه څه شی ده؟

ډېری کارپوهان پر دې باوري دي، چې بیمه د ((بیم)) له کلمې څخه د ډار په معنا اخیستل شوې ده. په هندوستان کې بیمې ته (بیما) وایي. د بیمې او بیما کلمې دواړه له یوې رېښې څخه دي، چې له سانسکریټ ژبې څخه اخیستل شوي دي. په انګریزي ژبه کې ورته (Insurance)، په فرانسوي کې (Assurance) او په عربي کې ورته (التامین) وایي. بیمه داسې یو عمل دی، چې یو کس یا مال یې له هر راز ګواښ او زیان سره مخامخېږي، نو زیانمن ته د دغې چارې د ځانګړو سمبالوونکو شرکتونو او موسسو له خوا د ټاکلي حق په ورکړې سره، رامنځته شوی زیان جبرانېږي.

دا له امکان څخه لېرې نه ده، چې انسانان د خپلو ورځنیو چارو د ترسره کولو په بهیر کې له داسې غیرمترقبه پېښو سره مخ نه شي، چې مالي زیان رامنځته کوي. د ځاني او مالي زیانونو زغمل د زیاتره وګړو او ان د سوداګریزو سازمانونو له عهدې څخه بهر وي. نو دا بیمه ده، چې رامنځته شوي زیانونه، پرهغو کسانو په مساوي ډول وېشي، چې له رامنځته شوې پېښې څخه زیانمن شوي او هغه لګښت، چې پر هر تن راځي د بیمې د حق اندازه ده، چې دوی یې ورکوي. د بیمې د دغه حق له راټولېدو څخه داسې پانګه ترلاسه کېږي، چې د بیمې د شرکتونو د اداري لګښتونو پر پوره کولو سربېره، خلکو ته د اوښتو زیانونو د جبران په موخه هم لګول کېږي. نو ویلی شو، بیمه هغه وسیله ده، چې خلک کولی شي په مرسته یې دوی ته اوښتي زیانونه، هغو موسسو ته ولېږدوي، چې د دغو خطرونو او زیانونو د اخیستلو ژمنه یې کړې ده. یا په بل عبارت، بیمه د نااټکل شویو او ناڅرګندو مالي زیانونو او ګواښونو پر وړاندې له خلکو څخه ساتنه کوي او د دغه تضمین مسوولیت د بیمې موسسو ته سپاري. د بیمې د ځانګې پوهانو، د بیمې بېلابېل تعریفونه وړاندې کړي، چې له ځېنو څخه یې په لاندې توګه یادونه کوو:

بیمه هغه تړون ته ویل کېږي، چې له مخې یې بیمه کوونکی پر دې ځان مکلف بولي، چې د بیمې د هغه حق په بدل کې یې، له بیمه کېدونکي څخه ترلاسه کړي، چې نوموړیې د احتمالي ګواښونو او زیانونو پر وړاندې بیمه کړي.

یا هغه تړون دی، چې له مخې یې د تړون یو لوری د بیمې حق د اخیستو په بدل کې د آتي خطرونو او پېښو پر وړاندې د تړون له بل لوري څخه ساتنه کوي او د پېښو د رامنځته کېدو په پایله کې به د هغه زیانونه ورپوره کوي.

د یوې سوداګریزې موسسې له انده هم، بیمه هغه پروګرام ته ویل کېږي، چې په وسیله یې ډېر کسان، سره راټولېږي او د پېښو په پایله کې، رامنځته شوي زیانونه یو بل ته جبرانوي او په دې توګه، یاد زیانونه د دوی ترمنځ وېشل کېږي. د یادونې وړ ده، چې د بیمې د تعریف په برخه کې، یو شمېر پوهانو هڅه کړې، چې په دې اړه د احتمالاتو او احصایو ونډه یې هم غوښتنه کړي، په

ketabton.com - The Digital Library

دې توګه د بیمې فن هغه مهال د منلو وړ بولي، چې د علمي او قانوني اصولو پر بنسټ ولاړ وي. د دغو قوانینو په ډله کې کولی شو، د محاسبې د ډېر شمېر، احتمالاتو او د انتخاباتو او وېش د قوانینو نومونه واخلو.

په هر صورت، هغه څه، چې په دې برخه کې د یادونې وړ دي دا دي، چې بیمه کوونکی له یو زیات شمېر بیمه کېدونکو سره د معاملې لوری یا طرف دی او له ټولو څخه یې د بیمې حق ترلاسه کوي او لکه څرنګه، چې مو مخکې هم یادونه وکړه د بیمه کېدونکي پر وړاندې د خپلو ژمنتیاوو د ترسره کولو ترڅنګ، د احصاییې او امارو له احتمالاتو څخه په ګټه اخیستنې سره، یوه اندازه عادلانه ګټه هم ترلاسه کوي.

د پورتنیو مطالبو په پام کې نیولو سره دا دی د بیمې یو بل تعریف هم وړاندې کوو: بیمه کوونکی یا د بیمې موسسه هغه کس دی، چې د حق البیمې تر نامه لاندې د یوې اندازې پیسو د ترلاسه کولو په بدل کې (چې د پېښې د زیانونو پر بنسټ، محاسبه کېږي) له بیمه کېدونکو سره ژمنه کوي، چې د پېښو د رامنځته کېدو په صورت کې به یې زیانونه جبرانوي او پر ټاکلي وخت به ورته پیسې ورکوي. دغه بشپړ تعریف لاندې مطالب زموږ مخې ته ږدي: لومړی دا چې، شایي بیمه کوونکی، حقیقي یا حقوقي شخص وي، خو له دې امله، چې د انسان عمر لنډ دی او د اوږدمهالو ژمنتیاوو د ترسره کېدو لپاره بسنه نه کوي، نو د بیمې قانون د حقیقي اشخاصو لپاره د بیمې د دندې اجرا او ترسره کېدنه، منعه ګرځولې ده. بله دا چې، د هغې احصاییې له مخې ، چې بیمه کوونکي یې په لاس کې لري او د تېرو پېښو پر بنسټ چمتو شوې، د بیمې د نرخپاڼې په ټاکلو کې ترې کار اخلي او د هر بیمه کېدونکي حق البیمه په بشپړ ډول د بیمې د موضوع له ګواښ سره متناسب ده، یعنې که بیمه کېدونکی د پېښې د پېښېدو د احتمال په پام کې نیولو سره، حق البیمه تر اړینې کچې کمې ورکړې، بیمه کوونکی هم د حق البیمې د کموالي په تناسب، د زیانونو د جبران لپاره لږې پیسې ورکوي. او بل دا چې، لکه څرنګه چې مو مخکې هم ترې یادونه وکړه، بیمه کوونکی له یو زیات شمېر بیمه کېدونکو سره د معاملې لوری دی؛ نو ځکه یې له دې پرته نه شو کولی، بیمه کوونکی وبولو او د همدغې معاملې په پایله کې ده، چې د دوی ترمنځ تعاوني اړیکه ټینګېږي.

نو په لنډ ډول ویلی شو، چې بیمه کوونکی، د بیمې کمپنۍ یا هغه واسطه ده، چې د مخکنۍ حق البیمې په ترلاسه کولو سره، د یو شمېر هغو بیمه کېدونکي ترمنځ زیانونه وېشي، چې سره ورته وضعیت لري. بیمه کېدونکی هغه حقیقي یا حقوقي شخص دی، چې د حق البیمې تر نامه لاندې یوه اندازه پیسې، د بیمې کمپنۍ ته ورکوي.

د بیمې موضوع: هر هغه څه، چې بیمه کېږي، د بیمې موضوع بلل کېږي.

ketabton.com - The Digital Library

**د بیمې تړون:** د اجرې یا حق الزحمې په بدل کې د زیانونو خطر منل یا د درېیم شخص د ژمنتیا ترسره کېدنې ته د بیمې تړون وايي. باید یادونه وکړو، چې د بیمې تړون او شرایط د هغه لیکلي سند پربنسټ ترسره کېږي، چې د بیمه لیک یا د بیمې پالیسۍ (تګلارې) په نامه یادېږي.

**د بیمې حق:** هغه ټاکلی اجره یا حق الزحمه ده، چې بیمه کېدونکې شخص یې شرکت ته ورکوي. باید یادونه وکړو، چې د بیمې نرخ یا د بیمې حق، د احتمالاتو او احصاییې د حساب پر بنسټ، ټاکل کېږي.

نن ورځ بیمه بېلابېلې او پراخې څانګې په بر کې نیسي. د ارزښت او اهمیت په اړه یې همدومره بسنه کوي، چې ووایو، اوسمهال په نړۍ کې داسې صنعت نشته، چې پر بیمې متکي نه وي؛ د بیمې موسساتي کارکوونکي د نړۍ په لر او بر کې د خلکو اړتیاوې پوره کوي او په ساتنه او امن کې یې مرسته کوي. بیمه په پرمختللو هېوادونو کې د سوداګرۍ له مهمو څانګو څخه ګڼل کېږي.

### د بیمې وېشنه

موږ کولی شو، بیمې له بېلابېلو اړخونو څخه ډلبندي کړو. ځکه د بیمې لمنه پراخه او هغه پېښې چې ممکن رامنځته شي هم زیاتې دي. یو له دغو وېشنو او ډلبندیو څخه د بیمې وېش پر اختیاري یا خصوصي او ټولنیزو یا اجباري بیمو باندې دی، چې دواړه یې په یو هېواد کې د خلکو اړتیاوو ته ځواب وايي.

لکه څرنګه چې پوهېږئ ټولنیزه بیمه اجباري ده. دولتونه په ځېنو بیمو کې، د یو شمېر لاملونو له امله، چې موخې یې له اقتصادي پلوه، د ټولنې د ټیټو طبقو لپاره د اقتصادي امنیت او ساتنې رامنځته کول دی په یو لړ مسایلو لکه: د کورنۍ د مشر ناروغي، کمزورتیا، له کاره لوېدنه، زړښت، بېکارۍ، ناطبیعي مړینې او داسې نورو کې دخالت کوي او په دې توګه بیمې په خپل انحصار کې راولي.

**د بېلګې په توګه:** د دولت د کارکوونکو بیمه، د دغه ډول اجباري بیمو یوه کره بېلګه ده. د یادونې وړ ده، چې نورې بیمې هم له ځانه سره ټولنیزې اغېزې لري، خو دلته د دغه ډول بیمو لپاره ځکه د ټولنیز لفظ کارول کېږي، چې یادې بیمې په مستقیمه توګه د دولت له خوا رامنځته او مدیریت کېږي. یادې بیمې د قانون پر بنسټ رامنځته کېږي او اجباري ده، چې هر کارګر او کارکوونکی خپل د بیمې حق ورکړي. باید ووایو، چې په ټولنیزو خطرونو کې د دولت مداخله ورځ تر بلې زیاتېږي او ورسره د ټولنیزې بیمې لمنه هم پراخېږي. ټولنیزې بیمې د هېواد پراخې طبقې او پرګنې په بر کې نیسي. د ټولنیزو بیمو اجباریتوب له دې امله دی، چې کارګران د بیمې د

ketabton.com - The Digital Library

اخیستلو وس نه لرى او د بيمې شرکتونه يې هم بيمه کولو ته چندان لېوالتيا نه ښيي، نو دا د دولت دنده ده، چې په سر کې د هېواد مولده طبقه او ورپسې د ټولنې ټولې محرومې طبقې، د احتمالي خطرونو پر وړاندې اجباري بيمه او په دې توګه يې ملاتړ او ساتنه وکړي. د خصوصي بيمو په اړه بايد څرګنده کړو، چې دغه بيمه اختياري ده او د ټولنيزو بيمو په شان پکې د جبر عامل دخالت نه لري او بيمه کېدونکي يې په خپله خوښه او په اختياري توګه غړيتوب ترلاسه کوي، چې د باروړونکي، اور اخيستنې، پېښې او د عمر بيمې د دغه ډول بيمو له ښکاره بېلګو څخه ګڼل کېږي.

خصوصي بيمې د مقررو او شرايطو له مخې پر دوو برخو سمندري او ځمکنيو بيمو باندې وېشل کېږي. د سمندري بيمې، تاريخي مخينه نسبتا زياته ده او خپلې چارې د ځانګړو نړيوالو مقررو او قواعدو پر بنسټ سمبالوي. د خصوصي بيمې بل ډول، ځمکنۍ بيمه ده، چې د عمر، حريق، پېښو (حادثاتو)، حقوقي مسووليت او داسې نورې بيمې، په ډله کې شمېرل کېږي. ځمکنۍ بيمې هم پر دوو برخو يانې اشخاصو او آشياوو باندې وېشل کېږي. د اشخاصو په بيمه کې، بيمه کېدونکى شخص دى، لکه د عمر او پېښو بيمه، خو د شيانو په بيمه کې، بيمه کېدونکى شى دى، لکه: د حريق، موټرو او داسې نورو بيمه. د اشخاصو له بيمې سره د شيانو بيمه، چې د ډمر لرونکو مالونو د بيمې په نامه هم يادېږي، توپير په دې کې دى، چې په ياده بيمه کې موخه د زيان جبران دى، په داسې حال کې، چې د اشخاصو په بيمه کې، اصلي موخه د زيان جبران نه، بلکې تر ټولو عمده موخه يې سپما او د پانګې ترلاسه کول دى.

**مستقيمې او نا مستقيمې بيمې:**

پر مستقيمو او نامستقيمو بڼو د بيمې د وېش په اړه بايد ووايو، که د بيمې تړون په داسې بڼه وي، چې هغه زيانونه جبران کړي، چې په مستقيم ډول بيمه کېدونکي ته اوښتي وي، نو د مستقيمې بيمې په نامه يادېږي، خو که چېرې بيمه کوونکي هغه زيانونه تضمين کړي، چې د بيمه کېدونکى د کړنې په پايله کې دريېم شخص ته اوړي او بيمه کېدونکى يې د جبران مسوول وي، نو دغه بيمې ته، نامستقيمه بيمه ويل کېږي، چې د آسانتيا لپاره ورته د مسووليت بيمه هم وايي.

د مستقيمې بيمې له ډلې څخه کولى شو، د بېلګې په توګه له هغه چا څخه يادونه وکړو، چې د پېښو پر وړاندې خپل موټر بيمه کوي او بيمه کوونکى هغه زيانونه ورته پوره کوي، چې موټر ته يې اوړي او يا د عمر بيمه، چې د پانګې د ارزولو په صورت کې پاتې کسانو ته ورکول کېږي، خو د موټر د حوادثو د مسووليت بيمه، هغه زيانونه جبرانوي، چې د بيمه شوي موټر په وسيله، دريېم شخص ته اوړي او دغه بيمې ته نامستقيمه بيمه هم وايي.

ketabton.com - The Digital Library

**د لومړي څپرکي د مطالبو لنډيز**

ډېری کارپوهان پر دې باور دي، چې بیمه د ((بیم)) له کلمې څخه د ډار په معنا اخیستل شوې ده. بیمه داسې یو علم دی، چې یو کس یا مال یې له هر راز خطر او زیان سره مخامخېږي، نو د دغې چارې د ځانګړي سمبالوونکو شرکتونو او موسسو له خوا د ټاکلي حق په ورکړې سره زیانمن ته رامنځته شوی زیان جبرانېږي.

بیمه هغه وسیله ده، چې خلک کولی شي په مرسته یې، دوی ته اوښتي زیانونه، هغو موسسو ته ولېږدوي، چې د دغو خطرونو او زیانونو د اخیستلو ژمنه یې کړې ده. له بیمې څخه بېلابېل تعریفونه وړاندې شوي، چې ځینې یې په لاندې توګه دي:

"بیمه هغه تړون ته ویل کېږي، چې له مخې یې، بیمه کوونکی پر دې ځان مکلف بولي، چې د بیمې د هغه حق په بدل کې، چې له بیمه کېدونکي څخه یې ترلاسه کوي، نوموړی د احتمالي ګواښونو او زیانونو پر وړاندې بیمه کړي."

په هر صورت، هغه څه، چې په دې برخه کې د یادونې وړ دي، دا دي، چې بیمه کوونکی له یو ډېر شمېر بیمه کېدونکو سره د معاملې لوری یا طرف دی او له ټولو څخه  د بیمې حق ترلاسه کوي او لکه څرنګه، چې مو مخکې هم یادونه وکړه، د بیمه کېدونکي پر وړاندې د خپلو ژمنتیاوو د ترسره کولو ترڅنګ، د احصایې او امارو له احتمالاتو څخه په ګټه اخیستنې سره یوه اندازه عادلانه ګټه هم ترلاسه کوي.

بیمه کوونکي د بیمې کمپنۍ ته ویل کېږي.

بیمه کېدونکی هغه حقیقي یا حقوقي شخص دی، چې د حق البیمې تر نامه لاندې یوه اندازه پیسې، د بیمې کمپنۍ ته ورکوي.

د بیمې موضوع: هر هغه څه، چې بیمه کېږي، د بیمې موضوع نومول کېږي.

د بیمې تړون: د اجرې یا حق الزحمې په بدل کې د زیانونو د خطر منل یا د درېیم شخص د ژمنتیا ترسره کېدنې ته د بیمې تړون وایي. باید یادونه وکړو، چې د بیمې تړون او شرایط د هغه لیکلي سند پربنسټ ترسره کېږي، چې د بیمه لیک یا د بیمې تګلارې په نامه یادېږي.

د بیمې حق: هغه ټاکلي اجرې یا حق الزحمې ته ویل کېږي، چې بیمه کېدونکي یې د بیمې کمپنۍ ته ورکوي.

موږ کولی شو، بیمې له بېلابېلو اړخونو څخه ډلبندي کړو. یو له دغو وېشنو او ډلبندیو څخه پر اختیاري یا خصوصي او ټولنیزو یا اجباري بیمو، د بیمې وېشنه ده. ټولنیزه بیمه اجباري ده، چې د دولت په انحصار کې وي. د بېلګې په توګه: د دولت د کارکوونکو بیمه. د خصوصي بیمو په اړه

ketabton.com - The Digital Library

باید څرګنده کړو، چې دغه بیمه اختیاري ده او د ټولنیزو بیمو په شان پکې د جبر عامل دخالت نه لري، چې د باروړونکي، اور اخیستنې، پېښې او د عمر بیمې د دغه ډول بیمې له ښکاره بېلګو څخه ګڼل کېږي.

پر مستقیمو او نامستقیمو باندې د بیمې د وېش په اړه باید ووایو، چې په لومړۍ ډول کې هغه زیانونه جبرانېږي، چې په مستقیم ډول بیمه کېدونکي ته اوړي او په دویم ډول کې، هغه زیانونه جبرانېږي، چې د بیمه کېدونکي د حوادثو او کړنو په پایله کې درېیم کس ته اوړي.

ketabton.com - The Digital Library

**د لومړي څپرکي پوښتنې:**

۱- بیمه له کومې کلمې څخه اخیستل شوې او څه معنا ورکوي، واضح یې کړئ؟

۲- بیمه څرنګه عمل دی، توضیح یې کړئ؟

۳- بیمه تعریف کړئ ؟

۴- په بیمه کې د احتمالاتو او احصایې ونډه بیان کړئ؟

۵- بیمه کوونکی څوک دی، په اړه یې خپل معلومات ولیکئ؟

۶- د بیمې موضوع بیان کړئ؟

۷- د بیمې د تړون په اړه خپل معلومات ولیکئ؟

۸- ټولنیزه یا اجباري بیمه، څرنګه بیمه ده، واضح یې کړئ؟

۹- خصوصي یا اختیاري بیمه څرنګه بیمه ده، خپل معلومات ولیکئ؟

۱۰- مستقیمې او نامستقیمې بیمې له یو بل سره څه توپیر لري؟

ketabton.com - The Digital Library



# په نړۍ او افغانستان کې د بیمې تاریخچه

**تولیزه موخه:**
د بیمې د رامنځته کېدو څرنګوالي؛ په نړۍ او زموږ په هېواد کې یې تکاملي بهیر.

**دزده کړې موخې:** د دغه څپرکي په مطالعې سره به زده کوونکي پر دې وتوانېږي چې:

۱- د بیمې د تاریخي بهیر په اړه معلومات ورکړي.

۲- د بیمې د لومړني ډول د جوړېدو له بهیر سره اشنا شي.

۳- د حریق او عمر د بیمو د جوړېدو له بهیر سره اشنا شي.

۴- د ټولنیزو بیمو د رامنځته کېدو لاملونه بیان کړي.

۵- په هېواد کې د بیمې له لومړنۍ موسسې او د فعالیتونو له څرنګوالي سره یې اشنا شي.

**په نړۍ کې د بیمې تاریخچه:**

هغه بنسټیزه مسله، چې انسانان د خپل پیداېښت له مهاله ورسره مخامخ دي، د امنیت موضوع ده؛ څکه طبیعي افتونه، پېښې او حوادث هغه څه دي، چې د ځمکې د کرې پرمخ د بشر د پیداېښت له لومړنیو وختونو او دورو څخه موجود وو او ان اوس مهال، چې انسان د تمدن له

ketabton.com - The Digital Library

لوړو درجو څخه برخمن دی او د علم او پوهې په بېلابېلو برخو کې د پام وړ لاسته راوړنې لري او د نن ورځې ساینسي او ټکنالوژیک پرمختګونه هم زیاترو ستونزو ته په ښه توګه ځواب وایي، خو بیا هم لیدل کېږي، چې یو شمېر طبیعي پېښې او افاتونه، د انسان ځاني او مالي امنیت ته ګواښ پېښوي؛ په ډېر لږ سوچ سره، د یادو پېښو په لسګونه خاطرې زموږ د ذهن انځور ګرځي.

نو انسان د خپل پیدایښت له مهاله بیا تر ننه پورې، تل په دې فکر او سوچ کې و، چې د خپل ځان او مال د ډاډمن امنیت د ټینګښت په موخه، مناسبې لارې چارې ولټوي، چې همدغې مسئلې، د بیمې د رامنځته کېدو لپاره لارې هوارې کړې. ټول په دې باور دي، چې بیمه په خپله رښتینې معنا د لومړي ځل لپاره، د بېړۍ چلولو او سمندري غلو د ګواښونو پر وړاندې د سوداګرۍ د ملاتړ په موخه رامنځته شوه. یعنې بیمه د سوداګرۍ او بېړۍ چلولو له دورې سره هم مهاله ده. باید یادونه وکړو، چې سوداګري په څوارلسمه پېړۍ کې په روم او یونان کې د پور اخیستنې په برخه کې له یو لړ ستونزو سره مخ وه؛ ځکه سود خوړل، په مسیحي دین کې حرام و او پانګه وال دې ته چمتو نه وو، چې له ګټې پرته چا ته پور ورکړي او له ګټې پرته خپله پانګه له ګواښ سره مخ کړي، په داسې حال کې، چې د ګټې په اخیستلو سره، دې ته چمتووو، چې پور ورکړي. له بلې خوا سوداګرو هم نه شوای کولی، چې له پور اخیستنې پرته خپلو عادي ورځنیو چارو ته دوام ورکړي. په دې توګه دغه اړتیا د دې لامل شوه، چې دوی له یوې داسې کړنلارې څخه کار واخلي، چې هم د کشیشانو له ګواښ څخه په امن کې وي او هم خپلې موخې ته ورسېږي. دغه کړنلاره، د شرط له مخې د پور ورکړه وه، چې په ۱۳۴۷ مېلادي کال کې د رومیانو ترمنځ دود شوه.

د شرط له مخې د پور ورکړه، د هغو ګواښونو په کچه کې ټیټوالی راوست، چې د پېښېدو اټکل یې ډېر و؛ لکه که بېړۍ ډوبه شي او یا بېرته ساحل ته و نه ګرځي او یا دا چې پور اخیستونکی له افلاس سره مخ شي او داسې نور. دغه شرط په دې ډول و، که بېړۍ ډوبېده او یا د سمندري غلو تر برید لاندې راتله او بېرته ساحل ته نه ګرځېده، نو پور ورکوونکی به د خپل پور له غوښتنې څخه تېرېده، خو که چېرې بېړۍ بېرته روغه ساحل ته راګرځېده، پور اخیستونکی به د پور پر پیسو سربېره یوه اندازه نورې پیسې د پور د تضمین حق په توګه هم پور ورکوونکي ته ورکولې، نو په دې توګه د احتمالي ګواښونو او زیانونو پر وړاندې یې ساتنه کېده.

پور ورکوونکي به له هغې ګټې څخه هم، ګټه اخیستله، چې پر پور اخیستونکی به یې اېښودلې. یاد تړونونه په حقیقت کې د نن ورځې د بېړۍ چلولو د تړونونو بنسټ جوړوي.

لکه څرنګه، چې لیدل کېږي، سمندري بیمه د بیمې تر ټولو پخوانی ډول ګڼل کېږي، چې خپل ژوند له بیمې سره یوځای پیلوي او په لومړي ځل په اوولسمه پېړۍ کې د ایټالیا په بندرونو کې د دغه ډول بیمې تګلارې صادرې شوې. ایټالیایي سوداګرو دغه بیمه په تدریجي ډول، په انګلستان کې دود کړه او په دې توګه د لویدز مشهوره قهوه خونه د سوداګرو، د بېړیو د خاوندانو او هغو

ketabton.com - The Digital Library

کسانو ترمنځ د راکړې ورکړې پر مرکز بدله شوه، چې د نړیوالې سوداګرۍ چارې یې پر مخ وړلې. په لندن کې هم د سمندري بیمې تګلاره وغوړېده، خو باید یادونه وکړو، چې دلته دغه چاره د فردي بیمه کوونکي له خوا ترسره کېده. په همدغو قهوه خونو کې و، چې د اوولسمې پېړۍ په پای کې، د بیمې تړون د تنظیم او د سیندونو او سمندرونو د احتمالي خطرونو پر وړاندې د غرامت د ورکړې موضوع ته پاملرنه وشوه او داسې کړنلارې رامنځته شوې، چې د هغه مهال د دودونو او عاداتو په څېر ډېر ژر معمول او دود شوې، او په دې توګه د بېړیو هغه مالکان چې د بیمې اخیستلو لېوالتیا یې درلودله، د یو ځانګړي فورم له مخې به یې خپل وړاندیزونه د بیمه کوونکو غوږ ته رسول، هغه کسان، چې د دغو خطرونو منلو ته چمتو وو،د فورم په پای کې به یې خپل نوم او د ریسک هغه کچه لیکله، چې دوی یې د منلو وړتیا لرله.

د لویدز قهوه خونه، د بیمې په تاریخ کې نړیوال شهرت لري، چې موږ کولی شو، د سوداګرۍ د ترټولو پخواني مرکز په نامه یې ونوموو او هم یې په نړۍ کې د بیموي سترو موسسو بنسټ وګڼو. د تاریخي شواهدو له مخې، د جرمني په شمالي ښارونو لکه هامبورګ کې هم ځېنې ځانګړي دفترونه، لکه د اور او ښاروالیو په نامه رامنځته شول. دغې ادارې به د کورونو له خاوندانو څخه د کلنۍ ونډې تر نامه د یوه اندازه پیسو په ترلاسه کولو سره، د حریق پېښو د رامنځته کېدو پرمهال رامنځته شوی زیان جبراناوه.

په ۱۶۶۶ میلادی کال په لندن ښار کې د اورلګېدنې یوه لویه پېښه رامنځته شوه؛ یاد اور څلور ورځې دوام وموند، چې په پایله کې یې ۱۳۰۰۰ کورونه، ۷۰ کلیساګانې او ۴۰۰ کوڅې یو مخ له منځه ولاړې. د اورلګېدنې دغه پېښه په واقعیت کې، د اورلګېدنې د بیمې د پراختیا لپاره یوه ستره انګیزه وه، خو دا هم باید له پامه ونه غورځوو، چې د اورلګېدنې بیمې د پراختیا چارې د هغه مهال خلکو د یو لړ باورونو له امله ټکنۍ شوې؛ څکه دغه مهال خلک پردې باور وو، چې د اورلګېدنې بیمه په خپله د حریق پېښې د زیاتوالي لامل ګرځي، چې دغه لړۍ تر ۱۹ پیړۍ پورې دوام پیدا کړ.

تر دې وروسته، په انګلستان، متحده ایالاتو او د نړۍ په نورو برخو کې د سوداګرۍ پراختیا بېرته دا باور راژوندی کړه، چې د حریق د بیمې ګټې زیاتې دي، ان تر دې حده، چې له هغه پرته د نوي صنعت پراختیا او پرمختیا هم ناشونی برېښي. لکه څرنګه، چې یادونه وشوه، د بیمې په تاریخ کې، سمندري بیمه تر ټولو لومړنۍ او پخوانۍ بیمه ده، چې د خپل وخت د زیاترو سوداګریزو ټولنو د پاملرنې وړ وګرځېده، ورپسې د عمر بیمه دود شوه. د دغې بیمې د پیداښت لوی لامل دا و، چې هغه مهال به مریيانو هم خپلو خاوندانو ته د سوداګریز مال په څېر ارزښت درلوده، څکه د نورو مالونو او توکو په شان له یوه بندره بل بندر ته انتقال او خرڅلاو ته وړاندې کېدل، نو طبیعي وه، چې مړینه به یې د خاوندانو لپاره مالي زیان و، پر دې بنسټ د مړینې دغه

ketabton.com - The Digital Library

خطر، لکه د بېړۍ د نورو محصولاتو د زیانونو په شان بیمه کېده، چې بالاخره په شپاړلسمه پېړۍ کې د بېړۍ د نورو مسافرو لپاره هم د بیمه کوونکو له خوا د عمر بیمه دود شوه.

د عمر د بیمې تر ټولو لومړنی تړون، چې په اړه یې کافي معلومات په لاس کې شته، پر ۱۵۸۳ کال په انګلستان کې لاسلیک شو. د یادونې وړ ده، چې په فرانسه کې د عمر بیمې ته په بل ډول کتل کېدل، هغه دا چې، په دغه هېواد کې خلک په دې باور وو، چې د عمر بیمه د فساد، درغلۍ او د قتل د تشویق لامل ګرځي، نو ځکه په دغه هېواد کې منعه شوې وه. په هر حال، د عمر بیمې تر ۱۵۸۳ کال وروسته، په رسمي توګه عملي بڼه پیدا کړه، چې په انګلستان کې د عمر د بیمې د لومړني تړون د رامنځته کېدو او سمبالښت چارې ډېرې په زړه پورې دی. هغه دا چې، د ۱۵۸۳ کال د جون پر ۱۸ مه نېټه یو تن د ویلیام ګیبونز په نامه، د ۳۸۳ پونډ و ۶ شلینګ و ۸ سنتو په بدل کې، ځان د ۱۲ میاشتو لپاره بیمه کړ.

نوموړي د ۱۵۸۴ کال د مي په ۲۹ مه نېټه مړ شو، نو بیمه کوونکو له تړون سره سم باید د هغه د عمر بیمه ورکړې وای، خو هغوی ادعا کوله، چې د بیمې د تړون موده د نوموړي تر مړینې مخکې پای ته رسېدلې ده خو باید یادونه وکړو، چې هغه مهال په دې برخه کې د مدونو او بشپړو قوانینو نشتوالی، د دې لامل ګرځېدلی و، چې د یاد چل تشخیص او حقایقو ته رسېدنه ستونزمنه شي.

په انګلستان کې د عمر د بیمې لومړنی شرکت پر ۱۷۰۶ میلادي او په سویس کې پر ۱۸۴۰ میلادي کال رامنځته شو. د یادونې وړ ده، چې د اوولسمې پېړۍ د ریاضي علم پوهانو د احتمالاتو له علمي کړنلارې څخه په ګټه اخیستنې، د عمر بیمې له پراختیا او پرمختګ سره زیاته مرسته وکړه؛ د بیمې د هغه مهال شرکتونو به د احتمالاتو او محاسبې بودیجې د پراختیا او تنظیم او د مړینې تابلو د چمتو کولو په برخه کې، د یادو ریاضي پوهانو له علمي کړنلارو څخه زیات کار اخیسته، چې له هغو پرته، د هغه مهال د عمر د بیمې پرمختګ او وده کېدونی نه وه. په نولسمه پېړۍ کې په فرانسه کې د ماشین جوړونې نهضت رامنځته او پراختیا موندده. په داسې بڼه، چې ورځ تر بلې د موسسو په شمېر او کچه کې زیاتوالې رامنځته کېده، چې ورسره جوخت، په یادو موسسو کې د کارکوونکو په شمېر او تراکم کې هم د پام وړ زیاتوالی راغی. طبیعي خبره ده، چې په صنعتي تولیدي موسسو کې کار له غیرمترقبه پېښو او د کارګرانو له زیانمنېدو سره مل وي، نو ځکه د کارګرانو د غړو نقص او زیانونه هم مخ په زیاتېدو شو. د کار خاوندانو د همداسې پېښو او ان د کارګرانو د مړینې په تړاو د مسوولیت احساس وکړ، او له بلې خوا دولتونه په دې برخه کې هم بې تفاوته پاتې نه شول او د کار خاوندان یې تر فشار لاندې راوستل، چې د همداسې پېښو د رامنځته کېدو په صورت کې کارګرانو ته تاوان ورکړي. د فرانسې دولت پر ۱۸۹۸ کال او د انګلستان دولت پر ۱۹۰۶ مېلادي کال، د کارګرانو د مړینې، له کاره لوېدو او تقاعد بیمې رامنځته او په دې

ketabton.com - The Digital Library

برخو کې يې قوانين تدوين کړل. دغه ټولنيز تامين ورو ورو پراخ او د ټولنې ټولې طبقې يې په بر کې ونيولې. د تاريخي شواهدو له مخې، په لومړي ځل د جرمني د لومړي وزير پيزمارک د واکمنۍ پر مهال اجباري بيمه رامنځته شوه، چې هغه مهال د ناروغۍ او زړښت خطرونه پکې بيمه شول.

پر ۱۸۱۸ مېلادي کال، د جرمني امپراتور پارلمان ته يو ليک ولېږه، چې پکې د کارګرانو پر هوساينې او توحيد ټينګار شوی و. همدارنګه د ياد ليک په ترڅ کې، د صنعتي حوادثو پر وړاندې د کارګرانو د بيمې د لايحې ترڅنګ، د کار له امله د رامنځته کېدونکو ناروغيو پر وړاندې د کارګرانو د ساتنې او حفاظت لپاره د يو ټوليز سازمان د رامنځته کېدو د وړانديز تصويب غوښتنه هم شوې وه. په دغه پيغام کې، د زړښت يا د غړو له لاسه ورکولو له امله د کارګرانو د ناکاره کېدو او له کاره لوېدو ته زياته پاملرنه شوې وه. له ۱۸۸۳ تر ۱۸۸۹ کلونو پورې په دې اړه بېلابېل قوانين تصويب شول، چې په واقعيت کې په يادو هېوادونو کې د ټولنيزې بيمې بنسټ ګڼل کېږي.

پر ۱۹۱۱ کال په امريکا کې د کارګرانو د تاوان (غرامت) قانون تصويب شو. همدارنګه د ښارونو په پراخېدو، د سړکونو په جوړېدو او د ګاډي له اختراع سره د انساني تلفاتو کچه هم زياته شوه، چې دې په خپله د بيمې د ساحې له پراخېدو سره مرسته کوله، په دې توګه د موټرو او ګاډو بيمه کول په زياترو هېوادونو کې اجباري شول. د يادونې وړ ده، چې تر ۱۹ پيړۍ وروسته، د سوداګرۍ په صنعت کې د فعاليتونو د ساحې له پراختيا، د اختراعاتو، نويو موندنو، علمي پرمختياوو او لاسته راوړنو سره جوخت، د بيمې د ساحې لمنه هم پراخه شوه. د شخصي حوادثو، غلاوې، روغتيايي، انجنيري، د عامه مسووليت، جګړو او لاريونونو، د مستهلکينو پر وړاندې د توليدي شيانو په تړاو د توکو د مسووليت او دې ته ورته د بيمې په لسګونه نور ډولونه رامنځته او د هرې ورځې په تېرېدو سره يې ارزښت او اهميت لا پسې زياتېده او ورو ورو د بيمې شرکتونو د پام وړ پرمختګونو پر لور ګامونه واخيستل. بيمه کوونکي دې ته ورسېدل، چې د خطرونو نه بيمه، نه يوازې د تړون دواړه لوري له ستونزو سره مخ کوي، بلکې په ټوليزه توګه د ټولنې ټولو برخو ته زيان اړوي؛ ځکه د بېلګې په ډول، په يوه فابريکه کې اورلګېدنه، د فابريکې د بندېدو، د کارګرانو د بېکارۍ او د نورو اقتصادي او ټولنيزو زيانونو لامل ګرځي. سربېره پر دې، د بيمې شرکتونه دغه موضوع هم درک کړه، چې داسې ځانګې هم شته، چې د دوی د مالي او اداري واک او ځواک له دايرې څخه بهر دي او بايد د دولت د دندو په ډله کې وشمېرل شي، چې ټولنيزې بيمې په همدغه ډله کې راځي. اوسمهال د بيمې شرکتونه هڅه کوي، چې د ساتنې او امن کېدو له اړخه، د وګړو او موسسو اړتياوې پوره او په بېلابېلو ځانګو کې نفوذ ولري.

ketabton.com - The Digital Library

**په افغانستان کې د بیمې تاریخچې ته یوه کتنه:**

په افغانستان کې په لومړي ځل پر ۱۳۴۲ کال د هېواد د اقتصادی اړتیاوو په پام کې نیولو سره، د یوې افغاني بیمې طرحه رامنځته شوه او په دې توګه د (افغان بیمه) تر سرلیک لاندې په دې برخه کې لومړنۍ افغاني موسسې په کار پیل وکړ. لکه څرنګه، چې تر هغه مهاله په هېواد کې د همداسې یو اقتصادي او خدماتي ارګان د رامنځته کېدو وړاندوینه نه وه شوې، پر دې بنسټ د وخت دولت، د دغه اختصاصي فعالیت د پرمخ بیولو لپاره د داسې فني کارکوونکو او پرسونل د چمتو کولو په برخه کې پاتې راغی، چې وکولی شي، دغه چاره پر مخ بوځي. له دې امله، د یوې بهرنۍ کمپنۍ په لټه کې شول، ترڅو د دغه ارګان له اداري او تخنیکي منجمنټ سره مرسته وکړي؛ په دې توګه یې اروپا ته یو پلاوی ولېږه، یاد پلاوي په انګلستان کې د ګارډین رایل اکسچینج په نامه د بیمې له شرکت سره یوه هوکړه لیک لاسلیک کړ، چې له مخې به یې په ۱۵ میلیونه لومړنۍ پانګه په ۴۹ سلنه انګلیسي او ۵۱ سلنه افغاني ونډه په کابل کې د بیمې د یو شرکت بنسټ کېږدي.

دغه شرکت د یو خصوصي انتفاعي شرکت په توګه، د ۱۳۴۳ کال په وري میاشت کې پر خپلو فعالیتونو پیل وکړ. لکه څرنګه، چې د افغان بیمې په پروتوکول کې یادونه شوې وه، سوداګرۍ وزارت، له شریکې کمپنۍ او د افغان بیمې له سهم لرونکي څخه غوښتنه وکړه، تر هغه چې افغان کارکوونکي په دې برخه کې زده کړې او مهارتونه نه وي ترلاسه کړي، نو د شرکت چارې دې د بهرنیو متخصصینو له خوا اداره شي. لکه څرنګه، چې یاد موردونه، د ۱۹۶۳ کال د اکتوبر د ۲۱ مې نېټې په هوکړه لیک کې ذکر شوي وو او په دې توګه د ګارډین کمپني خپل دري تنه مسلکي کارکوونکي د افغان بیمې په شرکت کې پر دندو وګومارل او تر هغه یې په یاد شرکت کې دنده ترسره کړه، چې افغان کارکوونکو نور کولی شواې، په یاده برخه کې کافي مهارت او کفایت ترلاسه او د شرکت مدیره پلاوی یې له کړنو څخه تصدیق وکړي.

د یادونې وړ ده، چې هغه مهال د بیمې شرکت د خصوصي شرکت بڼه درلوده او منجمنټ یې د بهرنیانو په لاس کې ؤ؛ پر دې بنسټ، زیاته ګټه او عواید یې هم بهرنیو سهم لرونکو ته رسېده، ترڅو چې پر ۱۳۵۵کال د بیمې د لومړني قانون په جوړېدو سره د انګلیسانو ونډه هم د افغاني ونډه لرونکو له خوا واخیستل شوه، په دې توګه، انګلیسي استازی چې تر دغه مهاله، د موسسې منیجر و، د تخنیکي مشاور په توګه وټاکل شو. تر دې چې دغه مشاوریت هم پر ۱۳۵۷ کال له منځه ولاړ.

په ۱۳۵۸ کال کې د بیمې نوی قانون نافذ شو او د افغان بیمې د سهامي شرکت نوم د افغان بیمې ملي شرکت شو. پر همدې کال یادې موسسې خپل اتکایي بیمه افر ته وړاندې کړه، چې په پایله کې د وخت شوروي د انکوستراخ د بیمې شرکت په مساعدو شرایطو د افغان ملي بیمې افر ومانه، په دې توګه له انګلیسانو سره د افغان ملي بیمې تړونونه فسخ او له پخواني شوروي سره

ketabton.com - The Digital Library

منعقد شول او د کمیشنونو نرخ یې کال په کال زیات شو. همدارنګه د ګاډو او سوداګریزو مالونو د اورلګېدنې د پېښو په فعالیتونو کې د موسسې د ساتنې ونډه هم له کمې پلوه لوړه شوه، چې له دغه مدرکه، د موسسې په عوایدو کې د پام وړ زیاتوالی راغی او په کورنیو او بهرنیو اسعارو کې یې بیموي زېرمې د ډاډ تر بریده ورسېدې. پر دې بنسټ، د افغان ملي بیمې موسسه له ۱۳۶۹ کاله راوروسته، د بیمې د یوې موسسې په توګه رامنځته او په نړیوال ډګر کې یې خپل پرستیژ ترلاسه کړ. همدا راز د موسسې لومړنۍ پانګه له ۱۵ میلیونو افغانیو څخه ۷۵ میلیونو ته لوړه شوه او د نولسو شخصي ونډه لرونکو ونډه یې هم واخیستل شوه، په دې توګه، خصوصي شرکت، په یوه ملي خدماتي انتفاعي شرکت باندې بدل شو.

افغان ملي بیمه پر ۱۳۵۹ کال د ښې مالي وضعې په درلودلو سره، یوونیم میلیونه، چې د پنځه لکو امریکایي ډالرو معادل و، د اتکایي بیمې په برخه کې پانګونه وکړه او دغه مهال یې له اتکایي بیمې څخه د فعالیتونو د قبلېدو شونتیا کال په کال زیاته کړه.

د افغان ملي بیمې موسسه د خپل پرسونل او کارکوونکو د روزنې په برخه کې زیاته هڅه وکړه او په دې توګه یې د هندي چارواکو مرستې راجلبې کړې. د دغو مرستو په لړ کې، تراوسه پورې د بیمې یو شمېر مامورین د هندوستان هېواد له روزنیزو بورسونو څخه ګټه اخیستې؛ همدارنګه یې د بیمې په نړیوالو سیمینارونو کې هم برخه اخیستې ده. له ۱۳۵۸ کال څخه وروسته د افغان بیمې ملي شرکت، د بهرنیو بیمو د سروې په نامه یوه نوې څانګه رامنځته کړه، چې د سروې خدمتونو، د موسسې عواید څو برابره زیات کړل او د اسعارو له وتلو څخه یې هم مخنیوی وکړ. افغان ملي بیمه تر اوسه پورې یوه دولتي خدماتي موسسه ده، نه خصوصي انتفاعي. دغه موسسه هڅه کوي، د اورلګېدنو، زلزلې، چاودنو، سېلاونو په پایله کې د رامنځته شوو خطرونو پر وړاندې د شخصي، دولتي جایدادونو، صنعتي موسسو، کتابتونونو او داسې نورو عامه ملکیتونو د بیمه کولو له لارې، له ټولګټو او عامه تاسیساتو څخه د ساتنې او صیانت تضمین وکړي او مالکان یې له اقتصادي کمزورتیا څخه وژغوري.

دغه موسسه د کار په بهیر کې د کارګر د مصونیت بیمې په پلې کولو او د زیانونو په جبرانولو سره، له یوې خوا د کار په بهیر کې د کارکوونکو او کارګرانو پر وړاندې د کارخانو، موسسو او شرکتونو د مالکینو مسوولیت جوتوي او له بلې خوا کارګر او یا وارث ته یې، چې د کار پرمهال د ناڅاپي پېښو له امله زیانمن یا خپل ژوند یا د خپل بدن کوم غړی له لاسه ورکوي، ټولنیز خدمتونه برابروي.

همدارنګه افغان ملي بیمه د موټرو بیمې په وړاندې کولو سره، په ځانګړې توګه د درېیم کس پر وړاندې د ګاډي د بیمې په تطبیق سره به خلکو ته تر ټولو ستر خدمت ترسره کړي. ځکه له یوې خوا د چلوونکي مصونیت تامینېږي او له بلې خوا هغه درېیم کس، چې په ترافیکي پېښه کې

ketabton.com - The Digital Library

زیانمن شوی، خپل ځان یا مال له لاسه ورکوي، په سمه توګه جبرانېږي. د سوداګرۍ په برخه کې باید ووایو، چې د افغان ملي بیمې د موسسې له خوا د مال التجاره او د تاوانونو ورکړه، د هېواد د ملي سوداګرو لپاره تر ټولو ښه ملاتړ او پشتوانه ګڼل کېږي. په واقعیت کې، د افغاني سوداګرو لپاره د بیمې د تګلارې درلودل، د پېرودنې په برخه کې اسانتیاوې رامنځته کوي. د اسعارو له خارجېدو څخه تر یوې کچې مخنیوي کېږي، تفاهم او خبرې اترې مخامخ صورت مومي، د مکاتبې، تلګرام او تلکس د لګښتونو په تړاو سپما صورت مومي، د زیان جبران له اضافي لګښتونو پرته حاصلېږي او په پای کې، هر وخت چې مشتري غوښتی وي، کولی شي، د خپلې بیمې په تګلارو کې بدلونونه او تعدیلونه رامنځته کړي.

باید یادونه وکړو، چې افغان ملي بیمه د هغو ټولو خدمتونو په بدل کې، چې یې وړاندې کوي، له بیمه کېدونکو او نورو اړوندو منابعو لکه کریرونو (Carrier) فروردونو (forwarders) څخه غوښتنه کوي، خپلې هغه دندې او وجیبې چې پر غاړه لري، په سمه توګه ترسره کړي، له دې پرته بیمه نه شي کولی، په یوازې سر ټول مسوولیتونه پر غاړه واخلي او غرامات ورکړي.

ښکاره ده، چې ملي بیمه د هېواد د ملي اقتصاد په پیاوړتیا او وده کې کره ونډه لري او د هېوادوالو په خدمت کې ده، نو تر هر څه مخکې د دغې موسسې د اوسنیو فعالیتونو په اړه د معلوماتو وړاندې کول، اړین برېښي، ترڅو په مخ پر ودو هېوادونو کې، چې زموږ هېواد یې هم په ډله کې شمېرل کېږي، د بیمې پر ونډې او اقتصادي ګټې رڼا واچول شي. پر ۱۹۷۲ کال د افکتاد په لومړي کنفرانس کې د دغه موضوع په تړاو څېړنه او د اتکاني بیمې د ارزښت په اړه د رایو په اتفاق پرېکړه وشوه. د دغو هېوادونو (مخ پر ودو هېوادونو) په تړاو دا نظر موجود دی، چې په یادو هېوادونو کې باید د بیمې کورني مارکیټونه پیاوړي شي، ترڅو له دغو هېوادونو څخه د اسعارو له خارجېدو څخه مخنیوی وشي.

له هغه ځایه، چې د بیمې صنعت لکه د نورو صنایعو په شان زیاتې پانګې ته اړتیا نه بلکې تخنیکي زیاتې پوهې ته اړتیا لري، نو په دغو هېوادونو کې د تخنیکي پوهې په پراختیا کې باید زیاته هڅه وشي؛ سیمینارونه او روزنیز ورکشاپونه جوړ او د مسلکي مهارتونو د زده کړې په برخه کې کوټلي ګامونه واخیستل شي. په واقعیت کې د پورتنیو موخو د ترلاسه کېدو لپاره په هر مخ پروده هېواد کې د بیمو د شرکتونو شتوالی اړین برېښي، ترڅو وکولی شي د بیمې د بهرنیو معتبرو شرکتونو په مرسته یا په یوازې سر پر دې وتوانېږي، چې د خپلو خلکو لپاره د بیمې د تضمین هر راز ملاتړ چمتو او برابر او تر ټولو مهم دا چې د بیمې قانون بشپړ او تدوین کړي، ترڅو د بیمې ګذارۍ حقوق او منابع، چې د یوه ملي سالم مارکیټ په رامنځ ته کولو کې مثبته ونډه لري، تامین شي.

ketabton.com - The Digital Library

**د دویم څپرکي دمطالبو لنډیز:**

انسان د خپل پیدایښت له مهاله بیا تر ننه پورې، تل په دې فکر او سوچ کې و، چې د خپل ځان او مال د ډاډمن امنیت د ټینګښت په موخه، مناسبې لارې چارې ولټوي، چې همدغې مسئلې، د بیمې د رامنځته کېدو لپاره لارې هوارې کړې. ټول په دې باور دي، چې بیمه په خپله رښتینې معنا د لومړي ځل لپاره، د بېړۍ چلولو او سمندري غلو د ګواښونو پر وړاندې د سوداګرۍ د ملاتړ په موخه رامنځته شوه.

لکه څرنګه، چې لیدل کېږي، سمندري بیمه د بیمې تر ټولو پخوانی ډول ګڼل کېږي، چې خپل ژوند یې له بیمې سره یوځای پیلوي او په لومړي ځل په اوولسمه پېړۍ کې د ایټالیا په بندرونو کې د دغه ډول بیمې تګلارې صادرې شوې. ایټالیایي سوداګرو په تدریجي توګه، دغه بیمه په انګلستان کې دود کړه او په دې توګه د لویدز مشهوره قهوه خونه د سوداګرو، د بېړیو د خاوندانو او هغو کسانو ترمنځ د راکړې ورکړې پر مرکز بدله شوه، چې نړیوالې سوداګرۍ چارې یې پر مخ وړلې.

د عمر بیمه تر سمندري بیمې وروسته دود شوه. د دغې بیمې د پیدایښت لوی لامل دا و، چې هغه مهال به مریيانو هم خپلو خاوندانو ته د سوداګریز مال په توګه ارزښت درلود، څکه د نورو مالونو او توکو په شان له یوه بندره بل بندر ته انتقال او خرڅلاو ته وړاندې کېدل.

د عمر لومړنۍ بیمه پر ۱۵۸۳ کال کې رامنځته شوه. په انګلستان کې د بیمې لومړنی شرکت پر ۱۷۰۶ او په سویس کې پر ۱۸۴۰ مېلادي کال په کار پیل وکړ.

د یادونې وړ ده، چې د اوولسمې پیړۍ د ریاضي علم پوهانو د احتمالاتو له علمي کړنلارې څخه ګټه اخیستنه، د عمر بیمې له پراختیا او پرمختګ سره زیاته مرسته وکړه. د حریق بیمه دربیمه مروجه بیمه ده.

د تاریخي شواهدو له مخې، په لومړي ځل د جرمني لومړي وزیر پیزمارک د واکمنۍ پر مهال اجباري بیمه رامنځته شوه، چې هغه مهال د ناروغي او زړښت د خطرونو له مخې بیمه ترسره کیده.

د یادونې وړ ده، چې تر ۱۹ پیړۍ وروسته، د سوداګرۍ په صنعت کې د فعالیتونو د ساحې له پراختیا او د اختراعاتو، نویو موندنو، علمي پرمختیا او لاسته راوړنو سره جوخت، د بیمې د ساحې لمنه هم پراخه شوه. د شخصي حوادثو، غلاوې، روغتیایي، انجنیري، د عامه مسوولیت، جګړو او لاریونونو، د مستهلکینو پر وړاندې د تولیدي شیانو په تړاو د توکو د مسوولیت او دې ته ورته د بیمې په لسګونه نور ډولونه رامنځته او د هرې ورځې په تېرېدو سره یې ارزښت او اهمیت لا پسې زیاتېده او ورو ورو د بیمې شرکتونه د پام وړ پرمختګونو پر لور ګامونه واخیستل.

ketabton.com - The Digital Library

په افغانستان کې په لومړي ځل پر۱۳۴۳ کې د يوې افغاني بيمې طرحه رامنځته شوه. د يادونې وړ ده، چې د بيمې شرکت هغه مهال، د خصوصي شرکت بڼه درلوده او منجمنټ يې د بهرنيانو په لاس کې و. په ۱۳۵۸ کال کې د بيمې نوی قانون نافذ او د افغان بيمې سهامي شرکت نوم، د افغان بيمې پر ملي شرکت بدل شو. د افغان ملي بيمه اوسمهال، يوه دولتي خدماتي موسسه ده، نه انتفاعي او خصوصي.

**د دويم څپرکي پوښتنې:**

۱- د بيمې د رامنځته کېدو زمينې په ګوته کړئ؟

۲- د بيمې فعاليت د بيمې د کوم ډول په رامنځته کېدو سره پيل شو؟

۳- تر سمندري بيمې وروسته، کوم ډول بيمه دود شوه، نوم يې واخلئ؟

۴- د اورلګېدنې بيمې د پراختيا په موخه، د ترټولو وتلې انګيزې په توګه د کومې بيمې نوم اخيستلی شو، معلومات ورکړئ؟

۵- د تاريخي شواهدو له مخې، اجباري بيمه د کوم سياستوال په دوره کې رامنځته شوه؟

۶- په افغانستان کې د بيمې لومړنۍ موسسې په کوم عنوان او په کوم کال خپل فعاليت پيل کړ؟

۷- د بيمې د لومړني قانون تر وضع کېدو وروسته، په هېواد کې د بيمې په ډګر کې کوم بدلونونه رامنځته شول؟

۸- افغان ملي بيمه دمګړۍ څرنګه موسسه ده، په دې اړه خپل معلومات وليکئ؟

۹- له اړوندو منابعو څخه د افغان ملي بيمې غوښتنه څه ده، تشريح يې کړئ؟

ketabton.com - The Digital Library



# د بیمې د تړون بنسټونه او د بیمې د موسسو ډولونه

**ټولیزه موخه:**
د بیمې د مهمو بنسټونو او د بیمې د موسسو په اړه توضیحات.

**د زده کړې موخې:** د دغه څپرکي تر مطالعې وروسته به زده کوونکي پر دې وتوانېږي، چې:

۱- ریسک او ډولونه یې توضیح کړي.

۲- د غرامت او د جبران اصل، مفهوم ترلاسه کړي.

۳- په بیمه کې، د ښه نیت درلودل د تړون له بنسټونو څخه وګڼي او معنایې درک کړي.

۴- د بیمې د سهامي شرکتونو د جوړېدو موخه بیان کړي.

۵- د بیمې د مرستندویو شرکتونو په اړه معلومات ترلاسه کړي.

۶- د بیمې مرستندوی شبیه شرکتونه وپېژني.

ketabton.com - The Digital Library

**د بیمې د تړون عمده بنسټونه:**

تر دې ځایه، په نړۍ کې د بیمې د اهمیت او ارزښت په اړه ګڼ مطالب وړاندې شول او جوته شوه، چې د نن ورځ ټولې صنعتي موسسې، د استوګنې کورونه، د پلورنځیو سوداګریز توکي او ان د نوي عصري تکنالوژۍ پدېدې، چې د فضایي ځېړنو لپاره کارول کېږي، ټول د بیمې له ملاتړ څخه برخمن دي. زموږ په هېواد کې د بیمې د موجود وضعیت په اړه به هم پر خپل ځای معلومات وړاندې کړو. ځکه له ډېرو کلونو راهیسې د عمر له بیمې پرته زموږ په هېواد کې د بیمې ټولې څانګې فعالې دي. خو د بیمې پر بنسټونو تر بحث وړاندې، اړینه برېښي، چې د ریسک د مفهوم په اړه، چې د بیمې په معاملو کې ډېره کارونه لري، یو لړ توضیحات وړاندې کړو.

**ریسک یعنې څه؟**

له یو شخص څخه بل شخص ته د ریسک انتقال ته بیمه وایي، خو په بیمه کې د ریسک اصلي موخه، مالي زیان دی. یا په بل عبارت، د پېښې د پېښېدو د اټکل له امله ده، چې د بیمې شرکت او موسسې، د بیمې د تړونونو د عقد په خاطر، د مالونو د تلف کېدو په پایله کې، رامنځته شوي زیانونه جبرانوي. ریسک له هغو خطرونو څخه جوړ دي، چې کېدای شي، شخص او یا مال يې اغېزمن کړي او د دغو خطرونو مجموع ته ریسک ویل کېږي. د ریسک د ډلبندۍ په تړاو باید ووایو، چې ریسک فزیکي یا رواني او یا هم اخلاقي اړخ لري. په فزیکي ریسکونو کې، هغه ریسکونه چې کنټرول يې د انسان له وسه بهر او په طبیعت کې وي، لکه توپان، زلزله، سېلاوونه او داسې نور په لومړۍ درجه کې راځي.

اخلاقي ریسکونه هغه ته وایي، چې رواني اړخ لري او د وګړو د تفکر د څرنګوالي زېږنده او په جرم کې شامل وي او د اخلاق کلمه ځکه ورته کارول شوی، چې ځېنې کسان په عمدي توګه د بیمې شویو مالونو په زیانمنولو لاس پورې کوي. دغه عمل صرف یوه درغلي او له اخلاقي معیارونو سره په ټکر کې واقع ده. ریسکونه د خپل اصل له مخې په درې ډوله دي، چې په لاندې توګه تشریح کېږي:

شخصي ریسکونه: هغه دي، چې پر مړینې او د رامنځته کېدو پر څرنګوالي پورې يې تړاو لري. د دې ترڅنګ، د پېښو، ناروغیو او زړښت په پایله کې د بشري وړتیا کمزورتیا او نیمګړتیا ته پاملرنه کوي.

د مالونو ریسکونه، په سمندر کې له توکو ډکې بېړۍ ډوبېدل، اورلګېدنې، تالنده او برېښنا، سېلاو، توپانونه او داسې نور طبیعي افات او ګواښونه په بر کې نیسي، چې د خلکو د مالونو لپاره د همیشنیو ریسکونو په نامه پېژندل کېږي. دربیم شخصي ریسکونه، چې د مسوولیتونو په قانون پورې اړه لري او د دریېم شخصي ریسکونو په نامه هم نومول کېږي. د بېلګې په توګه: که یو

ketabton.com - The Digital Library

شخص د موټر چلولو پرمهال، یوه لاروي ته زیان ورسوي، نو بیمه کېدونکی د غرامت مستحق کېږي نه، بلکې غرامت د بیمې د شرکت له خوا هغه دربېیم شخص ته ورکول کېږي، چې زیانمن شوی وي. د دغه څپرکي په پای کې به د خطرونو هغه ډول ته اشاره کوو، چې د بیمې شرکت یې قبلوي او پلي کوي یې.

**خو له حقوقي پلوه کولی شو، د بیمې تړون په لاندې ډول تعریف کړو:**

د زیانونو د ریسک منل، یا د اجرې یا حق الزحمې په بدل، چې حق البیمه یې هم نوموي، د دربېیم شخص هغه ژمنتیا ده، چې که بیمه کوونکی، دغه ریسک د ډېرو خلکو ترمنځ په هره بڼه او عنوان توضیح کړي، نو ورته د بیمې تړون وایي.

ښکاره ده، چې د بیمې تړون ځانګړې ځانګړنې نه لري، خو اړینه ده، چې له هغو شرایطو او فورم سره سمون وخوري، چې قانون د ټولو تړونونو لپاره په پام کې نیولی دی. په سر کې د توافق مسله مطرحه ده. د تړون د یوه لوري له خوا د تړون د بل لوري د وړاندیز منلو ته توافق وایي. همدارنګه باید په پام کې ولرو، چې تړونونه د واک لرونکو کسانو له خوا باید منعقد شي او له ارزښت څخه برخمن وي. همدا راز د فکري واک نشتوالی هم مطرح دی. ځکه غیرمسوول کسان (سفیه) له قانوني پلوه، د بیمې او سوداګریزو تړونونو د انعقاد واک نه لري.

له بلې خوا د شي د قانوني توب مسله مطرح ده؛ د بیمې هېڅ ډول تړون نه شي کولی، د نا قانونه مالونو او توکو په تړاو منعقد شي. لکه د هیرویینو په شان درمل او داسې نور. همدا راز د ورکړې ژمنتیا هم مهمه ده. ځکه هېڅ تړون معتبر او قانوني نه ګڼل کېږي، خو دا چې، یو له طرفینو څخه یوه اندازه پیسې تادیه کړي، یا د بل لوري پر وړاندې ټاکلې ژمنتیا ومني.

په پورتنیو کرښو کې د بیمې د تړون په اړه، یو لړ مطالب وړاندې شول، اوس په دې برخه کې له هغو بنسټونو څخه یادونه کوو، چې دغه تړون بنسټیز ګرځوي.

**د غرامت او جبران اصل:**

د بیمې د تړون عمده موخه دا ده، چې بیمه کېدونکی شخص د پېښې تر رامنځته کېدو او تر زیانمنېدو وروسته، باید بېرته هماغه مالي حالت ته راوستل شي، چې تر پېښې یې وړاندې درلود. بیمه کېدونکی د پېښې له امله د زیانمنېدو په صورت کې باید له ګټې پرته یوازې غرامت ترلاسه کړي. هر تړون، چې په بیمه کې بیمه کېدونکو ته له تاوان (غرامت) پرته د نورو ګټو اجازه ورکوي، د بیمې د قانون خلاف عمل ګڼل کېږي. که چېرې یو څوک خپل جایداد بیمه کړي او جایداد یې د اورلګېدنې له امله له منځه لاړ شي، د بیمې موسسه مکلفه ده، چې جایداد یې بېرته له سره ورغوي، یا یې د بیارغونې لپاره پیسې ورکړي. لکه څرنګه چې مو مخکې هم یادونه وکړه، د بیمې شرکت له تړون سره سم د تاوان له پیسو پرته، نورې پیسې چا ته نه ورکوي. یعنې زیانمن کس،

ketabton.com - The Digital Library

یوازې هماغه د تاوان پیسې ترلاسه کوي او بس. بیمه کېدونکی نه شي کولی، چې له پېښې څخه نوره مادي ګټه ترلاسه کړي. په هره بیه، چې جایداد بیمه شوی وي، نو د رامنځته شوي زیان جبران هم په تناسبي بڼه د هماغه نرخ په تناسب ورکول کېږي. بیمه کېدونکی باید د بیمې وړ ګټې ولري؛ یعنې ګټې یې د بیمې په اړه مالي او مادي اړخ ولري؛ ځکه تضمین یوازې د مالي زیانونو په وړاندې دی او هغه مهال دغه ګټې رادبره کېږي، چې شخص ته د پېښې پرمهال مالي زیانونه وراوښتي وي. د بیمې وړ ګټو د ارزښت لپاره یو برید شته، چې د پېښو د رامنځته کېدو په صورت کې د ترمیم وړ دی. همدارنګه که بیمه کېدونکی د دریېم شخص د عمل په پایله کې زیانمن شي، نو د بیمې موسسه یې تاوان ورپوره کوي او یادې پیسې له دریېم شخص، چې د زیان د رامنځته کېدو لامل ګرځېدلی او په دې برخه کې پړ ګڼل کېږي، ترلاسه کېږي.

**د ښه نیت درلودل:** لکه څرنګه چې انګېرل کېږي، د بیمې تړون باید د دوه اړخیز باور په پایله کې تنظیم شي. له همدې امله بیمه کېدونکی اړ دی، چې د ځان او د بیمې د مورد په اړه کافي معلومات بیمه کوونکي ته وړاندې کړي او د تړون د انعقاد پرمهال باید یوازې هغه شیان څرګند کړي، چې حقیقت لري. بیمه کېدونکی شخص باید د هغو مالونو او توکو په تړاو، چې یې بیمه کوي، د بیمې موسسې ته کافي او مفصل معلومات وړاندې کړي او اړین حقایق باید توضیح کړي. که په راتلونکي کې کوم داسې بدلون رامنځته کوي، چې د بیمې د خطرونو پر نوعیت اغېزې لرلې شي، باید تفصیل یې د بیمې موسسې ته وړاندې کړي. که کوم مطلب یا معلومات پټ وساتل شي یا حقیقت پټ کړي، نو د بیمې تړون فسخه کېږي.

**د بیمې له موضوع سره د لېوالتیا اصل:** د انسان ژوند، مال او یا هر هغه مالي حق او حقوقي مسوولیت، چې له زیان سره مخ کېدونکي وي، د بیمې وړ دی. د بیمې موضوع باید د ټولنیزو او اخلاقي پرنسیپونو پرخلاف نه وي. د بېلګې په توګه، په شخصي بیمه کې، که د بیمه کېدونکي شخص له خوا معیوبیت او یا مړینه د عمدي او قصدي عمل په پایله کې رامنځته شي، نو دغه پېښه د بیمې په تړون کې نه شاملېږي؛ ځکه دغه عمل د قانون له مخې، یو جنایي عمل ګڼل کېږي.

**د بیمې شرکت ته د حقوقو انتقال:** په هغو مواردو کې، چې د زیان تر جبران وروسته د دریېم شخص پر وړاندې، د مشتري د حقوقو او مطالبو د ادعا پرېکړه صادره شي، دغه حقوق د بیمې شرکت ته لېږدول کېږي، مشتري د بیمې د حقوقو د اعادې په موخه باید د بیمې د شرکت په لګښت لازمه مرسته وکړي.

**د ونډې اخیستنې په اندازه د زیان جبران:** په هغه صورت کې، چې د مالونو د تلف کېدو پر مهال، د یادو مالونو په تړاو بله بیمه هم وي، نو د بیمې موسسه د خپلې ونډې په اندازه غرامت ورکوي او په دې برخه کې تر هغه زیات مسوول نه ګڼل کېږي.

**د زیان د لامل څېړل:** دا موضوع ارزول کېږي، چې ایا هغه پېښه، چې له امله یې زیان رامنځته

ketabton.com - The Digital Library

شوې، د بیمې په تګلاره کې شامله ده او کنه؟ یا په بل عبارت، رامنځته شوی زیان د کوم خطر په پایله کې رامنځته شوی؛ که د هغه خطر له امله وي، چې بیمه شوې نه وي، نو غرامت نه ورکول کېږي. د بېلګې په توګه: د اورلګېدنې په بیمه کې، قصدي پېښه له (تګلارې) پالیسي څخه مستثنا ده. یعنې که اورلګېدنه په قصدي توګه رامنځته شي، نو تاوان (غرامت) یې نه ورکول کېږي، ځکه چې د پېښې اصلي لامل عمدي دی نه اتفاقي.

**د بیمې د موسسو ډولونه:** لکه څرنګه، چې کتل کېږي، اوسمهال د بیمې لمنه ډېره پراخه شوې او هغو کسانو ته په هر ځای کې وړتیا وربښي، چې په بېلابېلو څانګو کې د پانګونې هوډ او اراده لري او هڅوي یې، چې د ازاد اقتصاد د پراختیا او د خلکو د اړتیاوو د پوره کولو په موخه، په ټولو لکه:د صنعت، سوداګري او کرنې په برخه کې خپلو پانګونو ته پراختیا ورکړي. نن ورځ د بیمې ډېر شرکتونه موجود دي، چې فعالیتونه یې د یوه ښار د سیمې فعالیتونه په بر کې نیسي، خو داسې نور زیات شرکتونه هم شته، چې کمیشنکاران او نماینده ګۍ د هغوی او بیمه کېدونکو ترمنځ د رابط په توګه رول لوبوي. په ټولیزه توګه کولی شو، د بیمې شرکتونه پر دریو کټګوریو ووېشو، چې دوه ډوله سهامي شرکتونه او بل یې تعاوني دی، چې تر نورو زیات مهم او ارزښتناک دی.

**سهامي شرکتونه:** لکه څرنګه چې څرګندېږي، د دغو شرکتونو د رامنځته کېدو هدف، د شرکاوو د ګټو خوندي کول دي. په دغو شرکتونو کې د بیمې حق ثابت او په داسې بڼه محاسبه کېږي، چې د مخارجو پر جبران سربېره، د تولید په توګه د شرکت لپاره عادلانه ګټې هم له ځانه سره لري.

هغه تړونونه، چې منعقدېږي، پر بنسټ یې د بیمې حق د یوې ټاکلې اندازې په بدل کې ورکول کېږي او کومه ګټه، چې د بیمه کېدونکي لپاره یې لري، یوازې هماغه د زیان جبران دی او بس. نوموړي د شرکت له عوایدو څخه ګټه نه ترلاسه کوي او اضافي حق البیمه هم نه ورکوي. هغه پانګه، چې له شریکانو څخه یې هر یو ورکوي، د لومړنیو لګښتونو او د شرکت د فعالېدو په موخه ترې کار اخیستل کېږي. لکه څرنګه چې مو مخکې هم یادونه وکړه، هغه خطرونه، چې دغه شرکتونه یې مني، د مادي ګټې د ترلاسه کېدو په خاطر دي او وضع شوي نرخونه هم د همدې موخې لپاره وضع کېږي. په دغه ډول شرکتونو کې په معمول ډول، مدیره پلاوی، عامل مدیر او نور مدیران د ونډه لرونکو له خوا ټاکل کېږي.

**تعاوني شرکتونه:** په دغو شرکتونو کې یو شمېر کسان، چې ورته ګټې لري، د یو بل د غرامت د ورکړې په موخه، یوه اندازه پیسې تادیه کوي. لکه څرنګه، چې کتل کېږي، همدغه سهام او ونډې د هغوی هماغه حق البیمه ده، چې د زیانونو په جبران کې لګول کېږي. باید ووایو، چې په تعاوني شرکتونو کې د بیمې موخه، د ګټې ترلاسه کول نه دی، په یادو شرکتونو کې د بیمې حق ثابت نه دی، او ونډې هم له سره نه ټاکل کېږي. د هر غړي ونډه، د کال په بهیر کې د رامنځته شویو زیانونو له شمېر او شدت سره متناسبه وي.

ketabton.com - The Digital Library

**شبه تعاوني شرکتونه:** دغه شرکتونه، چې د ثابتې بیمې د حق له مخې کار کوي، وارده منابع د غړو ترمنځ وېشي او د تعاوني او سوداګریزو شرکتونو مخلوط دي؛ لکه د سهامي شرکتونو سهام، چې په سر کې د لومړنۍ پانګې د ترلاسه کولو په موخه د پورپانې په خپرولو لاس پورې کوي. په هر حال، د هغه څه په پام کې نیولو سره، چې مو یادونه وکړه، د بیمې شرکتونه د بڼې له پلوه له یو بل سره ډېر ورته والي لري، او د وخت په تېرېدو سره دغه ورته والی نور هم سره نژدې کېږی.

تعاوني شبه شرکتونه په لومړي سر کې د لومړنۍ پانګې د ترلاسه کولو په موخه، د پور په ترلاسه کولو لاس پورې کوي. سهامي شرکتونه، د ورکولو وړ غرامت تر وضع کولو وروسته، په ګټو کې د مشارکت په نامه د بیمې حق یوه برخه بېرته بیمه کېدونکو ته مستردوي.

د بیمې په شرکتونو کې فني موازین او اصول، ورو ورو د بیمې له حق سره په تعاوني شرکتونو کې په کار وړل کېږي، چې دغه ټول له یو بل سره د بیمې شرکتونو د بڼې پر نژدېوالي باندې دلالت کوي.

د دغه څېرکي په پای کې د هغو خطرونو یادونه کوو، چې د بیمې شرکتونه یې قبلوي:

**د خطرونو ډولونه:**

الف- شخصي پېښې یا ریسک

**مړینه**

په دوامداره توګه له کار لوېدل

الف- د ټول بدن له کاره لوېدل

ب- د بدن د یوې برخې له کاره لوېدل

۳- په لنډمهاله توګه له کاره لوېدل

الف-ټول بدن

ب- د بدن یوه برخه

۴-بېکاري

۵- کلنۍ مستمرې

ب- د مالونو ریسکونه

۱- اورلګېدنه او حریق

ketabton.com - The Digital Library

۲-تالنده او برېښنا

۳- توپان

۴- اوبه

۵-زلزله

۶- د شېښو ماتېدل

۷- چاودنه

۸- بلوا او بغاوت

۹- قصدي اورلګېدنه

۱۰- سرقت، غلا او کیسه برۍ

۱۱-درغلۍ او تزویر

۱۲- د ګاډي تصادم

۱۳-ږلۍ

۴- په لاندې اړوندو څیزونو پورې تړلی لګښتونه :

الف- ناروغۍ یا ټپي کېدنې

ب- د زیانمن شویو وسایلو پر بدلولو پورې اړوند لګښتونه.

هـ - د لاندې وارد شویو صدمو پروړاندې د خسارو د ورکړې تعهد:

الف- کارګر

ب- دربیم شخص

ج- د دربیم شخص مالونو ته د رسېدلي زیان د وړاندې د غرامت د ورکړې ژمنتیا.

**د لاندېنیو لاملونو له امله، د پانګې یا عوایدو د رامنځته شویو زیانونو ریسک :**

۱- په سمندر او وچه کې د توکو د ترانسپورت په وجه رامنځته شوي خطرونه.

۲-ږلۍ، پرخه او د محصول د سوند نور لاملونه.

۳- د کارکوونکو ناسموالی.

ketabton.com - The Digital Library

۴- د هغو ژمنتیاوو په ترسره کېدو کې، د قراردادي پاتې راتلل، چې په تړون کې یې منلي دي.

۵- اقتصادي کمزورتیا

۶- د کارګرانو اعتصاب

**د درېیم خپرکي د مطالبو لنډیز:**

ریسک له هغو خطرونو څخه جوړ دي، چې کېدای شي، شخص یا مال یې تر اغېزې لاندې راولي او د دغو خطرونو مجموع ته ریسک ویل کېږي. د ریسک د ډلبندۍ په تړاو باید ووایو، چې ریسک فزیکي یا رواني او یا هم اخلاقي اړخ لري. خو له حقوقي پلوه کولی شو، چې د بیمې تړون په لاندې توګه تعریف کړو:

د زیانونو د ریسک منل، یا د اجرې یا حق الزحمې په بدل کې، چې حق البیمه هم نومول کېږي، د درېیم شخص ژمنتیا ده، چې که بیمه کوونکی، دغه ریسک د ډېرو خلکو ترمنځ په هره بڼه او عنوان توضیح کړي، نو ورته د بیمې تړون وایي.

د بیمې په تړون کې لومړی د توافق مسله مطرح ده او بل دا چې د واک لرونکو کسانو له خوا منعقد شي، همدا راز د فکري واک نشتوالی هم مطرح دی. ځکه سفیه له قانوني پلوه، د بیمې او سوداګریزو تړونونو د انعقاد واک نه لري.

له بلې خوا د شي د قانوني توب مسله هم مطرح ده؛ د بیمې تړون باید لاندې بنسټونه ولري:

**۱- د غرامت او جبران اصل:** د بیمې د تړون عمده موخه دا ده، چې بیمه کېدونکی شخص د پېښې تر رامنځته کېدو او تر زیانمنېدو وروسته، بېرته هماغه مالي حالت ته راوستل شي، چې تر پېښې یې وړاندې درلود. بیمه کېدونکی د پېښې په ترځ کې د زیانمنېدو په صورت کې باید له کومې ګټې پرته، یوازې غرامت ترلاسه کړي.

**۲- د ښه نیت درلودل:** لکه څرنګه چې انګېرل کېږي، د بیمې تړون باید د دوه اړخیز باور په پایله کې تنظیم شي او بیمه کېدونکی د ځان په اړه له حقیقت پرته نور څه و نه وایي.

**۳- د بیمې له موضوع سره د لېوالتیا اصل:** د انسان ژوند، مال او یا هر هغه مالي حق او حقوقي مسوولیت، چې له زیان سره مخ کېدونکی وي، د بیمې وړ دی. د بیمې موضوع باید د ټولنیزو او اخلاقي پرنسیپونو پرخلاف نه وي.

**۴- د بیمې شرکت ته د حقوقو انتقال:** مشتري د بیمې د حقوقو د اعادې په موخه باید د بیمې د شرکت په لګښت سره لازمه مرسته وکړي.

ketabton.com - The Digital Library

**۵- د ونډې اخیستنې په اندازه د زیان جبران:** د بیمې موسسه غرامت د خپلې ونډې په اندازه ورکوي او په دې برخه کې تر دې زیات مسوول نه ګڼل کېږي.

**۶- د زیان د لامل څېړل:** دا موضوع ارزول کېږي، چې ایا هغه پېښه، چې له امله یې زیان رامنځته شوې، د بیمې په تګلاره کې شامله ده او کنه؟

**د بیمې د موسسو ډولونه:** په ټولیزه توګه کولی شو، چې د بیمې شرکتونه په دریو کټګوریو وویشو، چې دوه ډوله یې (سهامي شرکتونه او تعاوني شرکتونه) تر هغو نورو زیات مهم او ارزښتناک دي.

د سهامي شرکتونو له رامنځته کېدو څخه موخه، د شرکاوو د ګټې خوندي کول دي. په داسې حال کې، چې په تعاوني شرکتونو کې یو شمېر هغه کسان، چې ورته ګټې لري، د یو بل د زیانونو د ورکړې په موخه، یوه اندازه پیسې چمتو کوي.

او شبه تعاوني شرکتونه، د تعاوني او سوداګریزو شرکتونو مخلوط دي.

ketabton.com - The Digital Library

**د درېيم څپرکي پوښتنې:**

۱- د ريسک مفهوم بيان کړئ؟

۲- د غرامت او جبران اصل څه مفهوم لري، واضح يې کړئ؟

۳- د بيمې د بنسټونو په توګه د ښه نيت درلودلو، مسله تشريح کړئ؟

۴- د بيمې شرکت ته د حقوقو د انتقال د اصل په تړاو معلومات وړاندې کړئ؟

۵- د ونډې اخيستنې په توګه د زيان د جبران اصل شرح کړئ؟

۶- د زيان د لامل د څېړلو اصل څه مفهوم لري؟

۷- په ټوليزه توګه د بيمې موسسې پر څو ډولونو وېشل کېږي، يوازې يې نومونه واخلئ؟

۸- د بيمې د سهامي شرکتونو په اړه خپل معلومات بيان کړئ؟

۹- شبه تعاوني شرکتونه، څرنګه شرکتونه دي، توضيح يې کړئ؟

۱۰- د تعاوني شرکتونو په اړه خپل معلومات وليکئ؟

۱۱- د بيمې شرکتونه په عمل کې سره ورته والې لري که نه، په دې اړه خپل نظر بيان کړئ؟

ketabton.com - The Digital Library

# څلورم څپرکی

## د بیمې تر ټولو پخواني ډولونه

**ټولیزه موخه:**
د سمندر، عمر او حریق د بیمو پېژندنه، چې د بیمې تر ټولو پخواني ډولونه دي.

**د زده کړې موخې:** د دغه څپرکي په پای کې به زده کوونکي پر دې وتوانېږي، چې:

۱- سمندري بیمه تعریف کړي.

۲- د سمندري بیمې ډولونه توضیح کړي.

۳- د سمندري بیمې د زیانونو د ډولونو مفهوم تشریح کړي.

۴- د عمر بیمه تعریف او د ډولونو په اړه یې معلومات وړاندې کړي.

۵- د حریق حقیقي مفهوم او د حریق د بیمې تړون تشریح کړي.

۶- د حریق بیمې د تړون له ډولونو سره اشنا شي.

۷- په هېواد او نړۍ کې د حریق په پایله کې د رامنځته شویو زیانونو د امارو او شمېرنو په مطالعې سره، د دغې بیمې پر ارزښت ځان خبر کړي.

ketabton.com - The Digital Library

**سمندري بیمه:**

سمندري بیمه په ترانزیت کې د مالونو او توکو په بیمې کې رامنځته شوي خطرونه او د سمندر پېښې او حوادث په بر کې نیسي. لکه څرنګه چې پوهېږئ سمندري بیمه د بیمې له تر ټولو پخوانیو ډولونو څخه ګڼل کېږي، د سمندري بیمې لومړنی ترون یوازې بېړۍ ته اوښتي زیانونه په بر کې نیول، خو بیا وروسته یو لړ اصلاحات پکې رامنځته شول، چې په ترڅ کې یې سمندري بیمه په بېړۍ کې د موجودو توکو د زیان غرامت هم پوره کاوه؛ ځکه چې بېړۍ زیاتره په سالمه توګه ساحل ته رسېږي، خو پکې بار توکي کله ناکله تر باراخیستنې وړاندې یا د تخلیې پرمهال له اورلګېدنې، لوندوالی یا له نورو ورته ستونزو سره مخ کېږي. د بیمې دغه ډول له ۱۸ مې پېړۍ وروسته پراختیا وموندله. باید ووایو، چې سمندري بیمه تر ډېرې مودې پورې، یعنې هغه مهال چې له سمندري خطرونو څخه کومه دقیقه احصایه یا آمار په لاس کې نه وو، یوازې نظري اړخ یې درلوده، تر دې چې د عملي کولو لپاره یې، بیمه کوونکو یو شمېر کمېټې جوړې کړي، ترڅو د سمندري پېښو او حوادثو او د بېړیو پر ځانګړنو پورې اړوند معلومات له یو بل سره شریک کړي.

اوسمهال د بېړۍ چلونې د بیمې صنعت په بشپړه توګه تخصصي اړخ پیدا کړی، چې په معمول ډول د بیمې د نړیوالو سترو شرکتونو له خوا اداره کېږي. د بېړۍ چلولو بیمه د نورو بیمو پرخلاف، نړیوال اړخ لري او د عمل ډګر یې ټول سمندورنه او سیندونه دي. په ځېنو هېوادونو کې لوی شرکتونه رامنځته شول، چې دنده یې په بېړۍ چلولو پورې د اړوندو معلوماتو برابرول دي. لکه: ارزښت، د جوړولو نېټه، د هغو توکو ډول، چې په جوړولو کې یې کار ترې اخیستل کېږي(لکه لرګي، وسپنه)، د بېړۍ چلولو درجه او د بېړۍ چلولو د سیمې سروې او داسې نور معلومات د بیمې د موسسې په واک کې ورکوي. په دې توګه کارپوهان په منظمه توګه له بېړیو څخه لېدنه او طبقه بندي کوي یې. په دغه برخه کې، د بیمې شرکتونه اړ دي، چې د بیې د ټاکلو له پلوه پر کورنیو شرکتونو سربېره، د نورو هېوادونو د بېړۍ چلولو له شرکتونو سره هم سیالي وکړي. لوی شرکتونه، بولتېن، خپرونې، د کارپوهانو له رپوټ سره، سمندري سوانح، لامل او پایلې یې مینه والو ته وړاندې کوي. همدارنګه د سمندري خطرونو د بیې وړاندې کولو په موخه، ژورې اماري څېړنې ترسره کوي، چې له دې اړخه یې، د مساپروړونکو، نفت وړونکو، د وچو توکو د ترانسپورتیشن او د ځانګړو اجناسو د لېږدولو پر بېړیو باندې وېشي. سمندري بیمه اوسمهال، په وچه کې له لومړي ګودام څخه تر ساحله؛ او تر مقصود ساحله پورې په سمندر یا سیند کې سفر، او له همدې ساحله بیا تر مقصود ګودامه پورې خطرونه په بر کې نیسي. د سمندري بیمو ترون، په دوو بېلابېلو ډولونو باندې وېشل کېږي. هغه ترونونه، چې د بېړۍ بدنه او هغه ترونونه، چې محصولات یې بیمه کوي. د بېړۍ د بدنې ترون په لویو شرکتونو او مهمو بندرونو کې ترسره کېږي. لکه څرنګه، چې پوهېږئ د بېړیو بیې ډېرې لوړې دي او یوازې یو شرکت یې د بیمه کولو وس نه لري، پر دې بنسټ، دغه

ketabton.com - The Digital Library

ډول بېړۍ د څو شرکتونو په وسیله په ګډه بیمه کېږي.

د تضمین پر یادو دوو ډولونو سربېره، چې بنسټیز او اصلي تضمینونه ګڼل کېږي، نور فرعي تضمینونه هم شته، چې کولی شو په لاندې توګه ترې یادونه وکړو:

د امتعې د غلاوو او زړښت بیمه.

د بېړۍ د کپتان او خدمې د تېروتنې پر وړاندې د مسوولیت بیمه.

د سمندري بیمې زیانونه په دوه ډوله دي:

ټولیز زیانونه او خصوصي زیانونه (اوریج جنرال)

ټولیز زیانونه، چې د بیمې د اصطلاح له مخې اوریج جنرل ورته ویل کېږي، هغه زیانونه دي، چې هم د بېړۍ او هم یې د محصولاتو زیانونه په بر کې نیسي.

خصوصي یا انفرادي زیانونه بیا هغه دي، چې د مسافرت په اوږدو کې په مستقیمه توګه یوازې ټاکلي شي ته اوړي. دې ته په پام سره، چې د ماهیت له پلوه سمندري بیمې د نورو په پرتله توپیر کوي، نو تر ډېره بریده یې بیې ثابتې نه وي. په سمندرونو کې د بېړۍ چلولو ترڅ، له ډېرو پخوا وختونو راهیسې، د هغو نرخونو له مخې ترسره کېږي، چې د موجوده خطرونو تر ارزونې وروسته ټاکل کېږي. باید ووایو، له دې امله، چې د سمندري ترانسپورټي بیمې په ترڅ کې درج شوي خطرونه او د هروټاکلو سفرونو خطرونه، په نورو بیمو کې له موجوده ریسکونو سره له ډېرو اړخونو توپیر کوي، نو د بیمې د داسې یوې بیې ټاکل، چې وکولی شو، په ټولو پړاوونو کې یې عام کړو، ستونزمن برېښي.

**د عمر بیمه:**

د عمر بیمه د اشخاصو تر ټولو پخوانۍ بیمه ده، او تر سمندري بیمې وروسته، رامنځته شوې ده. یاده بیمه، د اتلسمې پېړۍ په وروستیو کې په اروپایي هېوادونو کې په بې ساري توګه پراختیا وموندله او تر نورو هېوادونو یې په سویس کې پراختیا چټکه وه، له همدې امله یې، د یاد هېواد په اقتصاد کې پایلې کره او رغنده ګڼل کېږي، خو په انګلستان کې په ۱۵۸۳ کال کې د عمر بیمه منعقده شوه؛ په داسې حال کې، چې په دغه هېواد کې هم یاده بیمه کومه نوې پدیده نه، بلکې تر دې مخکې هم په غیر رسمي بڼه معموله وه. په فرانسه کې له دې امله، چې له خلکو سره دا ګروهه موجوده وه، چې دغه بیمه د جنایتونو او وژنو د رامنځته کېدو لامل ګرځي، له ودې څخه پاتې او منعه شوې وه، چې ددغې چارې په نورو هېوادونو کې ناوړه اغېزې درلودې. په هر حال، تاریخ ښیي، چې د عمر بیمه، تر ۱۵۸۳ کال وروسته په رسمي توګه په انګلستان کې دود او د عمل ډګر ته وړاندې شوه.

ketabton.com - The Digital Library

**د عمر د بیمې تعریف په لاندې توګه وړاندې کېږي:**

هغه تړون دی، چې پر بنسټ یې، بیمه کوونکی ژمنه کوي، چې د بیمې د منظم حق د ترلاسه کولو په بدل کې، د بیمه کېدونکي د مړینې یا ژوند په صورت کې یوه اندازه پیسې هغه ته ورکوي. د عمر د بیمې حق که د تړون په پیل کې یو ځای ورکړل شي، او یا د واحدې بیمې حق که د فواصلو په اقساطو سره په یوه کال کې ورکړل شي، نو د کلنۍ بیمې د حق په نامه یادېږي. هغه پیسې چې بیمه کوونکي یې بیمه شوي ته د مړینې یا ژوند په صورت کې د ورکولو ژمنه کوي، نو د عمر د پانګې په نامه یادېږي. همدارنګه لکه څرنګه چې مو مخکې هم ترې یادونه وکړه، د اولسمې پیړۍ ریاضي پوهانو د احتمالاتو له علمي کړنلارې څخه په ګټه اخیستنه، د عمرد بیمې په وده او پرمختیا کې ډېرې اغېزمنې مرستې وکړې، چې د عمر دبیمې اوسنۍ وضعه د هغوی د هماغو علمي هڅو او کوښښونو محصول دی. د عمر بیمه په دوه ډوله دي:

د عمر بیمه د ژوند (حیات) په شرط.
د عمر بیمه د مړینې په شرط.

د ژوند په شرط د عمر په بیمه کې هغه مهال پانګه ورکول کېږي، چې بیمه شوی تر یوه ټاکلي وخت پورې ژوندی وي. د دې پرخلاف، د مړینې په شرط بیمه کې، پانګه د بیمه شوی تر مړینې پورې موکول ده. درېیم ډول هم شته، چې له دوو پورتنیو ډولونو څخه ترکیب شوی ډول دی، چې د مختلطې بیمې په نامه یې هم یادوي. مختلطه بیمه هغه ده، که چېرې بیمه شوی د مودې په پای کې ژوندی وي، نو پانګه په خپله بیمه کېدونکي پورې تعلق نیسي او که چېرې د مودې تر پای ته رسېدو وړاندې مړ شي، نو پانګه ګټه اخیستونکي ته ورکول کېږي. پر یادو ډولونو سربېره بچیانو ته د بیمې د پانګې ورکړه هم د یادونې وړ ده، چې په دغه بیمه کې، ګټه اخیستونکی هغه ټاکلی ماشوم دی، چې د مودې په سر کې ژوندی وي، نو پانګه هم هغه ته ورکول کېږي او که ژوندی نه وي، نو کومه پانګه ورته نه ورکول کېږي. ښکاره ده، چې په همداسې یوه بیمه کې، هغه څوک، چې بیمه کېدونکی دی، د ماشوم پلار دی، چې تر هغه مهاله، چې ژوندی وي، حق البیمه ورکوي او تر مړینې یې وروسته د بیمې د حق ورکړه قطع کېږي، خو پانګه د مودې په پای ته رسېدو سره ګټه اخیستونکي ته ورکول کېږي، که ګټه اخیستونکی ماشوم د مودې تر پای ته رسېدو وړاندې مړ شي، د ورکړې وړ حق البیمه بېرته بیمه کېدونکي ته مستردېږي. د یادې بیمې اهمیت د ماشوم په ژوند کې ډېر اغېزمن رول لري او د ماشوم لپاره د ډاډ وړ پانګه تر ټولو ښه مرجع ګڼل کېږي.

له هغه ځایه، چې د عمر بیمه یو اوږدمهالي تړون دی، نو تدوین او تنظیم یې د ځانګړو مقررو او قوانینو تابع دي. د بیمه لیک تر تنظیم وړاندې، هغه چاپي وړاندیز، چې د بیمه کوونکي له خوا برابر شوی، د بیمه کېدونکي له خوا بشپړېږي او په ترڅ کې یې بېلابېلو پوښتنو ته په ځانګړې توګه، د بیمه کېدونکي د مزاج او د روغتیایي وضعې څرنګوالي ته پکې ځواب ورکول کېږي.

ketabton.com - The Digital Library

همدارنګه د اړتیا په صورت کې، د ډاکټر له خوا هم کتل کېږي او ورپسې بیمه لیک صادرېږي.

**د اورلګېدنې (حریق) بیمه:** د حریق بیمه هم د پخوانیو بیمو په ډله کې شمېرل کېږي. د تاریخي شواهدو له مخې، په ۱۶ مه پیړۍ کې د جرمني په شمالی ښارونو لکه هامبورګ کې ځېنې ځانګړي دفترونه د اور او ښاروالیو په نامه رامنځته شول. دغه اداري به د کورونو له خاوندانو څخه د کلنۍ ونډې تر نامه لاندې د یوه اندازه پیسو په ترلاسه کولو سره، د حریق پېښو د رامنځته کېدو پرمهال رامنځته شوی زیان جبراناوه.

په ۱۶۶۶ میلادی کال کې په لندن ښار کې د حریق یوه لویه پېښه رامنځته شوه؛ یاد حریق څلور ورځې دوام وموند. د اورلګېدنې دغه پېښه په واقعیت کې، د اورلګېدنې د بیمې د پراختیا لپاره یوهستره انګیزه وه.

تر دغې نېټې وروسته د حریق زیاتې موسسې او شرکتونه رامنځته شول.

لکه، په انګلستان کې چې د بیمې سهامي لومړنی شرکت د (ختیځ هند شرکت) په نامه د ۱۷ مې پیړۍ په لومړیو کې رامنځته شو. په هر حال، د حریق بیمه هغه زیانونه تضمینوي، چې د حریق له امله رامنځته کېږي، نو اړینه ده، چې لومړی د حریق پر مفهوم ځان پوه کړو.

**د حریق حقیقي مفهوم:** حریق له هغې شعلې څخه عبارت دی، چې د مالونو د تلف کېدو او زیانمنېدو لامل ګرځي، په دې شرط، چې د حریق پېښه په ناڅاپي او اتفاقي توګه رامنځته او د شعلې تولید یې په نامترقبه بڼه وي.

د عادي حریق د بیمې تګلاره، تر حریق لاندې پېښې په بر کې نیسي:

الف- د چاودنې تر پېښې وړاندې د حریق ټول زیانونه ( د تندر په پایله کې د اورلګېدنې په ګډون)

ب- هغه چادونې، چې د کور د ګټې اخیستنې په موخه وي.

ج- د هغو ګازونو چاودنه، چې په ودانۍ کې د تنویر په موخه ترې کار اخیستل کېږي، خو چې پکې د ګاز تولید صورت و نه نیسي.

**د حریق د بیمې تړون:** د هغې بیمې تړون دی، چې په ترڅ کې یې د بیمې موسسه ژمنه کوي، چې د هغې بیې په چوکاټ کې به، چې د بیمې په جدول کې تصریح شوې ده، په خپل لګښت ټول هغه مالي زیانونه جبرانوي، چې د اورلګېدنې په پایله کې رامنځته شوي دي.

که څه هم حریق یا اورلګېدنه، یو بعید الوقوع خطر ګڼل کېږي، خو ځېنې وختونه، یاده پېښه ډېر ژر رامنځته کېږي، که څه هم د اور وژنې (اطفاییې) ځواک هڅه کوي، چې د خپلو وسایلو

ketabton.com - The Digital Library

په مرسته هغه کنټرول کړي، ترڅو په دې توګه د زیانونو کچه راټیټه کړي، خو بیا هم د حریق په پایله کې د رامنځته شویو زیانونو پر وړاندې د ساتنې او ملاتړ ترټولو اغېزمنه کړنلاره بیمه ده. لکه څرنګه چې د میرعلم سرای، احمد شاهي سرای او جمهوریت مارکیټ د اورلګېدنې په پېښو کې، چې څو کاله مخکې رامنځته شول، د زیانونو او خطرونو کچه ټولو ته څرګنده ده.

همدارنګه پخوانې دولتي مطبعه، چې په بشپړه توګه وسوځېده او له منځه لاړه. لکه څنګه، چې دغو جایدادونو د بیمې ملاتړ نه درلوده، نو په پراخه پیمانه یې مالي زیانونه په بر کې درلودل. که څه هم، یادې اورلګېدنې د هغو اورلګېدنو په پرتله، چې د نړۍ په نورو برخو کې رامنځته کېږي، ډېرې محدودې پېښې ګڼل کېږي.

په ۱۹۸۲ کال کې د طبیعي پېښو د شمېرنې پر بنسټ، د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې د اورلګېدنې ډېرې سترې پېښې رامنځته شوي، چې بې ساري مالي زیانونه یې رامنځته کړي، چې په لاندې توګه ترې په لنډ ډول یادونه کېږي.

په فرانسه کې د اورلګېدنې د سترې پېښې رامنځته کېدل، چې تر ۸۴۲ فرانکو زیات مالي زیانونه یې واړول.

په جاپان کې د اورلګېدنې ستره پېښه، چې د ۱۲۶۵۰ میلیونه جاپاني ین په شاوخوا کې یې زیانونه واړول.

په جرمني کې د اورلګېدنې ستره پېښه، چې رامنځته شوي زیانونه یې، ۱۶۰ میلیونو مارکو ته رسېدل.

په فلپین کې د اورلګېدنې رامنځته شوې پېښه، چې د ۲۵۰ میلیونو ډالرو په شاوخوا یې زیانونه واړول.

په سویلي یمن کې اورلګېدنه، چې ټولټال زیانونه یې ۲۰۰ میلیونو فرانکو ته رسېدل.

**د حریق دحق البیمې د بیې ټاکل:** د حق البیمې بیه د هغو خطرونو په کچې پورې تړلې، چې پام وړ مالونو ته ممکن ورپېښ شي . حق البیمه د هغو لاملونو پر بنسټ، محاسبه کېږي، چې د حریق پر خطر اغېزې ولري. د حریق د سرایت شونتیا او د احتراق وړ شعلې د موادو موجودیت، چې پکې لږ یا زیات دی، په پام کې نیول کېږي.

ریسک د حق البیمې د تثبیت او ټاکلو له پلوه، پر دوو کټګوریو (ساده او تولیدي یا پېچلو ریسکونو باندې وېشل کېږي.

ketabton.com - The Digital Library

**ساده ریسکونه:** د استوګنې د کورونو د حریق بیمې ته وایي، چې د کور اثاثیه، شخصي مالونه، ودانۍ او دفترونه په بر کې نیسي. تر دغې بیمې لاندې، د هغو ودانیو په تړاو، چې د نورو کسانو او بهرنیو اتباعو د استوګنې لپاره په کرایه ورکول کېږي، د مالک پر وړاندې، د مستاجر قانوني مسوولیت هم بیمه کېږي. د دغو ودانیو د حق البیمې د بیې ټاکل، د ودانۍ د نوعیت (ودانۍ پخه ده که خامه) په پام کې نیولو او د ودانۍ د جوړښت له هغو کټګوریو او معلوماتو سره سم، چې د بیمې د غوښتنلیک په فورمه کې تثبیت شوی، په اسانۍ سره ترسره کېږي.

**لوی ریسکونه:** دغه ریسکونه، چې په لویو او بېلابېلو جایدادونو پورې اړوندېږي، لویې صنعتي موسسې، پروژې، کارخانې، ماشین الات، خام او پاخه توکي، ګودامونه او داسې نور، چې د حریق او متفرقه پېښو د بیمې په قید کې راځي، په بر کې نیسي؛ چې د حق البیمې د بیې په ټاکلو کې یې، د لاندینیو لاملونو ارزونه په ژوره توګه ترسره کېږي:

الف- د ودانۍ د جوړښت څرنګوالی.

ب- د تولیدي بهیر شرایط.

ج- د بیمې وړ جایداد موقعیت.

د- په ګودامونو کې د سوځېدو وړ توکو نوعیت، پر ماشین باندې نابشپړه توکي.

پر پورتنیو فکتورونو سربېره، نور لاملونه، لکه د اوبو د منابعو کافي موجودیت، د برېښنا د ویرنګ ښه سیستم، په سمه توګه د ساحې څارنه او ساتنه، له کارخانې څخه د اوبلنو توکو لېږدول او داسې نور هغه څه دي، چې د ریسکونو د څېړلو په برخه کې په ژوره توګه ارزول کېږي. په هره کچه، چې د سوځېدو وړ توکو شتوالی او د حریق د سرایت احتمال او سرچینه زیات وي، په هماغه اندازه، د اورلګېدنې د حق البیمې بیه لوړه وي او که اټکلونه او سرچینې په ټیټه کچه وي، نو د بیمې حق بیه هم ټیټه ټاکل کېږي. همدارنګه د اورلګېدنې له پېښې څخه د مخنیوي په موخه، د وقایوي تدابیرو پلي کول، د بیمې حق د بیې په راټیټولو کې مستقیمه اغېزه لري.

**د حریق بیمو د تړون ډولونه:**

**۱- د ګودامونو د حریق بیمې شرایط:** له هغه ځایه، چې د ګودامونو موجود مالونه، د نورو جایدادونو په شان ثابت نه دي، او پکې موجود مالونه کله زیات او کله کمېږي، نو بیمه کېدونکی کولی شي، چې د بیمې د تړون پرمهال، د یوه داسې اعظمي حد وړاندوینه او اټکل وکړي، چې د کال په اوږدو کې په ګودام کې د مالونو اندازه تر دغه ټاکلي حد زیاته نه شي. پر دې بنسټ، کله

ketabton.com - The Digital Library

چې زيان رامنځته شي، نو کولی شي، له بيمه کوونکي موسسې څخه د زيان بشپړ غرامت ترلاسه کړي. ياد بيمه کېدونکی بايد د کال په اوږدو کې په ګودام کې د مالونو د موجودۍ مياشتنی او دري مياشتنی رپوټ د بيمې موسسې ته ولېږي. د کال په پای کې د ټول کال په بهير کې د لېږل شوو رپوټونو له مخې د بيمې حق بېرته محاسبه او توپير يې دواړو لورو ته ورکول کېږي.

**۲- د منتاژ په درشل کې د ماشين الاتو بيمه:** د بيمې د دغې تګلارې له مخې، جديد التاسيسې موسسې يا هغه پروژې، چې د جوړېدو په حال کې وي، کولی شي، خپل ماشينونه د منتاژ په بهير کې د ټسټينګ مودې تر پای ته رسېدو پورې، چې تر دې وروسته، پروژه ګټې اخيستنې ته وړاندې کېږي، بيمه کړي. د بيمې دغه ډول، د حريق، د برېښنا شارټې، چاودنې، زلزلې، د برېښنا د جريان د زياتېدو له امله، د منتاژ د انجنيرانو غفلت، د منتاژ پرمهال د کيبلونو يا ځنځيرونو پرېکېدل، توپان، سېلاو، د ټسټينګ په بهير کې د ماشين له کاره لوېدل، د الوتکې د غورځېدو، تر ځمکې لاندې حريق، د ځمکې د ښوييدنې اوداسې نورخطرونه په بر کې نيسي.

**۳- د ورځې په نرخ د جايدادونو د حريق بيمه:** مشتريان خپل جايدادونه زياتره د تېرو کلونو د ټامې شوې بيې پر بنسټ، بيمه کوي. لکه څرنګه چې لېدل کېږي، د هر کال په تېرېدو سره، د خامو توکو، د کارګرانو مزد، تعميراتي توکو او د داسې نورو بيې مخ په لوړېدو  دي، همدارنګه په نړيوالو بازارونو کې د ماشين نرخ هم تغيير کوي، که د جايدادونو بيمه د ورځې د نرخ په پام کې نيولو سره يا ماشينونه د بهرنيو مارکيټونو د نرخ له مخې، بيمه شي، نو د تعمير د زيان ورکړه، د ورځې له نرخ سره او د ماشين د زيان جبران د مارکيټ له نرخ سره سم اجرا کېږي.

**۴- د توافقي بيې له مخې د مالونو بيمه:** قيمتي منقول شيان، لکه: هنري شيان، کلکسيونونه، د سپينو زرو الات، ګاڼې، تابلوګانې او داسې نور، چې ارزښت يې د سوداګريز اړخ په پرتله، زياتره قراردادي اړخ لري، په بر کې نيسي. د بيمه کېدونکي د مخارجو په ګډون د دغو شيانو ارزښت د کارپوهانو له خوا ټاکل کېږي. د عادي شيانو پرتله، د دغو شيانو حق البيمه زياته ده.

**۵- د بېکارۍ بيمه:** د يوې مغازې د سوځېدو له امله، هغه زيانونه، چې د بېکارۍ له امله بيمه کېدونکي ته اوړي، د بيمې د شرکت له خوا جبرانېږي.

**۶- د فرعي پېښو بيمه:** د وروستيو لسيزو په بهير کې، د فرعي او متفرقه پېښو بيمه هم د حريق له بيمې سره يوځای شوی ده. په بيمه کې د دغو خطرونو شموليت، د مشتري په هوکړه او د اضافي حق البيمې په ورکړې سره ترسره کېږي. دغه خطرونه په لاندې توګه دي: د طبيعي پېښو خطرونه لکه توپان، سېلاو، دوړې، تالنده، زلزله، تر ځمکې لاندې حريق، ټولنيزې پېښې لکه: ناوړه قصد، پاڅون، اعتصاب، لاريونونه او نورې متفرقه پېښې، لکه: تر ځمکې لاندې يا د ودانۍ په صحن کې د نلونو او پيپونو (کاناليزاسيون سيستم) چاودنه او چاودېدل، د الوتکې د غورځېدو

ketabton.com - The Digital Library

خطرونه، د ګاڼو د ټکر خطر، له بیمه شویو ودانیو یا مالونو سره د بهرنیو شیانو جنګېدل او ټکر.
باید ووایو، هر کال د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې د پورتنیو پېښو په پایله کې، د سر او مال ستر زیانونه رامنځته کېږي. په ۱۹۸۲ کال کې د نړۍ په یو شمېر هېوادونو کې له دې اړخه رامنځته شوي زیانونه په ګوته کوو:

د سویلي افریقا د کیمیاوي سرې په یوه کارخانه کې حریق او چاودونه، چې مالي زیان یې ۱۵ میلیونه امریکایي ډالر او د دویمې دورې تر فعالیته پورې د کارخانې د سقوط زیان ۲۵ میلیونه امریکایي ډالره اټکل شوي و.

د مکسیکو د تیلو په یوه نل لیکه د چاودنې په پایله کې، د ۲۳ تنو مړینه. په جاپان کې د تیلو د تصفیې په یوه دستګاه کې، د اورلګېدنې او چاودنې له امله، د۲۷۰۰۰ میلیونه ینو په اندازه زیانونه رامنځته شول.

د پنسلوانیا ښار د سوداګریزو مالونو په یوه ګودام کې، د ګاز په یوه کانتینر کې د چاودنې له امله، د ۱۱۳ میلیونه ډالرو په بیه زیانونه رامنځته شول.

لکه څرنګه چې په پورتنیو بېلګو کې لیدل کېږي، ټولې پېښې د چاودنې په پایله کې رامنځته شوي دي.

**چاودنه:** هغې پېښې ته وایي، چې د مجاورې هوا فشار د عملیې په پایله کې، د رامنځته شویو ځېنو توکو یا ګازونو انبساط په ناڅاپي توګه زیاتوي او د چاودنې لامل کېږي. که چېرې د چاودنې پېښه له حریق پرته رامنځته شي، نو اوښتی زیان د حریق بیمې تر نامه نه جبرانېږي، مګر دا چې، د چاودنې پېښه په جلا توګه په بیمه کې شامله شوې وي؛ په هغه صورت کې، چې د چاودنې پېښه د اورلګېدنې په پایله کې رامنځته شي، نو رامنځته شوی زیان د حریق بیمې له مخې جبرانېږي.

**زلزله:** د ځمکې لړزه، د ځمکې د فوقاني سطحې ارتعاش ته ویل کېږي، چې د اورغورځولو د قوې د تولید یا یې د ورته عملیې او د ځمکې په قشر کې د اصطکاک په پایله کې رامنځته کېږي. زلزله په دوه ډوله وي، لومړی اورغورځوونکی ډول او دویم یې ټېټانیک یا د ځمکې د یوې برخې کیناستل دي، چې د هغو جیولوجیکي ښوییدنې په پایله کې، چې د ځمکې په قشر کې وي، رامنځته کېږي او د نړۍ په زیاترو سیمو کې لیدل کېږي. زلزله د طبیعي پېښو له جملې څخه ګڼل کېږي، چې د پام وړ مالي او ځاني زیانونه په بر کې لري. د ۱۹۸۲ کال د شمېرنو له مخې، زلزلې د نړۍ په بېلابېلو سیمو کې شوې دي، چې د یاد کال د زلزلو مالي او ځاني زیانونه په لاندې توګه وړاندې کېږي:

ketabton.com - The Digital Library

د هغې زلزلې له امله، چې د ۱۳۶۱ کال د لیندۍ میاشتې پر ۲۵ مه نېټه د افغانستان د هندوکوش غرونو په سلسله کې رامنځته شوه، ۵۰۰ تنو خپل ژوند له لاسه ورکړ.

هغه زلزله، چې د ۱۹۸۲ کال د دسمبر پر ۱۳ مه نېټه په شمالي یمن کې وشوه، لږترلږه ۳۰۰۰ تنه یې ووژل او ۴۰۰۰۰۰ تنه نور بې کوره شول.

د زلزلې هغه پېښه، چې د ۱۹۸۲ کال د مارچ پر ۲۶ او ۲۸ مه نېټه په بولید کې وشوه، له امله یې ۲۰ تنه ووژل شول. همدارنګه توپان، چې د اقلیم د انقلاباتو په پایله کې رامنځته کېږي، چې له سختو بادونو، دوړو، تالنده او برېښنا او په ځېنو وختونو کې د ږلیو له اورښت سره مل وي، د نامطلوبو پېښو په توګه سترې غمېږې رامنځته کولی شي. موږ دلته یوازې د ۱۹۸۲ کال په بهیر کې د توپان په پایله کې د نړۍ په بېلابېلو برخو کې رامنځته شوي ځاني زیانونه په لاندې توګه وړاندې کوو:

سایکون د هند په ګجرات ایالت کې، چې له امله یې ۵۰۰ تنه مړه او ۵۰۰ تنه نور بې کوره شول.

په جاپان کې د توپان شدیده پېښه، چې له امله یې ۴۴ تنه مړه او د ۱۳۷۰۰ جاپاني ینو په شاوخوا یې زیانونه واړول.

په امریکا کې له ږلۍ سره یوځای توپان، چې ۵,۲۹ میلیون ډالره زیانونه یې واړول.

په هند کې یاسکلون، چې ۲۹۹ تنه یې ووژل او ۲۰۰۰۰۰ تنه نور یې بې کوره کړه.

په کیوبا کې توپان، چې لږ تر لږه ۲۳ تنه یې ووژل او ۷۰۰۰ تنه نور یې بې کوره کړل.

**سېلاو:** سېلاو د سیندونو، نهرونو او یا نورو اوبو بهیدنې ته وایي، چې په ځپانده حالت کې له خپل عادي مسیر څخه نورو خواوو ته جاري کېږي. سېلاو هم د بې سارو زیانونو او تلفاتو لامل ګرځي، پر ۱۹۸۲ کال د امریکا په کالیفورنیا ایالت کې یې د ۲۳,۹ میلونه ډالرو په شاوخوا کې مالي زیانونه واړول، او د چین په ایالتي سیمو کې یې ۵۰۵ تنه ووژل او یو میلیون نور کسان یې بې کوره کړل.

**د څلورم څپرکي دمطالبو لنډیز:**

سمندري بیمه د بیمې له تر ټولو پخوانیو ډولونو څخه ګڼل کېږي؛ د بیمې دغه ډول تر ۱۸ مې پېړۍ وروسته پراختیا وموندله. د بېړۍ چلولو بیمه د نورو بیمو پرخلاف، نړیوال اړخ لري او د عمل ساحه یې ټول سمندورنه او سیندونه په بر کې نیسي. د سمندري بیمو تړون، په دوو بېلابېلو ډولونو باندې وېشل کېږي. هغه تړونونه، چې د بېړۍ بدنه او هغه تړونونه، چې محصولات یې بیمه کوي.

ketabton.com - The Digital Library

د سمندري بیمې زیانونه هم په دوه ډوله دي:

ټولیز زیانونه او خصوصي زیانونه (اوریج جنرال)

د عمر بیمه د اشخاصو تر ټولو پخوانۍ بیمه ده، او تر سمندري بیمې وروسته، رامنځته شوې ده. یاده بیمه، د اتلسمې پیړۍ په وروستیو کې په اروپایي هېوادونو کې په بې ساري توګه پراختیا موندله او تر نورو هېوادونو په سویس کې یې پراختیا چټکه وه؛ د عمر بیمه په دوه ډوله ده:

د عمر بیمه د ژوند (حیات) په شرط.

د عمر بیمه د مړینې په شرط.

د ژوند په شرط د عمر په بیمه کې هغه مهال پانګه ورکول کېږي، چې بیمه شوی تر یوه ټاکلي وخت پورې ژوندی وي. د دې پرخلاف، د مړینې په شرط بیمه کې، پانګه د بیمه شوی تر مړینې پورې موکوله ده.

د حریق بیمه هم د پخوانیو بیمو په ډله کې شمېرل کېږي. د تاریخي شواهدو له مخې، په ۱۶ مه پیړۍ کې د جرمني په شمالي ښارونو لکه هامبورګ کې ځېنې ځانګړي دفترونه د اور او ښاروالیو په نامه رامنځته شول. دغې ادارې به د کورونو له خاوندانو څخه د کلنۍ ونډې تر نامه د یوه اندازه پیسو په ترلاسه کولو سره، د اورلګېدنې پېښو د رامنځته کېدو پرمهال رامنځته شوی زیان جبراناوه.

پر ۱۶۶۶ میلادي کال په لندن ښار کې د اورلګېدنې یوه لویه پېښه رامنځته شوه؛ یادې اورلګېدنې څلور ورځې دوام وموند. د اورلګېدنې دغه پېښه په واقعیت کې، د اورلګېدنې د بیمې د پراختیا لپاره یوه ستره انګیزه وه.

د حریق د بیمې په ډولونو کې کولی شو له لاندې څخه یادونه وکړو:

۱- د ګودامونو د حریق بیمې شرایط.

۲- د منتاژ په حال کې د ماشین الاتو بیمه.

۳- د ورځې په نرخ د جایدادونو بیمه.

۴- له توافقي ارزښت سره د مالونو بیمه.

۵- د بیکارۍ بیمه.

۶- د فرعي حوادثو بیمه.

په وروستیو لسیزو کې د فرعي او متفرقه حوادثو بیمه هم په حریق بیمه کې شامله شوې ده.

ketabton.com - The Digital Library

**د څلورم څپرکي پوښتنې:**

۱- د بیمې ترټولو پخوانې څانګه کومه یوه ده، نوم یې واخلئ او په اړه یې خپل معلومات ولیکئ؟

۲- د سمندري بیمې ترون په څو ډوله دي، په اړه یې معلومات ورکړئ؟

۳- د سمندري بیمې زیانونه په څو برخو وېشل کېږي؛ نومونه یې واخلئ او هره یوه یې توضیح کړئ؟

۴- د اشخاصو تر ټولو مهمه او پخوانۍ بیمه په څه نامه یادېږي؟

۵- د عمر بیمه تعریف کړئ؟

۶- د عمر بیمه په څو ډوله ده، هره یوه یې شرح کړئ؟

۷- د حریق بیمې د مخینې په اړه خپل معلومات ولیکئ؟

۸- د حریق بیمې ترون تشریح کړئ ؟

۹- د حریق بیمې د ډولونو یوازې نومونه واخلئ؟

۱۰- په توافقي ارزښت د مالونو بیمه تشریح کړئ؟

۱۱- د حریق د فرعي حوادثو د بیمې په اړه معلومات ورکړئ؟

ketabton.com - The Digital Library

# پنځم څپرکی

## د پېښو بیمه

**ټولیزه موخه:**
د پېښو له بیمې سره آشنایی او د پېښو د بیمې ارزونه.

**د زده کړې موخې:** د دغه څپرکي په پای کې به زده کوونکي پر دې وتوانېږي ترڅو:

۱- د غلا (سرقت) بیمه تعریف کړي.

۲- د سرقت د بیمې ډولونه وپېژني او له یو بل سره یې پرتله کړي.

۳- د شخصي حوادثو بیمه توضیح کړي.

۴- د اکسیډنټ (تصادم) مفهوم بیان کړي.

۵- د کارګرانو بیمه توضیح کړي.

۶- د مسوولیت د بیمې په اړه کافي معلومات ترلاسه کړي.

ketabton.com - The Digital Library

**د سرقت بیمه:** د مالونو د غلا کېدو پېښې ته سرقت وايي، خو د بیمې د تګلارې له مخې، هغه ته وايي، چې سارق يې د ترسره کولو پرمهال د قوې د تشديدولو په وسيله، کور ته داخلېږي. او یا يې په ګواښلو سره غلا په داسې بڼه ترسره کړی وي، چې نښې يې څرګندې وي. د بېلګې په توګه، د دروازې، کولپ، ښېښې او داسې نورو ماتول.

د پورتنیو نښو او علایمو له څرګندېدو پرته هم د غلا عمل ترسره کېږي. که چېرې د سرقت عمل د بیمه شوي کور د کوم غړي یا مستخدم په مرسته ترسره شوی وي، نو دغه شرايط د سرقت بیمې تر شرايطو لاندې نه راځي او بیمه يې نه اجرا کېږي.

**د سرقت بیمې ډولونه:**

**د خصوصي ودانیو د مالونو د سرقت بیمه:** د غه بیمه، د کور وسایل، شخصي مالونه، فرنیچر، د سرو او سپینو زرو ګاڼې او داسې نور ګران بیه توکي په بر کې نیسي. (د زیوراتو او ګران بیو شیانو بیه باید د ټولو بیمه شویو مالونو تر $\frac{1}{3}$ برخې زیاتې نه شي او همدارنګه د هر قلم زیور بیه، باید د ټولو مالونو د بیمې تر پنځه سلنه زیاته نه وي).

**د سوداګریزو مالونو د سرقت بیمه:** د بیمې تر دغې تګلارې لاندې، د دفترونو، مغازو، پلورنځیو، ګودامونو څېزونه او د مالونو نور ډولونه، لکه د سوداګرو مالونه، یا هغه مالونه، چې په امانتي توګه یا د کمېشنکاري لپاره ایښودل شوي وي، همدارنګه نغدي پیسې چې په سیف کې ساتل کېږي، بیمه کېږي.

**د ټولو خطرونو بیمه:** د بیمې دغه تګلاره، قیمتي مالونه لکه ګاڼې، تزییني مالونه، انځوریز او هنري اثار په بر کې نیسي. د بیمې دغه ډول، د مالونو د غلاوې د پېښې ترڅنګ، د اورلګېدنې (حریق) ناڅاپي ماتېدو پېښې هم احتوا کوي.

**د لېږدولو پرمهال د نغدو پیسو د سرقت بیمه:** د پولي حوالو په ګډون پیسې له یوه ځایه بل ځای ته، په معمول ډول، له دفتره بانک ته یا د پوستې دفتر ته، او بېرته اداري ته د لېږدولو پرمهال بیمه کېږي، چې دغه د بیمې تګلاره، د قطاع طریقي په ګډون، د پیسو د غلاوو پېښې په بر کې نیسي.

**د شخصي (بدني) پېښو بیمه:** د بیمې دغه ډول، د هغو بیمو په ډله کې شمېرل کېږي، چې د سوداګریزو مالونو او اورلګېدنې (حریق) پرتله وروسته رامنځته شوي او د بیمې یو نوی ډول ګڼل کېږي. د شخصي پېښو بیمه پر ۱۹۱۴ کال د ګاډو د زیاتېدو له امله دود شوه. په صنایعو او فابریکو کې د ماشین الاتو او تخنیکي وسایلو کارول، مرګوني ټپي کېدنې او جسمي زیانونه په بر

ketabton.com - The Digital Library

کې درلودل، نو په دې توګه، د شخصي پېښو (حادثاتو) بیمې ورځ تر بلې پراختیا موندله. لکه ځرنګه، چې اوسمهال، هغه کارګران، چې د اټومي ځېرنیزو او د هستوي ریسرچ په مرکزونو کې په کار ګومارل شوي، یا هغه کسان، چې له رادیو اکتیفي موادو سره په تماس کې دي، له زیاتو خطرونو سره مخ دي.

د انسان ژوند د ورځني ژوندانه په بهیر کې، د بېلابېلو پېښو لکه ترافیکي پېښو، د الوتکو غورځېدلو، لوېدلو، معیوبیتونو او داسې نورو له امله، له راز راز ګواښونو سره مخ دي، چې بیمه د یادو پېښو پر وړاندې د انسان شخصي حوادث، چې رامنځته کېدل یې په ناڅاپي او نامترقبه بڼه وي، بیمه کوي.

**د اکسیډنټ (ټکر) تعریف:** هره پېښه، چې په ناڅاپي توګه رامنځته او شخص تر دې مخکې یې نه وي احساس کړی، تصادم (اکسیډنټ) ورته ویل کېږي. د یادونې وړ ده، چې دغه بیمه، د غراماتو د جبران بیمه نه ده، بلکې تر هغې لاندې د بیمه کېدونکي شخصي مالي حقوق او امتیازات د اعادې وړ دي. شخصي مالي امتیازات د تړون د ترسره کېدو په پیل تر لاندې څلورو اجزاوو ټاکل کېږي:

الف- مړینه.

ب- دایمي کلي فلج.

ج- لنډمهاله کلي فلج.

د- د درملنې لګښتونه.

د هغو پیسو اندازه، چې د بیمې شرکت یې د مړینې یا ټپي کېدو د پېښې د رامنځته کېدو په صورت کې، بیمه کېدونکي ته ورکوي، په پیل کې د بیمې انفاذ تثبیتېږي. د بیمې وړ کسان، د هغې دندې د ځرنګوالي له پلوه چې ترسره کوي یې، ارزول کېږي او په هره کچه یې، چې دنده له لړو ګواښونو سره مخ وي، په هماغه اندازه یې د بیمې د بیې سلنه ټیټه وي او که چېرې یې په دندو کې د ګواښ او ټپي کېدو شونتیا ډېره موجوده وي، نو د حق البیمې د بیې اندازه هم زیاته ټاکل کېږي. د بېلګې په توګه: د هغه کس دنده، چې په یوه کان کې کار کوي، د هغه چا پرتله، چې په مصون دفتر کې دنده ترسره کوي، په مراتبو ګواښمنه او له خطره ډکه ده.

د شخصي یا انفرادي حوادثو بیمې، په بېلابېلو ډولونو باندې وېشل کېږي، تر ټولو مهمې یې په لاندې توګه دي:

**د ټول وخت د پېښو بیمه:** هغه پېښې په بر کې نیسي، چې د ژوند په ټولو وختونو یعنې هم په ازادو او هم په کاري وختونو کې، رامنځته کېږي، نو ځکه یوه بشپړه بیمه ګڼل کېږي.

ketabton.com - The Digital Library

د کار په پایله کې د رامنځته شویو پېښو بیمه:

یوازې هغه پېښې په بر کې نیسي، چې بیمه شوی کس د شغلي کار د ترسره کولو پرمهال ورسره مخامخېږي. دبیمې دغه ډول پر لاسي او نورو ازادو کارونو بوختو کسانو لپاره ډېر ګټور وي، چې د ټولنیزې بیمې له ګټو څخه بې برخې دي، او یا د زیات تضمین غوښتونکي دي.

**د خصوصي وختونو د پېښو بیمه:** په دغه بیمه کې، پېښه هغه مهال جبرانېږي، چې د بیمه شوي خصوصي ژوند په وختونو کې رامنځته شي، نه پر ورځنیو چارو او مسلک باندې د بوختیا پرمهال.

**د ځانګړو ګواښونو (خطرونو) بیمې:** په دغو بیمو کې، یوازې یو ټاکلی خطر بیمه کېږي.

**د متفرقه پېښو بیمه:**

**د کارګرانو بیمه:** د بیمې هغه ډول دی، چې د اړوندو کارګرانو او کارکوونکو پر وړاندې، د دولتي او خصوصي موسسو د مالکینو او متصدیانو مکلفیت جوتوي. یعنې که چېرې کارګران یا کارکوونکي د یوې پېښې په پایله کې معیوب، ټپي یا مړ شي، نو متصدیان پر دې مکلف دي، چې د تاوان هغه پیسې، چې د بیمې موسسه یې پر غاړه اخلي، کارګر یا یې کورنۍ ته ورکړي.

په هغو هېوادونو کې، چې صنعتي کمپلیکسونه پکې زیات دي، په تولیدي او ثقیله صنایعو کې له ماشین الاتو څخه کار اخیستل کېږي، د کار او کارګر د قانون له مخې، مالکین او صنعتي موسسې له قانون سره سم پر دې مکلف شوي، که چېرې کارګران یا کارکوونکي د کار د ترسره کولو پرمهال له همداسې پېښو سره مخامخېږي، نو د تاوان پیسې یې باید ورکړل شي، ترڅو له اقتصادي پلوه یې ژوند تامین شي.

د دغه مکلفیت د پوره کېدو په موخه، په ټولو هېوادونو کې د کارخانو او صنعتي مرکزونو کارګران بیمه شوي، ان د کارګرانو بیمه اجباري بڼه لري. د افغان بیمې موسسه هم چمتو ده، د قانوني مکلفیتونو له مخې، په هېواد کې ټولې مېشتې خصوصي موسسې بیمه کړي. باید ووایو، چې د بیمې حق، د کارګرانو په معاش او دهغوی د کار د څرنګوالي له مخې، چې دوی یې سرته رسوي، محاسبه کېږي. هغه کارګران، چې پر ستونزمنو او له خطرو ډکو چارو، لکه په کانونو یا د ودانیو په جوړولو بوخت دي، د هغو کسانوپه پرتله له زیات خطر سره مخ دي، چې دنده یې د خونې په دننه کې وي او د حق البیمې بیه یې هم لوړه ده.

**د عامه مسوولیت بیمه:** د دغې تګلارې له مخې، د بیمې موسسې د مالکینو، کارخانو، موسسو، ودانیو او د دولتي او خصوصي موسسو د متصدیانو قانوني مسوولیت، چې پخپله د بیمه شویو،

ketabton.com - The Digital Library

اشخاصو، مستخدمینو یا نورو اړوندو کسانو د بې غورۍاو نه پاملرنې له امله یا د ودانیو په دننه یا د کار په ساحه کې د کومې نیمګړتیاوې او یا د اړوندو وسایلو او سامانونو په پایله کې، بیمه شوي ته جسمي زیان ورسېږي یا د دربیم شخص مالونو ته زیان واوړي، د بیمې موسسه یې زیان جبرانوي. دغه بیمه د لاندینیو محلو او مراجعو لپاره ورکول کېږي:

د ودانیو، کارخانو، پلورنځیو، د ساختماني چارو دستګاوو، هوټلونو، رستورانتونو، روغتونونو، روزنځایونو، سینماګانو او داسې نورو مالکینو ته.

**د امانت دارۍ بیمه:** تر دغې بیمې لاندې د زیان هغه بیمه، چې د موسسو، دستګاوو، بانکونو متصدیان یا د کارخانو مالکین او نورو لپاره په داسې مواردو تضمینېږي، چې مستخدمین، کارکوونکي یا اړوند کسان یې، د دندو د ترسره کولو پر مهال، د پیسو په راکړه ورکړه او پر مالونو د څارنې په برخه کې، د رښتینولی د نه رعایت له امله، د درغلۍ، ریا، اختلاس او یا غلا مرتکب شي.

### د پنځم څپرکي دمطالبو لنډیز:

د مالونو د غلا پېښې ته سرقت وایي، که چېرې د سرقت عمل د بیمه شوی کور د کوم غړي یا مستخدم په مرسته ترسره شوی وي، نو دغه شرایط د سرقت بیمې تر شرایطو نه راځي او بیمه یې نه اجرا کېږي.

د غه بیمه، د کور وسایل، شخصي مالونه، فرنیچر، د سرو او سپینو زرو ګاڼې او داسې نور ګران بیه توکي په بر کې نیسي. د پولي حوالو په ګډون پیسې له یوه ځایه بل ځای ته، د لېږدولو پرمهال بیمه کېږي.

د شخصي (بدني) پېښو بیمه، د هغو بیمو په ډله کې شمېرل کېږي، چې د سوداګریزو مالونو او اورلګېدنې (حریق)په پرتله وروسته رامنځ ته شوي او د بیمې یو نوی ډول ګڼل کېږي. د شخصي پېښو بیمه پر ۱۹۱۴ کال، د ګاډو د زیاتېدو له امله دود شوه. د شخصي حوادثو بیمه، د یادو پېښو په پایله کې رامنځته شوي خطرونه، چې پېښېدل یې په ناڅاپي بڼه وي، بیمه کوي. د شخصي یا انفرادي حوادثو بیمې بېلابېل ډولونه لري، چې ترټولو مهم یې د ټول وخت د حوادثو بیمه، د کار په پایله کې د رامنځته شویو حوادثو بیمه، د خصوصي وختونو د حوادثو بیمه، د ځانګړو خطرونو بیمې، د متفرقه بیمو په ډله کې د کارګرانو بیمه، چې د اړوندو کارګرانو او کارکوونکو پر وړاندې، د دولتي او خصوصي موسسو د مالکینو او متصدیانو مکلفیت جوتوي. یعنې که چېرې کارګران یا کارکوونکي د یوې پېښې په پایله کې معیوب، ټپي یا مړه شي، نو متصدیان پر دې مکلف دي، چې د غرامت هغه پیسې، چې د بیمې موسسه یې پر غاړه اخلي، کارګر یا کورنۍ ته یې ورکړي.

ketabton.com - The Digital Library

**د پنځم څپرکي پوښتنې:**

۱- د سرقت بیمه تعریف کړئ؟

۲- د سرقت بیمې د ډولونو یوازې نومونه واخلئ؟

۳- د خصوصي مالونو د سرقت بیمه تعریف کړئ؟

۴- د سوداګریزو مالونو د سرقت بیمه توضیح کړئ؟

۵- د ټولو خطرونو بیمه څه ډول بیمه ده، خپل معلومات وړاندې کړئ؟

۶- د لېږدونې پرمهال د نغدو پیسو د سرقت دبیمې په اړه معلومات ورکړئ؟

۷- اکسیډنټ (ټکر) تعریف کړئ؟

۸- د شخصي یا انفرادي حوادثو بیمه پر کومو څانګو وېشل کېږي، یوازې یې نومونه واخلئ؟

۹- د عامه مسوولیت د بیمې په اړه خپل ټول معلومات ولیکئ؟

۱۰- د امانت بیمه تعریف کړئ؟

ketabton.com - The Digital Library



# د معاصرو بیمو نور مهم ډولونه

**تولیزه موخه:**
پر پخوانیو بیمو سربېره د ننني مهمو بیمو کتنه.

**د زده کړې موخې:** د دغه څپرکي په پای کې به زده کوونکي پر دې وتوانېږي، چې:

۱- د ناروغۍ او تقاعد د بیمې په تړاو معلومات ولري.

۲- د احشامو د مړینې، په وچه کې د ترانسپورت او اعتبار بیمې توضیح کړي.

۳- د باران، ږلۍ او د کرنیزو چارو د بیمو په اړه معلومات وړاندې کړي.

۴- په محکمو کې د دفاع، د اوبو په پایله کې د رامنځته شویو ضایعاتو، اعتصاب او پاڅون له بیمو سره اشنا شي.

۵- د ګاډو بیمه توضیح کړي.

۶- هوایي بیمه په ښه توګه وپېژني.

ketabton.com - The Digital Library

**د احشامو د مړینې بیمه:** د دغې بیمې په وسیله څاروي لکه اس، غویې، پسه، وزه او خوګ بیمه کېږي. د یادونې وړ ده، چې د بیمې دغه ډول، په ټولو هېوادونو کې دود دی.

**د ناروغۍ بیمه:** په دغه بیمه کې تضمین په دوه ډوله ترسره کېږي. د ثابتو ورځنیو تاوانونو ورکړه او د درملنې او درملو د لګښتونو تضمین. په لومړي ډول کې، بیمه کوونکی ژمنه کوي، چې د هرې ورځې ناروغی په بدل کې تر ټاکلې مودې پورې د پیسو یوه ټاکلې اندازه بیمه کېدونکي ته ورکوي. تاوان په هغه صورت کې د ورکړې وړ دی، چې ناروغ بیمه کېدونکی د خپلې ناروغۍ په شپو ورځو کې د کارکولو توان په بشپړه توګه له لاسه ورکړی وي. که چېرې د ناروغ ناروغتیا اوږده یا مزمنه شي، نو د کار لوېدنې یا مسوولیت له بیمې څخه کار اخیستل کېږي. په دغه بیمه کې، هغه لګښتونه تضمین او ورکول کېږي، چې د درملنې او درملو لپاره په مصرف رسېږي. لکه: د ډاکټر د کتنې، درملو، فیس، د غاښونو د ډاکټر، جراحي او داسې نور لګښتونه. شرکتونه په معمول ډول، دغه بیمه په ډله ییزه توګه منې او دغه تضمین تر ډېره کچه په ټولنیزو بیمو کې کارول کېږي.

**د تقاعد بیمه:** لکه څرنګه چې ښکاره ده هرڅومره، چې انسان د زړښت خواته نږدې کېږي، په هماغه اندازه یې بدنې ځواک کمېږي، په دې توګه داسې یو وخت رارسېږي، چې نور نه شي کولی، خپلې دندې ته دوام او د ژوند لګښتونه برابر کړي، د دغې بیمې په وسیله، کولی شو، دغه خطر په مناسبه توګه تضمین کړو. د دې په خاطر چې د زړښت لپاره یوه ټاکلې او ځانګړې ضابطه او معیار موجود وي، نو په ټولنیزو او دولتي بیمو کې د زړښت لپاره ټاکلی عمر ټاکل شوی دی، چې له مخې یې له کاره لویدلي بیمه کېدونکي پېژندل کېږي. په افغانستان کې معمول ۶۵ کلنی، د دولتي کارکوونکو لپاره د تقاعد عمر ټاکل شوی دی.

**په وچه کې د باروړلو بیمه:** دغه بیمه هغه زیانونه جبرانوي، چې بیمه شوي څیز ته په وچه یا له یوې سیمې بلې سیمې ته د لېږدونې پرمهال واوړي. هغه خطرونه، چې په دغه بیمه کې تضمینېږي عبارت دي، له: د ترانسپورتي وسیلې ماتېدل، زنګ وهل، لوندوالی، نه سپارلو او غلا له اړخه رامنځته شوي زیانونه.

**د اعتبار بیمه:** هغه زیانونه تضمینوي، چې ممکن د مطالباتو د نه سپارلو له امله، سوداګرو او صنعت کارانو ته ورسېږي. البته بیمه کوونکی د بیمې تړون تر لاسلیکولو وړاندې د بیمه کېدونکي د اخلاقو، فعالیت او تېر اعتبار په اړه له بېلابېلو منابعو څخه دقیق معلومات ترلاسه کوي او ورپسې یې پر بیمه کولو اقدام کوي.

**هوایي بیمه:** هغه پېښې بیمه کوي، چې ممکن د الوتکو په وسیله رامنځته شي. دغه خطرونه، د سپرلیو (مسافرو او خدمه وو دواړو) د حوادثو، د مساپرو او دربیم شخص پر وړاندې د پیلوټانو

ketabton.com - The Digital Library

د حقوقي مسوولیت بیمه، د سقوط، اور اخیستلو او چاودلو په پایله کې، الوتکي ته اوښتي زیانونه په بر کې نیسي.

**د باران بیمه:** دغه بیمه، په ازاد چاپېریال کې، سیلانیانو او د نندارتونونو خاوندانو ته د باران د اورښت په پایله کې رامنځته شوي زیانونه په بر کې نیسي.

**د ړلیو بیمه:** دغه بیمه په بشپړه توګه د متخصصو شرکتونو له خوا ترسره کېږي. په هغو هېوادونو کې، چې د ړلیو د اورښت کچه زیاته ده، نو دولتونه بزګران دې ته هڅوي، چې خپل محصولات بیمه کړي. د دغې بیمې د بیې په ټاکلو کې دریو لاملونو ته پاملرنه کېږي: د محصول ډول، د محصولاتو سیمه او بیمه شوې پیسې چې د راتلونکي کال د محصول په اټکل سره ټاکل کېږي.

**په محکمو کې د دفاع بیمه:** دغه بیمه په ټاکلې کچه د دعوا لګښتونه، حق الوکاله او د کارپوه مصارف، په هغه صورت کې، چې د بیمه کېدونکي ورته اړتیا پېښه شي، جبرانوي. په ځینو هېوادونو کې د مخصوصو بیمو شرکتونه، دغه چارې سرته رسوي.

**د اوبو په پایله کې د رامنځته شویو ضایعاتو بیمه:** له دغو ضایعاتو څخه موخه، هغه مادي ضایعات دي، چې د کور یا پلیو لارو له نلونو څخه د اوبو د څڅېدو په پایله کې رامنځته کېږي.

**د اعتصاب او بلوا بیمه:** باید ووایو، د هغو شرکتونو شمېر ډېر لږ دی، چې دغه خطرونه تضمینوي. دغه بیمه، یوه مخصوصه بیمه ده، چې د هغو مادي ضایعاتو او ترمیماتو لپاره کار ترې اخیستل کېږي، چې د اعتصاب کوونکو او یاغیانو د کړنې په پایله کې رامنځته کېږي.

**د کرنیزو چارو د بیمې ډولونه:**

الف- د درمند ماتولو بیمې، هغه زیانونه جبرانوي، چې د کرنیزو ګاډو له اړخه، کارګرانو یا دربېیم شخص ته اوړي.

ب- کرنیزه بیمه، هغه زیانونه جبرانوي، چې کروندوګر او یا هغو کسانو ته اوړي، چې له کروندوګر سره مرسته کوي.

ج- ځنګلي بیمه، چې د ځنګل د کارګرانو وظیفوي خطرونه بیمه کوي.

**د موټر بیمه:**

تر هغه وروسته چې موټر بازارته وړاندې شو، په هماغه سر کې، چې لا خطرونه او ګواښونه

ketabton.com - The Digital Library

يې روښانه نه وو، بيمه شو. د موټرو د بيمې لومړنی ټرون پر ۱۹۰۲ کال، د بوستون شرکت له خوا صادر شو. په دې توګه، هغه زيانونه، چې د تصادف له امله، بيمه شوي موټر ته اوښتل د موټر د بيمې له خوا به جبرانېدل.

کله چې له موټر څخه يادونه کېږي، ټول څمکني ګاډي لکه شخصي موټر، د سورلۍ موټر، لارۍ، موټرسايکل، ټراکټور او داسې نور په بر کې نيسي. په معمول ډول، هغه تضمين، چې په ياده بيمه کې د بيمه کوونکي له خوا وړاندې کېږي، د موټر د چلولو، سوځېدلو او غلاوو تصادف او د دربيم شخص زيانونه په بر کې نيسي. دغه بيمه د موټر لرونکو لپاره ډېره اړينه او مهمه ګڼل کېږي. له هغه ځايه، چې ټولنيز اړخ لري، نو په زياترو هېوادونو کې يې اجباري بڼه غوره کړې ده. د موټرو د بيمې تر ټولو بشپړ او لومړنی ډول، د (ټول خطر) بيمه ده، چې ټول پورتني تضمينونه په بر کې نيسي. بايد ووايو، چې د سپرلۍ او د کارخانو د موټرو بيمه هم شته، چې د ټرون له مخې ځانګړي خطرونه بيمه کوي. د موټروپه بيمه کې، د بيمې حق د ارزښت او همدارنګه د ځواک پر بنسټ ټاکل کېږي.

### د شپږم څپرکی دمطالبو لنډيز

د احشامو د مړينې بيمه، څاروي بيمه کوي. د بيمې دغه ډول، په ټولو هېوادونو کې دود نه دی. د ناروغۍ په بيمه کې تضمين په دوه ډوله ترسره کېږي. د ثابتو ورځنيو تاوانونو ورکړه او د درملنې او درملو د لګښتونو تضمين.

د تقاعد بيمه: دغه بيمه د دندې د ترسره کېدو توان له لاسه ورکولو اودژوند لګښتونه تضمينوي. په وچه کې د باروړلو بيمه، هغه زيانونه جبرانوي، چې بيمه شوي څيز ته په وچه يا له يوې سيمې بلې سيمې ته د لېږدونې پرمهال وراوړي. د اعتبار بيمه، هغه زيانونه تضمينوي، چې ممکن د مطالباتو د نه سپارلو له امله، سوداګرو او صنعت کارانو ته ورسېږي. د هوايي پېښو بيمه، هغه پېښې بيمه کوي، چې ممکن د الوتکو په وسيله رامنځته شي.

د باران بيمه  د اورښت په پايله کې رامنځته شوي زيانونه جبرانوي.  د ړليو بيمه، د بزګرانو د تشويق لپاره ترسره کېږي. په محکمو کې د دفاع بيمه، په ټاکلې کچه د دعوا لګښتونه، حق الوکاله او د کارپوه مصارف، په هغه صورت کې، چې د بيمه کېدونکي ورته اړتيا پېښه شي، جبرانوي.

د اوبو په پايله کې د رامنځته شويو ضايعاتو بيمه، له دغو ضايعاتو څخه موخه، هغه مادي ضايعات دي، چې د اوبو په پايله کې رامنځته کېږي. په داسې حال کې، چې د  اعتصاب او بلوا

ketabton.com - The Digital Library

بیمه، یوه ځانګړې بیمه ده، چې د شرکتونو شمېر یې ډېر لږ دی. د کرنیزو چارو بیمه، هغه ده، چې کروندګر ته اوښتي زیانونه بیمه کوي. د ګاډي بیمه، کله چې له ګاډي څخه یادونه کېږي، ټول ځمکني ګاډي لکه شخصي موټر، د سپرلۍ موټر، لارۍ، موټرسایکل، ټراکټور او داسې نور په بر کې نیسي. په معمول ډول، هغه تضمین، چې په یاده بیمه کې د بیمه کوونکي له خوا وړاندې کېږي، د موټر د چلولو، سوځېدلو او غلاوو پیښېدو او د دریم شخص زیانونه په بر کې نیسي.

ketabton.com - The Digital Library

**د شپږم څپرکي پوښتنې:**

۱- د احشامو د مړينې بيمه توضيح کړئ؟

۲- د ناروغۍ د بيمې په اړه خپل معلومات بيان کړئ؟

۳- د تقاعد بيمه بيان کړئ؟

۴- د اعتبار او وچې باروړنې بيمه تعريف کړئ؟

۵- د ړليو او باران بيمه څه توپيرونه لري، واضح يې کړئ؟

۶- د کرنيزو چارو د بيمې په اړه خپل معلومات وليکئ؟

۷- د ګاډو او هوايي بيمې ترمنځ توپيرونه څرګند کړئ؟

۸- د اعتصاب او بلوا بيمه بيان کړئ؟

۹- په محکمو کې د دفاع بيمې په اړه خپل معلومات وړاندې کړئ؟

ketabton.com - The Digital Library



# د افغان ملي بیمې په وسیله دود شوې بیمې

**ټولیزه موخه:**
د افغان ملي بیمې د فعالیت څرنګوالی

**دزده کړې موخې:** زده کوونکي به د دغه څپرکي په پای کې:

۱- د افغان ملي بیمې د سوداګریزو مالونو (مال التجارت) آمریت د فعالیتونو له څرنګوالي سره اشنا شي.

۲- د افغان ملي بیمې په وسیله د حریق بیمې د څرنګوالي په اړه کافي معلومات ترلاسه کړي.

۳- د افغان ملي بیمې په وسیله د ګاډي د بیمه کېدو د څرنګوالي په اړه معلومات ترلاسه کړي.

۴- د افغان ملي بیمې د زیانونو د جبران له څانګې سره اشنا شي.

۵- د هېواد د بیمې د عملي فعالیتونو په اړه به یو کلي تصویر حاصل کړي.

**د افغان ملي بیمې شرکت:**

له هغه ځایه، چې افغان ملي بیمه د هېواد په کچه د بیمې یوازینۍ فعاله اداره ده او له بلې خوا د دغې موسسې د فعالیتونو له څرنګوالي سره اشنایي د بیمې د موضوعاتو په پوهیدنه کې زیاته مرسته کوي، نو دا به بې ګټې نه وي، چې د یادې موسسې د روان فعالیت پروګرام، لکه

څرنګه يې چې په خپرونه کې (د افغان ملي بيمې شرکت) ترنامه لاندې خپاره شوي، کټ مټ دلته رانقل او په دې توګه، د هېواد د ملي بيمې د فعاليتونو په تړاو خپله انګېرنه بشپړه کړو. په ياده رساله کې، تر سريزې وروسته، د بيمې په اړه يو شمېر معلومات وړاندې شوي، چې موږ دلته د (( د افغان ملي بيمې له خوا اوسنۍ مروجې بيمې)) تر سرليک لاندې يې تر څېړنې لاندې نيسو:

**د سوداګرۍ مال (مال التجارت) بيمه:** د سوداګرۍ مال (مال التجارت) آمريت د افغان ملي بيمې په کچه، د هېواد مالي بيمې د پياوړتيا او د ملي سوداګرو او خصوصي متشبثينو د وارداتي او صادراتي مالونو د ساتنې په موخه، خپل فعاليتونه له سره پيل کړي، چې د خپلو مشتريانو سوداګريز مالونه د درې ګونو کلاسونو تر شرايطو لاندې په لاندې توګه بيمه کوي:

**د A کلاس، ټول خطرونه (All Risks):**

١- دغه بيمه ليک د ترانزيت په درشل کې، هر راز خطر په بر کې نيسي.

٢- د اوريج جنرال فقره: دغه بيمه ليک، د ايورج جنرل لګښت، د بېړۍ او د بېړۍ د بار د ژغورلو لپاره لګښتونه په بر کې نيسي.

٣- د تصادم پرمهال د دواړو لوريو فقره.

B کلاس –بيمه شوي مال ته هغه اوښتي زيانونه په بر کې نيسي، چې د لاندېنيو لاملونو زېږنده وي:

١- حريق او يا چاودنه.

٢- کله چې بېړۍ په خټو کې بنده شي، يا ډوبه او يا هم نسکوره شي.

٣- کله چې ځمکنې نقليه وسيلې چپه شي.

۴- د بېړۍ يا د ترانسپورت د نورو وسيلو تصادم او ټکر.

۵- په بېړنۍ بندر کې د بيمه شويو مالونو تخليه.

۶- زلزله، اورغورځوونکی، تالنده او برېښنا.

٧- هغه مالونه، چې ايورج جنرل ته وقف شوي وي.

٨- سيند ته د توکو غورځول چې اوبه يې له ځانه سره يوسي.

ketabton.com - The Digital Library

۹- بېړۍ، د ترانسپورت بلې وسیلې او کانتینر یا زېرمه ځای ته د سمندر یا سیند د اوبو ننوتل.

۱۰- د مالونو د بارولو یا تشولو پرمهال له بېړۍ څخه د بشپړې بستې (ګاټ) ورکېدل.

**دCکلاس دبیمه شوي مال د هغوخطرونواوزیانونوفقره،چې دلاندولاملونو زېږنده وي:**

۱- حریق او یا چاودنه.

۲- کله چې بېړۍ په ختو کې بنده شي، یا ډوبه او یا هم نسکوره شي.

۳- کله چې ځمکنۍ نقلیه وسیلې چپه شي.

۴- د بېړۍ یا د ترانسپورت د نورو وسیلو تصادم او ټکر.

۵- په بېړني بندر کې د بیمه شویو مالونو تخلیه.

۶- هغه مالونه، چې ایورج جنرل لپاره وقف شوي وي.

۷- د بېړۍ د وزن د کمولو په موخه په سیند کې د توکو غورځول.

**ټولیز استثناآت:** دغه کلاسونه په هېڅ صورت، لاندیني زیانونه په بر کې نه نیسي.

۱- د بیمه شوي د ناوړه قصد په پایله کې رامنځته شوي زیانونه او لګښتونه.

۲- د عادي سوریوالي او د وزن د عادي راټیټولو په پایله کې رامنځته شوي ضایعات.

۳- هغه زیانونه او لګښتونه، چې تر بیمې لاندې مالونه د ناسمې بسته بندۍ او برابرولو په پایله کې رامنځته کېږي.

۴- هغه زیانونه او لګښتونه، چې تر بیمې لاندې مال د ذاتي فشار په پایله کې رامنځته کېږي.

۵- هغه زیانونه او لګښتونه، چې د ځنډ په پایله کې رامنځته کېږي.

۶- هغه زیان او لګښتونه، چې د بېړۍ د خاوند د مالي کمزورتیا په پایله کې رامنځته کېږي.

۷- هغه زیان او لګښتونه، چې د جګړه ییزو وسلو د کارولو په پایله کې رامنځته شوی وي، چې پکې اټومي یا هستوي انشقاق او یا نور ورته تعامل صورت مومي، او یا دا چې د رادیو اکتیفي موادو د خپرېدا لامل شي.

۸- هغه لګښتونه، چې د بېړۍ او د لېږدونې د هغې وسیلې د نامناسبوالي په پایله کې رامنځته

ketabton.com - The Digital Library

کېږي، چې په مرسته یې بیمه شوي مالونه په مصئونه توګه کانتینر ته لېږدول کېږي.

په هیڅ صورت دغه بیمه لیک هغه زیان او لګښتونه په بر کې نه نیسي، چې د لاندې موضوعاتو په پایله کې رامنځته شوي وي:

۱- کورنۍ جګړه، انقلاب، پاڅون، بلوا او داخلي لانجه.

۲- ضبط، تسخیر، توقیف، او هغه پایلې، چې د ماینونو، بمونو او نورو جګړه ییزو وسلو د ډولونو د کارولو له امله رامنځته شوي وي.

دغه بیمه لیک یې په هېڅ صورت هغه زیانونه او لګښتونه نه ورپوره کوي، چې د لاندینیو لاملونو زېږنده وي:

۱- د هغو کارګرانو د اعتصاب مستقیم عمل، چې د کارخانې دروازې یې پر مخ تړل شوي وي.

۲- د هر ترهګر او یا هر هغه چا کړنې، چې د سیاسي انګیزې له مخې ترسره شوې وي.

د دې لپاره، چې د بیمې موسسې وکولی شي، د مال التجارت د زیانونو د جبران له مخې او پر خپل وخت د بیمه شویو مالونو غرامت ورکړي، نو تر ټولو دمخه باید د زیان تثبیت شوي سندونه، د افغان ملي بیمې شرکت وسپارل شي. که چېرې د زیان سندونه او اثبات د افغان ملي بیمې شرکت له شرایطو سره سمون وخوري، نو یاد شرکت خپل مکلفیت بولي، چې ډېر ژر رامنځته شوی زیان جبران کړي. د زیان سندونه او اثبات باید د بېړۍ د بار لیک (Bill of Landing) په شان وړاندې شي. په دغه صورت کې، مشتري مکلف دی، چې د نسخې اصل یا د سرټیفیکټ لند شارت (Short land certificate) یا د تحویلۍ هغه سند، چې د بېړۍ چلولو د شرکتونو له خوا صادرېږي، له ځانه سره ولري او د بیمې د زیان د جبران دفتر ته یې وړاندې کړي. که چېرې د جنس بشپړې بستې د ترانسپورت د نورو موسسو له خوا د مال خاوند یایې استازي ته نیمګړي وسپارل شي، باید د دغه نیمګړی تحویلۍ سند، چې په معموله توګه، د لېږدونکي له خوا په دې اړه صادرېږي، موسسې ته وسپارل شي، که دغه نیمګړی تحویلۍ یا مفقودۍ په بندر کې رامنځته شوې وي، اړینه ده، چې د رسېدلي، خو د ورک شوی سند missing landing but، چې د بندري چارواکو له خوا صادرېږي، د بیمې موسسې ته وړاندې شي.

که چېرې زیان د ماتېدو، ورکېدو، څیرېدو، غوړېدو او داسې نورو له ډلې څخه وي، په دې صورت کې، یاد مالونه، باید د هغه سروېس په وسیله سروې شي، چې په اړونده تګلاره کې ټاکل شوی دی او د رپوټ سروې د زیان جبران دفتر ته وسپارل شي. په ټولو حالاتو کې مشتري باید دا له پامه و نه غورځوي، چې د زیان د جبران په موخه، د تګلارې بیمه لیک اصل وړاندې کول اړین ګڼل کېږي؛ ځکه چې بیمه لیک، د مالونو د بیمې د اثبات سند او د کورج Coverage د شرایطو د

ketabton.com - The Digital Library

توضیح بیمه وي. چالاني سندونه، لکه بارلیک، انوایس او لست بندي هم اړین ګڼل کېږي، چې د مال د خاوند له خوا چمتو او د زیان جبران دفتر ته وسپارل شي. په هغو مواردو کې، چې زیان د ځمکني ترانزیت په بهیر کې رامنځته شي، نو د زیان د جبران لپاره د ریل ګاډي یا لاري د بارلیک وړاندې کول، هم د مهمو سندونو له جملې څخه ګڼل کېږي. د پورتنیو ټکیو ترڅنګ، د پیرودونکو پام لاندې ټکیو ته هم راګرځوو:

الف- که مالونه په ټاکلې موده کې، هغې وروستنۍ مرجع ته، چې په بیمه کې ترې یادونه شوې ده، و نه رسېږي، نو ژر تر ژر دې د تمدید په موخه د بیمې موسسې ته مراجعه وشي.

ب- په هغه صورت کې، چې زیانونه په سمندري بندر کې واقع شوې وي، نو باید د بندري او بېړۍ چلونې شرکتونو له مقررو سره سم، د مسوولینو پر وړاندې د مال د خاوند له لوري خبرتیا صادره شي.

ج- په هغه حالت کې، چې مال له ماتو صندوقونو او یا اشتباهي کارتنونو سره ګمرک ته وردننه شوی وي، له ګمرکه تر خروجه مخکې، باید افغان ملي بیمې ته خبر ورکړل شي، ترڅو د بیمې له خوا سروې شي.

**د حریق او حادثاتو څانګه:**

د اورلګېدنې او حادثاتو بیمه له ترټولو پخوانیو بیمو څخه ګڼل کېږي. د دغې بیمه ارزښت له هغه ځایه جوتیږي، چې په پرمختللو هېوادونو کې سړی هېڅ داسې مالي مورد نه شي موندلی، چې د حریق له اړخه نه وي بیمه شوې. د حریق په بیمه کې مالونه او شتمنۍ د اورلګېدنې د ګواښ (خطر) او همدارنګه د نورو جانبي خطرونو پر وړاندې بیمه کېږي.

د حریق بیمه د بېلابېلو بیمه لیکونو په چوکاټ کې وړاندې کېږي، ستاسې د لازیاتو معلوماتو په پار، دلته د حریق بیمې تر پوښښ لاندې خطرونو د بیان ترڅنګ، د دغې بیمې د پوښښ ډولونه معرفي کېږي. د دغې برخې کړنه په ټولیزه توګه، د تالندې، زلزلې، سېلاو، سرقت، د شخصي حوادثو بیمه، د کارګرانو بیمه، د موټرو بیمه، د شخصي او عامه مسوولیت بیمه او داسې نور په بر کې نیسي، چې په لاندې شکلونو او بڼو مروج دی:

**د حریق بیمه:**

تر دغه سرلیک لاندې د حریق او تندر په پایله کې ټول رامنځته شوي خطرونه، همدارنګه هغه زیانونه جبرانېږي، چې د اور وژلو په پایله کې بیمه شویو مالونو او جایدادونو ته اوړي. د

ketabton.com - The Digital Library

حریق بیمه لاندې ډولونه لري:

د کور، ودانیو، دولتي موسسو، ګودامونو، مغازو، دوکانونو د حریق بیمه؛ په یادو ځایونو کې اورلګېدنه، کېدای شي، د داسې سامانونو لکه اشتوب، ګیس، ډیزلي یا برقی بخاریو د ناسمې کارونې په پایله کې یا د کورنۍ غړو د نه پاملرنې له امله، رامنځته شي. په هغه صورت کې، چې ودانۍ او سامانونه یې بیمه شوي وي، نو رامنځته شوي زیانونه د افغان ملي بیمې د شرکت له خوا ورکول کېږي.

**د کارخانو او صنعتي موسسو د حریق بیمه:**

په معمول ډول په یادو موسسو کې اورلګېدنه د کارکوونکو او کارګرانو د نه پاملرنې، د برېښنا او ویرنګ کارۍ سیستم د شارټۍ، ماشینري اصطکاک، د سوځېدو وړ لمبه لرونکو اوبلنو توکو شتوالي، د بې خطره تخنیک د نه رعایت او کیمیاوي چاودنې له امله رامنځته کېږي. په هغه صورت کې، چې کارخانې او صناعتي موسسې بیمه شوي وي، نو رامنځته شوي زیانونه، د افغان ملي بیمې د شرکت له خوا جبرانېږي.

**په سیف کې د نغدو پیسو سرقت:** د موسسو، ادارو، بانکونو او نورو مراجعو په سیف کې موجودې نغدې پیسې، د سرقت خطرونو په وړاندې بیمه کېږي.

**د لېږدولو پرمهال، د نغدو پیسو د سرقت بیمه:** نغدې پیسې د موسسو، کارخانو او نورو بیمه شویو مراجعو له خوا له بانک څخه ادارې یا له اړوندې ادارې څخه بانک ته لېږدول کېږي. که چېرې د لارې په اوږدو کې د قطاع طریقو تر برید لاندې راشي، نو د یادې بیمې تر نامه لاندې جبرانېږي.

**د شخصي حوادثو بیمه:** هغه بیمه ده، چې دایمي، لنډمهاله معیوبیت او همدارنګه د بدن د یوه غړي یا یې د یوې برخې د له لاسه ورکولو زیان جبرانوي، چې د ترافیکي پېښو، ښوییدنې او یا نورو ناڅاپي پېښو په پایله کې رامنځته شوي وي. یاده بیمه د ۲۴ ساعتونو په اوږدو کې او ټول کال لپاره دوام لري.

**د خطرونو بشپړه بیمه (قراردادیان):** دغه بیمه هغه خطرونه په بر کې نیسي، چې د پروژې د جوړولو په پړاو کې، ودانیو، تعمیراتي توکیو، ودانیزو ماشین الاتو او د کار په ساحه کې د کار موجودو وسایلو ته متوجه کېږي او په پایله کې یې رامنځته شوي زیانونه جبرانوي. د بیمې معیار

ketabton.com - The Digital Library

د ساختماني تړون پر بنسټ، د ودانۍ بشپړه دوره په بر کې نیسي، د ساتنې او څارنې مودې هم تمدیدېږي. دغه بیمه د درېیم شخص پر وړاندې د ساختماني دستګاوو مسوولیت هم بیمه کوي.

**د کار د ترسره کولو پرمهال د کارکوونکو پر وړاندې د کارفرما د مسوولیت بیمه:**

د بیمې شرکت، د کارکوونکو پر وړاندې د موسسو او کارخانو یعنې کارفرما قانوني مسوولیت، د هغو خطرونو پر وړاندې بیمه کوي، چې د کار په پایله کې، لکه معیوبیت، مړینه، جسمي ټپونه او داسې نور زیانونه رامنځته کوي.

د بیمې تر دغو شرایطو لاندې، که چېرې یو کارکوونکي ته د هغه کار له امله، چې د کارفرما له خوا ورته سپارل کېږي، جسمي زیان ورسېږي، نو زیان یې جبرانېږي. دغه بیمه هغه زیانونه تر خپل پوښښ لاندې نه راولي، چې کارکوونکي ته له کاري وختونو بهر رسېږي او مسوولیت یې کارفرماته نه راجع کېږي.

د ورکړې په موخه، د کارکوونکو حق البیمه، د کار د ترسره کېدو د څرنګوالي له پلوه، په بېلابېلو کټګوریو لکه: اداري کارکوونکي، مستخدم، انجنیر، ډریور او داسې نورو باندې وېشل کېږي، چې د حق البیمې د بیې ټاکل، د کار او کلنیو عوایدو په پام کې نیولو سره توپیر کوي. په هغه صورت کې، چې د حریق او زیانمن شویو مالونو د زیانونو جبران د سروې وړ وي، نو د بیمې د موسسې له خوا استازی د پېښې د څېړلو او ارزولو لپاره سیمې ته لېږل کېږي، په دې توګه نوموړي د زیان د رامنځته کېدو لاملونه او د رامنځته شوی زیان کچه د یوه رپوټ په ترڅ کې، د بیمې موسسې ته وړاندې کوي.

د حریق په پایله کې رامنځته شوي خطرونه د اوروژنې د رپوټ له مخې او په تګلاره کې له درج شوې بیې سره سم په داسې توګه جبرانېږي، چې په کلي زیان کې سل په سلو کې، او په قسمي زیان کې له زیان سره سم نغدې پیسې ورکړل شي. د اومو او پخو موادو له اړخه اوښتی زیان، د ټاکلي بیې او د زیان قیمت د تناسب پر بنسټ، جبرانېږي. د شخصي حوادثو په بیمه کې، زیان د بیمه لیک د فیصدیو پر بنسټ ترسره کېږي. د کارګرانو په بیمه کې د مړینې او دایمي معیوبیت په صورت کې، د ۱۲ میاشتو معاش او د بدن د یوه غړي د له منځه تللو په حالت کې په بیمه لیک کې د درج شویو شرایطو پر بنسټ د درملنې د لګښتونو په ګډون، د امتیازاتو فیصدي ورکول کېږي.

**د موټرو بیمه:**

د ګاډو بیمه په دوو لاندینیو برخو کې ترسره کېږي:

ketabton.com - The Digital Library

**۱- د دریېم شخص بیمه:** که چېرې بیمه شوی موټر د ډریور د بې غورۍ او نه پاملرنې له امله، مقابل لوري ته مالي او ځاني زیان واړوي، نو دریېم شخص ته اوښتی زیان د افغان ملي بیمې د موسسې له خوا جبرانېږي.

**۲-جامع بیمه:** په جامع بیمه کې، سربېره پر دې چې د بیمه شوي موټر په وسیله دریېم شخص ته اوښتی ځاني او مالي زیان، جبرانېږي، همدارنګه د بیمه شوي موټر د سوځېدو له امله رامنځته شوي زیانونه، چې د بیمه شوي موټر د ډریور او یا د دریېم شخص د ګاډي د بې غورۍ له امله رامنځته شوي وي، هم جبرانېږي.

### د زیانونو د جبران څانګه:

لکه څرنګه چې د بیمې شرکتونه تل د خلکو په خدمت بوخت وي، نو هڅه کوي، چې د زیان د جبران له اړخه، د بیمه شویو کسانو خوښي ترلاسه کړي. نو له دې امله په دغه شرکت کې د زیان د جبران تر عنوان لاندې یو ډیپارټمنټ فعالیت کوي، چې دنده لري، څو بېلابېلې ادعاګانې لکه: اورلګېدنه، موټر، پرسونل، د مال التجارت سرقت او داسې نور وڅېړي او د هغو بیمه لیکونو د شرایطو له مخې، چې د حق البیمې د اخیستلو په بدل کې د ملي بیمې شرکت له خوا مشتریانو ته توضیح کېږي، د زیان جبران وکړي.

د زیان د جبران آمریت په چوکاټ کې د بهرنیو بیمو د سروې تر نامه لاندې یو ډیپارټمنټ فعالیت کوي، چې د سوداګرو هغه مالونه، چې له هېواده بهر بیمه او په مات شوي، نیمګړي او زیانمن شوي حالت هېواد ته وارد شي، د سروې د اخیستلو او تثبیت له مخې یې، زیان سروې او تثبیتېږي. د افغان ملي بیمې د رپوټ سروې د نړیوالو معیارونو مطابق وي.

### د اووم څپرکي لنډیز

لکه څنګه چې افغان ملي بیمه د هېواد په کچه د بیمې یوازینۍ فعاله اداره ده او له بلې خوا د دغې موسسې د فعالیتونو له څرنګوالي سره اشنایي د بیمې د موضوعاتو په پوهېدنه کې زیاته مرسته کوي، نو د سوداګرۍ مال (مال التجارت) آمریت د افغان ملي بیمې په کچه، د هېواد مالي بیمې د پیاوړتیا او د ملي سوداګرو او خصوصي متشبثینو د وارداتي او صادراتي مالونو د ساتنې په موخه، خپل فعالیتونه له سره پیل کړي، چې د خپلو مشتریانو سوداګریز مالونه د درې ګونو کلاسونو تر شرایطو لاندې په دې توګه بیمه کوي؛ د یادونې وړ ده، چې یاد کلاسونه یو لړ ټولیز استثناات لري، چې د استثنااتو په لست کې یاد زیانونه په هېڅ صورت نه بیمه کېږي.

ketabton.com - The Digital Library

د دې لپاره، چې د بیمې موسسې وکولی شي، د مال التجارت د زیانونو د جبران له مخې او پر خپل وخت د بیمه شویو مالونو تاوان ورکړي، نو تر هر څه دمخه باید د زیان تثبیت شوي سندونه، د افغان ملي بیمې شرکت ته وسپارل شي. که د زیان سندونه او اثبات د افغان ملي بیمې شرکت له شرایطو سره سمون وخوري، نو یاد شرکت خپل مکلفیت بولي، چې ډېر ژر رامنځته شوي زیان جبران کړي.

پیرودونکې باید دا له پامه و نه غورځوي، چې د زیان د جبران په موخه، د تکلارې بیمه لیک اصل وړاندې کول اړین ګڼل کېږي؛ ځکه چې بیمه لیک، د مالونو د بیمې د اثبات سند او د کورج Coverage د شرایطو د توضیح بیمه یې وي. چالاني سندونه، لکه بارلیک، انوایس او لست بندي هم اړین ګڼل کېږي، چې د مال د خاوند له خوا چمتو او د زیان جبران دفتر ته وسپارل شي. په هغو مواردو کې، چې زیان د ځمکنۍ ترانزیت په بهیر کې رامنځته شي، نو د زیان د جبران لپاره د ریل ګاډي یا لارۍ د بارلیک وړاندې کول، هم د مهمو سندونو له جملې څخه ګڼل کېږي.

د حریق تر بیمې لاندې، د حریق او تندر په پایله کې ټول رامنځته شوي خطرونه، همدارنګه هغه زیانونه، چې د اور وژلو په پایله کې بیمه شویو مالونو او جایدادونو ته اوړي، جبرانېږي.

د موسسو، ادارو، بانکونو او نورو مراجعو په سیف کې موجودې نغدې پیسې، د سرقت خطرونو په وړاندې بیمه کېږي.

نغدې پیسې د موسسو، کارخانو او نورو بیمه شویو مراجعو له خوا له بانک څخه ادارې یا له اړوندې ادارې څخه بانک ته لېږدول کېږي. که د لارې په اوږدو کې د قطاع طریقو تر برید لاندې راشي، نو د یادې بیمې تر نامه لاندې جبرانېږي.

د شخصي حوادثو بیمه: هغه بیمه ده، چې دایمي، لنډمهاله معیوبیت او همدارنګه د بدن د یوه غړي یا یې د یوې برخې د له لاسه ورکولو زیان جبرانوي، چې د ترافیکي پېښو، ښوییدنې او یا نورو ناڅاپي پېښو په پایله کې رامنځته شوي وي. یاده بیمه د ۲۴ ساعتونو په اوږدو کې او د ټول کال لپاره دوام لري.

دټولو خطرونو بیمه (قراردادیان)، همداراز د دغه شرکت له خوا د کارکوونکو پر وړاندې د کارفرما د مسوولیت بیمه او همدارنګه د موټر بیمه هم د یادونې وړ ده. د موټر بیمه په دوه ډوله ده، د دریېیم شخص بیمه او جامع بیمه.

ketabton.com - The Digital Library

**د اووم څپرکي پوښتنې:**

۱- د هېواد په کچه د بیمې د ترټولو بااعتباره شرکت نوم واخلئ؟

۲- د افغان ملي بیمې د مال التجارت د آمریت په اړه معلومات ورکړئ؟

۳- افغان ملي بیمه د مشتریانو سوداګریز مالونه په څو کلاسونو بیمه کوي؟

۴- آیا افغان ملي بیمه د کورنیو جګړو، پاڅونونو او بلواګانو زیانونه بیمه کوي او کنه؟

۵- آیا د بیمه شوي کس د ناوړه قصد په پایله کې رامنځته شوی زیانونه او لګښتونه، د افغان ملي بیمې په دریو کلاسونو کې شاملېږي او کنه؟

۶- افغان ملي بیمه په کوم حالت کې ځان مکلف بولي، چې ژر ترژره رامنځته شوی زیان جبران کړي، په دې اړه خپل معلومات ولیکئ؟

۷- د حریق تر بیمې لاندې کوم ډول خطرونه بیمه کېږي، او د حریق بیمه په څو ډوله ده؟

۸- د ګاډو بیمه په څو څانګو کې ترسره کېږي، یوازې یې نومونه واخلئ؟

۹- د جامع بیمې په اړه خپل معلومات ولیکئ؟

۱۰- د افغان ملي بیمې د زیان د څانګې په اړه معلومات وړاندې کړئ؟

ketabton.com - The Digital Library

# اتم څپرکی

## په ملي اقتصاد کې د بیمې ونډه او په هېوادکې د بیمې د ودې لاملونه

**ټولیزه موخه**
د اقتصادي ودې د پراختیا او همدارنګه په هېواد کې د بیمې صنعت د ودې او پراختیا د لاملونو په تړاو د معلوماتو ترلاسه کول.

**د زده کړې موخې:** د دغې څپرکي په پای کې به زده کوونکي پر دې وتوانېږي چې:

۱- د ملي شتمنۍ په ساتنه کې د بیمې ونډه او رول توضیح کړي.

۲- د ملي اعتبار په زیاتېدو کې د بیمې ونډه بیان کړي.

۳- د پانګونې د تضمین په توګه د بیمې ونډه جوته کړي.

۴- د پانګونې په پراختیا کې د بیمې پر اغېزو څان پوه کړي.

۵- په هېواد کې د بیمې د ودې او پرمختیا مهم او بنسټیز لاملونه په ګوته کړي.

۶- د هېوادنۍ بیمې د مخینې په پام کې نیولو سره د هېواد له اقتصادي پرمختیا سره اشنا شي.

ketabton.com - The Digital Library

### په ملي اقتصاد کې د بیمې ونډه

باید ووایو هغه څه، چې د بیمې د لا پیاوړتیا او پراختیا لامل ګرځي، اقتصادي وده او پرمختګ دی. کوم عصر چې موږ پکې اوسېږو، د سترو ټولنیزو او اقتصادي پرمختګونو دور دی، اوسمهال، تر ټولو ښې علمي او تخنیکي لاسته راوړنې د بشر په برخه کې شوې دي. باید ووایو چې یاد پرمختګونه او علمي لاسته راوړنې په خپله د تولیدي، صنعتي، کرنیزو او سوداګریزو موسسو د پراختیا په موخه تر ټولو ستر اقتصادي محرک دی او دغه پرمختګونه او مثبت بدلونونه په خپله د بیمې ډګر د لا پراخېدو لامل ګرځي. لکه څرنګه چې مو مخکې هم یادونه وکړه، که د امنیت او خطر د کموالي د تر ټولو سترې انګیزې په توګه د بیمې نشتوالی محسوس وای، نو نن ورځ به د سترو پانګونو، د تولیدي موسسو د رامنځته کېدو او لویو لویو سوداګریزو شرکتونو د پرمختګ او پراختیا زمینې نه برابرېدې.نو ویلی شو، چې د بیمې پراختیا په خپل وار سترې اقتصادي پایلې او اغېزې لري.

ښکاره ده، چې د نن ورځې په شرایطو کې، د هغه هېواد اقتصاد پیاوړی، تلپاتی او ډاډمن وي، چې پر بیمه متکي وي؛ له دې امله، په ډېره لنډه توګه  د بیمې د شرکتونو د اقتصادي پایلو په اړه معلومات وړاندې کوو:

**د ملي شتمنۍ ساتنه:** د یوه هېواد د ملي شتمنۍ د ساتنې په موخه د بیمې شرکتونه په دوه ډوله خپل اغېزمن فعالیتونه سمبالوي. لومړی دا چې تولیدي، سوداګریزې، شخصي او دولتي موسسې د هغه حق البیمې د ورکړې په بدل کې، چې د بیمې موسسې ته ورکول کېږي، د بیموي فعالیتونو په مرسته ساتل کېږي او دغه لړۍ د هېواد د ملي شتمنۍ د ساتنې په معنا ده، ځکه دغه موسسې هر یوه د هېواد د ملي شتمنۍ جزء ګڼل کېږي. بله دا چې، د بیمې شرکتونه، د خپلو فعالیتونو او تبلیغاتو په مرسته او د تشویقي بیو په راټیټولو سره د حادثو د کچې په راټیټولو کې مرسته او بیمه کېدونکي خپلو مسوولیتونو ته متوجه کوي، چې په دې توګه یې په کمیت کې زیاتوالی راځي او په ترویج او پراختیا سره یې د هېواد د ملي پانګې په ساتنه خپله ونډه ادا کوي. لکه څرنګه چې مو مخکې هم ورته اشاره وکړه، د بیمې موسسې د مالونو او تاسیساتو خاوندانو ته دا ډاډ ورکوي، چې د حوادثو د پېښېدو په صورت کې به ورته اوښتي زیانونه په داسې بڼه جبرانوي، چې دوی کولی شي، خپلې ضایع شوې پانګې بېرته ترلاسه او د پخوا په شان خپلو فعالیتونو ته دوام ورکړي، چې په دې ترتیب سره د هغوی له اقتصادي کمزورتیا او ماتېدنې څخه مخنیوی کېږي. له بلې خوا په کورنیو شرکتونو کې ستر ریسکونه او خطرونه، پر بهرنیو شرکتونو باندې تکیه کوي، چې دغه لړۍ سل په سلو کې، د هېواد د ملي اقتصاد د ساتنې په موخه ترسره کېږي؛ ځکه د پېښې د پېښېدو او زیان د رامنځته کېدو په صورت کې، د پام وړ ورکړې نه رادمخه کېږي.

ketabton.com - The Digital Library

**تضميني بيمه د پانګه اچوونکو لپاره ده:**

لکه څرنګه چې معلومه ده، د نن ورځې له ټولو علمي لاسته راوړنو، اقتصادي او ټولنیزو پرمختګونو سره سره، بشر پر دې نه دی توانیدلی، چې د طبیعي پېښو په پایله کې رامنځته شوې غمېزې له منځه یوسي او تراوسه پورې طبیعي پېښې لکه: سېلاوونه، زلزلې، اورلګېدنې او داسې نور له بشر څخه قرباني اخلي او د هغوی مال او شتمني ته زیان اړوي.

له بلې خوا، د خطرونو بل ډول هم شته، چې د اقتصادي ناورینونو، تورم او د اسعارو په بیې کې د رامنځته کېدونکو بدلونونو زېږنده ده، چې په واقعیت کې، د اقتصادي زیانونو لامل ګرځي او اقتصادي موسسې ګواښي. همدارنګه نامساعد امنیتي شرایط، جګړې، پاڅونونه او اعتصابونه هم هغه پدېدې دي، چې تولیدي او سوداګریزو موسسو ته زیان اړوي. هغه څه چې ترې یادونه وشوه، تل د نوې پانګونې په لاره کې خنډ ګڼل کېږي؛ ځکه پکې د پانګې د له منځه تللو وېره موجوده ده، او دا یوازینې بیمه ده، چې کولی شي، د دغې وېرې او ګواښ کچه راټیټه، د خلکو په ذهنونو کې د باور او اعتماد روحیه راژوندې او په دې توګه هغوی د سوداګرۍ، کرنې او صنعت ملاتړي ته وهڅوي او لږ ترلږه د هغوی لپاره یو شمېر پورتني خطرونه تضمین کړي. باید ووایو، چې دا د خوښۍ ځای دی، چې اوسمهال د بیمې کړۍ ډېره پراخه شوې ده. لکه څرنګه، چې هر پانګوال کولی شي له خپلې لېوالتیا سره سمه پانګونه وکړي او د صنعت، کرنې او سوداګرۍ د پرمختیا زمینې برابرې کړي. نن ورځ د نړۍ په زیاترو هېوادونو کې، د اسعارو د بیې راټیټېدل، اقتصادي کمزورتیا او د افلاس خطرونه تر بهرنۍ بیمې لاندې راغلي. همدارنګه، پاڅونونه، وسلواله غلا او اعتصابونه هم د بیمې وړ دي، او هغه څه چې په طبیعي خطرونو پورې اړه نیسي، باید ووایو، چې په ټولیزه توګه د بیمه کېدو وړ دي. همدا راز د زلزلې، تندر او اټومي تشعشعاتو لپاره هم بیمه رامنځته شوې ده.

**بیمه د اعتبار د زیاتېدو لامل:** په ننني معاملو کې د اعتبار ونډه کره او جوته ده؛ ځکه نن ورځ معاملې پر نغدو لږ ترسره کېږي. او د زیاترو اقتصادي موسسو او سوداګرو د اعتبار له مخې صورت مومي. جوته ده، چې د اعتبار پراختیا او هستي په هغه صورت کې شونې ده، چې پور ورکوونکي د مقابل لوري د شتمنۍ پر دوام او بقا باوري او ډاډمن وي، نو ځکه د کارخانې هر خاوند کولی شي، پر خپلې شتمنۍ او پانګې په اتکا سره، اعتبار ترلاسه کړي.

دغه موضوع هم مطرحه ده، چې دغه پانګه او شتمنۍ باید په راتلونکي کې موجوده او د له منځه تللو څخه یې ساتنه وشي. له دې پرته د هېڅ کارخانې خاوند او سوداګر نه شي کولی، پر خپلې پانګې او شتمنۍ په اتکا سره، اعتبار ترلاسه کړي؛ ځکه هېڅوک به پر هغو پانګو باور و نه کړي، چې د له منځه تلو اټکل یې موجود وي. خو له نېکه مرغه نن ورځ د خطرونو پر وړاندې د شتمنیو د هر جزء لپاره بیمه شته، چې دغه مسله په خپله له اعتباري معاملو سره ستره مرسته

ketabton.com - The Digital Library

ګڼل کېږي. ځکه د پور او اعتبار په اخیستلو تر ډېره کچه، هغه بیمه شوي پانګې ته ارزښت ورکول کېږي، چې د مقروض په واک کې قرار لري او له وثیقې او نورو سندونو څخه صرف نظر کېږي. له همدې امله ده، چې کولی شو، په سوداګریز ډګر کې له بیمې څخه د تر ټولو ښه مرستندوی او ملاتړ په توګه یادونه وکړو. د بیمې د تګلارې په درلودلو سره یو سوداګر کولی شي، په ډېره لږه پانګه، پر سوداګریزو فعالیتونو بوخت وي.

د بیمې تګلاره، د اعتبار او معاملو لپاره تر ټولو ښه سند دی؛ بیمې د هغو خدمتونو له مخې چې ترسره کوي یې کولی شي،د ترټولو پیاوړي او معتبر ضامن په توګه د منلو وړ واقع شي. کله چې یو سوداګر سپلایر ته مراجعه وکړي، سپلایر ترې د پیسو یا یو پولي تضمین غوښتنه کوي، چې نوموړی د بانک له لارې لیتراف کریډیټ پرانېږي، خو بانک د لیتراف کریډیټ د پرانیستلو په بدل کې ترې تضمین غواړي.

داډول تضمین د چمتو کولو لپاره تر ټولو آسانه لاره د بیمې د تګلارې درلودل دی، چې په دې لړ کې د بیمې موسسې له کوم تضمین پرته، اړوندې تګلارې سوداګرو ته برابروي، چې په دې توګه د سوداګریزو فعالیتونو څرخ په خوځښت راځي. دې ته په پام سره ویلی شو، چې بیمې په دې برخه کې ترټولو ښه ونډه ادا کوي او د سوداګریزو راکړو ورکړو د پراختیا لامل ګرځي. همدارنګه، د بیمې د تګلارې لرونکو ته ترټولو ښه تکیه هم ګڼل کېږي، چې د اقتصادي فعالیتونو په وده او پراختیا کې اغېزمنې لاسته راوړنې درلودلی شي.

**د پانګه اچونې پراختیا:** د بیمې شرکتونه له بیمه کېدونکو څخه لږه حق البیمه ترلاسه کوي. دغه حق البیمه لکه څرنګه چې تاسې پوهېږئ، د زیانونو تر ورکړې مخکې د تړون په پیل کې ورکول کېږي، چې د راټولېدو او یو ځای کېدو په پایله کې یې زیاتې پانګې برابرېږي. د دغو پانګو په کارلوېدو سره به د اقتصادي پرمختیا، سوداګریزو چارو او د تولیداتو د پراختیا په برخه کې د پام وړ مثبت بدلونونه رامنځته شي.

د بیمې د موسسو فني ذخیرې د هغوی د فعالیتونو او سابقې په کچې پورې تړلې دي. لکه څرنګه چې ښکاره ده، سابقه لرونکي لوی شرکتونه، د پام وړ فني ذخیرې لري، چې اندازه یې سلګونو میلیونو افغانیو ته رسېږي. د یادونې وړ ده، چې د بیمې دشرکتونو ترمنځ د عمر بیمې زېرمې تر نورو زیاتې دي. د بیمې د شرکتونو د ذخیرو مجموعه هم سترې زېرمې جوړوي، چې په کار اچول یې باید د دولت له اقتصادي سیاستونو سره په ټکر کې واقع نه وي. له دې امله ده، چې دولتونه د بیمې پر چارو په ځانګړې توګه د شرکتونو د زېرمو د لګولو یا د پانګونې پر څرنګوالي باندې څارنه کوي.

ketabton.com - The Digital Library

**په هېواد کې د بيمې د ودې مخينه او لاملونه:**

لکه څرنګه چې معلومه ده، افغانستان له اقتصادي پلوه ډېرې زياتې لاسته راوړنې نه لري او د مخ پر ودو هېوادونو له جملې څخه ګڼل کېږي. په ځانګړې توګه دريو تېرو لسيزو جګړې زموږ اقتصادي بنسټونه ډېر سخت زيانمن کړي، چې ټول اقتصادي ډګرونه يې تر خپلې اغېزې لاندې راوستی او د بيمې ډګر هم ، له دغه امر څخه مستثنا نه شی ګڼل کېدای. پر دې بنسټ، هغه څه چې کولی شي، د بيمې صنعت په هېواد کې پر يو پراخ صنعت باندې بدل کړي، په لومړي ګام کې د جګړې پای ته رسېدل، د بيارغونې چارې چټکې او د هېوادنۍ اقتصاد وده ده. بايد ووايو، چې همدا اوس په هېواد کې له ډېر لږ اقتصادي بدلون سره، د خصوصي بيمې په څانګه کې يو لړ پرمختګونه او پرمختياوې تر سترګو کېږي. لکه څرنګه، چې په دې وروستيو کې د افغان ملي بيمې ترڅنګ د يو دوو خصوصي موسسو د رامنځته کېدو شاهد يو، چې دغه مسله دا هيله رادمخه کوي، چې په راتلونکي کې د همداسې موسسو په شمېر کې زياتوالی راشي. پر دې بنسټ، په افغانستان کې د بيمې صنعت د پرمختيا لرليد، د هېواد په اقتصادي وده او د سوداګريزو او صنعتي موسسو په پراختيا پورې تړلی دی. دا ښکاره خبره ده، چې د يوه هېواد وده، پرمختيا او پر صنعتي ډګر او سيمه باندې يې بدلېدل، د بيمې په پرمختيا پورې تړلی دی. همدارنګه بيمه د يادې پروسې د چټکتيا مهم لامل ګڼل کېږي.

لکه څرنګه چې په مخکنيو څپرکو کې مو هم ترې يادونه وکړه، په افغانستان کې لکه د هر مخ پر وده هېواد په شان، د بيمې د پرمختيا لپاره د قانون شتوالی اړين ګڼل کېږي، ترڅو د موادو په رڼا کې د بيموي خدمتونو د فعاليت لپاره مناسبې زمينې برابرې شي. له نېکه مرغه زموږ په هېواد کې د بيمې قانون نافذ او پلي کېږي. د دغه قانون له مخې، د بيمې د خصوصي موسسو لپاره بايد زمينه برابره او ورسره مرسته او همکاري وشي.

بله مهمه مسله هماغه د بيمې د ارزښت بيان او د سوداګرو، خدماتي او صنعتي موسسو د مالونو او د خلکو د شتمنيو په ساتنه کې يې د کره ونډې جوتول دي، چې په دې برخه کې بايد سمه پاملرنه او کاري ګامونه واخيستل شي او يادې مسئلې د ډله ييزو رسنيو له لارې د مسوولو چارواکو له خوا د خلکو خبرتيا ته ورسول شي. په ځانګړې توګه د افغان ملي بيمې موسسه کولی شي، په دې برخه کې د اغېزمنو او منظمو خپرونو له لارې د پام وړ خدمت ترسره کړي.

د کتابونو خپرول، که څه هم قسمي کارونه لري، خو بيا هم د روڼ آندې طبقې ترمنځ د بيمې په برخه کې د معلوماتو په زياتولو کې اغېزمن ګڼل کېږي. د اورلګېدنې او د دوکانونو او ګودامونو د مالونو او توکو د سوځېدو له بې سارو زيانونو څخه خبرتيا او د بيمې ايمني ونډې اړخ او د زيانونو جبران ته د سوداګرو، کسبګرو او خلکو پام رااړول، په طبيعي توګه د خلکو د پاملرنې لامل ګرځي او خلک په خپله د بيمې ارزښت او اړتيا درک کوي، په دې توګه په هېواد کې د بيموي

ketabton.com - The Digital Library

خدمتونو د پراختیا او ګړندیتوب لپاره لارې هوارې او ښې زمینې برابرېږي.

بله مهمه مسله هماغه د ماهر او وړ پرسونل شتون دی، چې د بیموي خدمتونو د پراختیا او ودې په موخه یې په روزنه کې باید زیاته پاملرنه وشي.

باید له پامه و نه غورځوو، چې د خلکو او د بیمې دپیرودونکو له خوا د خپلو دندو ترسره کول، هم پر خپل ځای ځانګړی ارزښت لري. پر خپل وخت او زمان د بیمې حق ورکړه، په تړونونو د درج شویو موادو درناوي او پلیتابه او ترې نه سرغړونه هغه څه دي، چې د بیمې د هڅونې او پراختیا لامل کېږي او همدارنګه باید څرګنده کړو، چې د بیمې د شرکتونو له خوا په سمه توګه د خدمتونو ترسره کول هم د خلکو باور اواعتبار زیاتولی شي او دغه پروسه نوره چټکه کوي.

**د اتم څپرکی د مطالبو لنډیز:**

که د امنیت او خطر د کموالي د تر ټولو سترې انګیزې په توګه د بیمې نشتوالی محسوس وای، نو نن ورځ به د سترو پانګونو، د تولیدي موسسو د رامنځته کېدو او لویو لویو سوداګریزو شرکتونو د پرمختګ او پراختیا زمینې نه برابرېدې. د بیمې د شرکتونو اقتصادي اغېزې په لاندې توګه لست کولی شو:

**لومړی د ملي شتمنۍ ساتنه:** د ملي شتمنۍد ساتنې په موخه د بیمې شرکتونه په دوه ډوله خپل اغېزمن فعالیتونه سمبالوي. لومړی دا چې، تولیدي، سوداګریزې، شخصي او دولتي موسسې د هغې حق البیمې د ورکړې په بدل کې، چې د بیمې موسسې ته یې ورکوي، د بیموي فعالیتونو په مرسته ساتل کېږي. بله دا چې، د بیمې شرکتونه، د بیمې په ترویج او پراختیا کې د ملي شتمنۍ په ساتنه کې رغنده ونډه اخلي.

**دویم – تضمیني بیمه** ،هغه ده چې د پانګې د له منځه تګ د ګواښ کچه راټیټه، د خلکو په ذهنونو کې د باور او اعتماد روحیه راژوندې او په دې توګه هغوی د سوداګرۍ، کرنې او صنعت ملاتړې ته وهڅوي او لږ ترلږه د هغوی لپاره یو شمېر پورتني خطرونه تضمین کړي. نن ورځ د نړۍ په زیاترو هېوادونو کې، د اسعارو د بیې راټیټېدل، اقتصادي کمزورتیا او د افلاس خطرونه تر بهرني بیمې لاندې راغلي. همدارنګه، پاڅونونه، وسلواله غلا او اعتصابونه هم د بیمې وړ دی، او هغه څه چې په طبیعي خطرونو پورې اړه نیسي، باید ووایو، چې په ټولیزه توګه د بیمه کېدو وړ دی.

**درېیم: بیمه د اعتبار د زیاتېدو لامل:** له نېکه مرغه نن ورځ د خطرونو پر وړاندې د شتمنیو د هر جزء لپاره بیمه شته، چې دغه مسله په خپله له اعتباري معاملو سره ستره مرسته ګڼل کېږي.

ketabton.com - The Digital Library

ځکه د پور او اعتبار په اخیستلو سره تر ډېره کچه، هغه بیمه شوې پانګې ته ارزښت ورکول کېږي، چې د مقروض په واک کې قرار لري او له وثیقې او نورو سندونو څخه صرف نظر کېږي. له همدې امله ده، چې کولی شو، په سوداګریز ډګر کې له بیمې څخه د تر ټولو ښه مرستندوی او ملاتړ په توګه یادونه وکړو.

د بیمې د تګلارې په درلودلو سره یو سوداګر کولی شي، په ډېره لږه پانګه، پر سوداګریزو فعالیتونو بوخت وي.

د بیمې تګلاره، د اعتبار او معاملو لپاره تر ټولو ښه سند دی.

**د پانګه اچونې پراختیا:** د بیمې شرکتونه له بیمه کېدونکو څخه لږه حق البیمه ترلاسه کوي، چې له یو ځای کېدو څخه یېستره پانګه رامنځته کېږي. د دغو پانګو په کارلوېدو سره به د اقتصادي پرمختیا، سوداګریزو چارو او د تولیداتو د پراختیا په برخه کې د پام وړ مثبت بدلونونه رامنځته شي.

هغه څه چې کولی شي، د بیمې صنعت په هېواد کې پر یو پراخ صنعت باندې بدل کړي، په لومړي ګام کې د جګړې پای ته رسېدل، د بیارغونې چارې چټکی او د هېوادنۍ اقتصاد وده ده. د بیمې د پرمختیا مهم لاملونه په لاندې توګه بیانولی شو: د بیمې د قانون موجودیت، خلکو ته د بیمې د ارزښت او اهمیت بیان، د پرسونل روزنه، د مشتریانو له خوا د خپلو مسوولیتونو سرته رسول او د بیمې د شرکتونو له خوا د مناسبو خدمتونو وړاندې کول.

ketabton.com - The Digital Library

**د اتم څپرکي پوښتنې:**

۱- د ملي شتمنۍ د ساتنې لپاره د بیمې شرکتونه په څو ډوله اغېزمن ثابتېدای شي؟

۲- بیمه د پانګونې څرنګه تضمین دی، توضیح یې کړئ؟

۳- د اعتبار د زیاتېدو د لامل په توګه د بیمې ونډه بیان کړئ؟

۴- د پانګونې په پراختیا کې د بیمې ونډه بیان کړئ؟

۵- د بیمې د شرکتونو اقتصادي اغېزې په څو کرښو کې رالنډې کړئ؟

۶- د کومو لاملونو له مخې کېدای شي، چې د بیمې صنعت په راتلونکي کې په یو پراخ صنعت باندې بدل شي؟

۷- آیا په هېواد کې د بیمې قانون ته اړتیا شته، په دې اړه خپل نظر څرګند کړئ؟

۸- د بیمې د تخنیکي پرسونل روزنه، د بیمې په وده کې څه رول لري؟

۹- هغه لاملونه، چې په هېواد کې د ودې لپاره اړین ګڼل کېږي، تشریح کړئ؟

ketabton.com - The Digital Library

# د هیواد د بیمې قانون

## عمومي حکمونه

**<u>لومړی ماده:</u>** دغه قانون د بیمې د چارو د تنظیم په موخه وضع شوی دی.

**<u>دویمه ماده:</u>** لاندې اصطلاحات په دغه قانون کې لاندني معناوې لري:

۱. بیمه : د بیمه کوونکی او بیمه کېدونکی ترمنځ تړون دی، چې له امله یې بیمه کوونکی د ټاکلي حق البیمې د اخیستلو پر وړاندې د مقابل لوري د خسارې د جبران ژمنه کوي.

۲. بیمه کوونکی : د بیمې شرکت.

۳. بیمه کېدونکی: هغه حقیقي یا حکمي شخصیت دی، چې په خپله ګټه یا د بل د ګټې لپاره د بیمې له ډولونو څخه یو ډول، اصالتا یا وکالتا عقد کوي.

۴. بیمه شوی مبلغ: د رامنځته شوی زیان پر وړاندې، د بیمه کوونکی حد اعظمي مکلفیت دی، چې په بیمه پاڼه کې ترې یادونه کېږي.

۵. حق البیمه : هغه وجه ده، چې بیمه کېدونکی یې د بیمې د اخیستلو په مقابل کې، د بیمې شرکت ته ورکوي.

۶. د خسارې (زیان) جبران: نغدي یا عوضي وجه ده، چې د پېښې د رامنځته کېدو په صورت کې ، د خسارې تر تثبیت وروسته، بیمه کېدونکي ته ورکول کېږي.

۷. د بیمې موضوع: په هغه صورت کې، چې د انسان ژوند پر مړینې یا معلولیت معروض شي، یا شیان، جنسونه او ملکیتونه له زیان او خسارې سره مخامخ شي.

۸. بیمه پاڼه ( د بیمې پالیسۍ) : هغه حقوقي سند دی، چې د بیمه کوونکي له خوا د بیمې تړون په توګه بیمه کېدونکي ته سپارل کېږي.

۹. پېښه : هغه حالت دی، چې په رامنځته کېدو سره یې بیمه کېدونکی د بیمه پاڼې په استناد، د خپلې خسارې د جبران ادعا کوي.

ketabton.com - The Digital Library

۱۰. د بیمې زېرمې: هغه مالي وجوهات دي، چې د شرکت له عایداتي سرچینو څخه د خسارې د جبران، د شرکت د عملیاتي لګښتونو او د اتکایي بیمو د ورکړو په موخه رامنځته کېږي.

۱۱. اتکایي بیمه: د تړونونو او موافقت لیکونو پر بنسټ، د بیمې بېلابېلو شرکتونو ته د بیمې د خطرونو وېش.

۱۲. له الزام پرته جبران (Exgratia): په استثنایي حالاتو کې د بیمه کوونکي له خوا د بیمه کوونکي د خسارې جبران.له دې سره سره، چې بیمه کوونکی د بیمه کېدونکي پر وړاندې قانوني مکلفیت نه لري،

**درېیمه ماده:** بیمه د لاندینیو خطرونو پر وړاندې ترسره کېږي:

۱. هغه خطرونه، چې د فضایي، ځمکني او سمندري ترانسپورت پر وسایطو او محمولو یې د پېښو له امله رامنځته کېږي.

۲. اور اخیستنه، غلا او هغه پېښې، چې جسمي روغتیا او سلامتیا ګواښوي.

۳. غیرمترقبه طبیعي پېښې لکه زلزله، سېلاو، طوفان او داسې نور.

۴. د موټرو ټکر او د هغوی له ګرځېدو او حرکت څخه رامنځته شوي خطرونه.

۵. په صنعتي، ساختماني، خدماتي او نورو ورته موسسو کې د کار له امله رامنځته شوي خطرونه.

۶. له سیف څخه د پیسو غلا او د لېږدولو پرمهال د پیسو تلف کېدل.

۷. د جګړې، لاریون، اعتصاب او بلوا له امله، رامنځته شوي پیښې او خطرونه.

۸. هغه نور خطرونه او پېښې، چې په راتلونکي کې یې پر وړاندې د بیمه کولو اړتیا رادمخه شي.

**څلورمه ماده:** د دغه قانون په درېیمه ماده کې د درج شویو موخو د ترلاسه کېدو او د بیمې د سالم فعالیت لپاره، د بیمې شرکت د نړیوال تعامل پر بنسټ فعالیت کوي.

**پنځمه ماده:** د بیمې د شرکت هدفونه او د فعالیت ډول، د هغې د اساسنامې په وسیله تنظیمېږي.

ketabton.com - The Digital Library

## د اداري جوړول او انحلال

**شپږمه ماده:** د بیمې د شرکت جوړول د وزیرانو د شورا واک دی.

**اومه ماده:** د بیمې د شرکت حرفوي او سوداګریز فعالیتونه د دغه قانون او د اړوندې اساسنامې له حکمونو سره سم ترسره کېږي.

**اتمه ماده:** د بیمې شرکت مکلف دی، چې د کلنی ثبت د بیلانس یوه کاپي، د بل کال د لومړی نیمايي تر پای ته رسېدو وړاندې، د مالیې وزارت ته وسپاري.

**نهمه ماده:** د بیمې د شرکت حسابي چارې هر کال د کورني او یا بهرني اعتبار لرونکو کتونکو له خوا تصدیق او څېړل کېږي.

**لسمه ماده:** شرکت کولی شي، د افغانستان جمهوریت په دولتي، مختلط او خصوصي سکتورونو کې پانګونه وکړي.

**یوولسمه ماده:** شرکت د لاندینیو عواملو څخه د یو عامل له امله، منحل کېږي:

- د سپارل شویو دندو او په اړونده اساسنامه کې د یادو هدفونو د ترسره کولو د نه امکان په صورت کې.
- د انحلال په اړه یې د وزیرانو شورا پرېکړه.

(۲) د انحلال په اړه د سهم لرونکو تجویز په داسې صورت کې، چې د پرله پسې زیانونو له امله، د شرکت د فعالیت دوام غیراقتصادي تشخیص کړي، د وزیرانو شورا ته د پرېکړې لپاره وړاندې کېږي.

ketabton.com - The Digital Library

# د بیمې عقد

**دولسمه ماده:** بیمه په لیکلي ډول عقد کېږي. د دغه عقد د ثبت سند د بیمه لیک (د بیمې پالیسۍ) په نامه یادېږي. هغه سندونه، پاڼې او فورمونه، چې د دغه عقد د ترتیبولو لپاره ترې ګټه اخیستل کېږي، د هغه ضمایم جوړوي.

**دیارلسمه ماده:** بیمه کوونکی حق لري، چې بیمه کېدونکی شخص، جنس او یا جایداد معاینه کړي.

**څوارلسمه ماده:** بیمه کوونکی او بیمه کېدونکی مکلف دي، چې د بیمې د عقد پر مهال، مقابل لوری د هغو ټکو په اړه خبر کړي، چې یې د مسوولیت د زیاتېدو یا کمېدو لامل ګرځي.

**پنځلسمه ماده:** حق البیمه د دولت د صکوکو د ورکولو تابع ده. دغه صکوک له بیمه کېدونکي څخه اخیستل کېږي.

ketabton.com - The Digital Library

# د حق البيمې ورکړه

**شپاړلسمه ماده:** بيمه کېدونکی د هغه بيمه ليک پر بنسټ، چې د بيمې د شرکت له خوا صادربېږي، ټاکلې حق البيمه ورکوي.

د حق البيمې د پرېکړې څرنګوالی د بيمې د شرکت له خوا ټاکل کېږي.

**اوولسمه ماده:** د بيمه کېدونکي پر وړاندې د بيمه کوونکي مسووليت هغه وخت پيل کېږي، چې حق البيمه د بيمه کېدونکي له خوا ورکړل شي، مګر دا چې په عقد کې په بل ډول موافقه شوې وي.

ketabton.com - The Digital Library

# د زیان جبران

**اتلسمه ماده:** د زیان جبران د رامنځته شوی زیان په تناسب، له بیمه لیک سره ترسره کېږي، او په هېڅ صورت تر بیمه شوی مبلغ نه زیاتېږي.

**نولسمه ماده:** د بیمې شرکت ، رسېدلی زیان په نغدي توګه جبران یا زیانمن جنس قسما یا په بشپړه توګه ترمیموي یا هغه تعویضوي.

**شلمه ماده :** د دربیم شخص د بیمې په پېښو کې، د درملنې لګښت هم د زیان په جبران شامل دی. په هغه صورت کې، چې بیمه کوونکی د قانون په حکم د زیان پر ورکړه مکلف وي.

**یوویشتمه ماده:** د حریق په بیمه کې اړول شوی زیان، د لګښت په بیې سربېره، چې د دغه قانون له ۱۸ مادې سره سم ټاکل کېږي، د نورو مالونو بیه، چې د اور وژلو د اقداماتو په پایله کې زیانمن کېږي، د بیمه لیک د شرایطو په پام کې نیولو سره، هم شامل وي.

**دوه ویشتمه ماده:** د حمل او نقل په بیمه کې د خسارې په جبران کې د لېږدونې اجره او نور هغه لګښتونه شامل وي، چې د شیانو د لېږدونې لپاره ترې ګټه اخیستل کېږي، په دې شرط، چې لګښتونه، د بیمې په تړون کې ذکر شوی وي.

**در ویشتمه ماده:** د بیمې شرکت کولی شي، په استثنایي حالاتو کې له الزام پرته جبران (Exgratia) له قاعدې څخه د زیان په جبران کې ګټه واخلي.

**څلور ویشتمه ماده:** د وخت تېرېدل د زیان د جبران د غوښتنې لپاره یو کال دی، د یادې مودې د پیل نېټه د حادثې د پېښې ورځ ګڼل کېږي.

ketabton.com - The Digital Library

# د مسوولیت د مواردو ټاکل

**پنځه ویشتمه ماده:** د بیمې شرکت د بیمه لیک له شرایطو سره سم، بیمه کېدونکي ته د اوښتی زیان د جبران مسوولیت پر غاړه لري.

**شپږ ویشتمه ماده:** د بیمې شرکت د لاندینیو لاملونو له امله د رامنځته شویو زیانونو په جبرانولو مکلف نه دی:

۱.د بیمه کېدونکی درغلی.

۲.د بیمه کېدونکی چل او فریب.

۳.د مال ذاتي عیب.

۴.د نړیوال تعامل پر بنسټ، د مال ځنډ او تاخیر.

**اوه ویشتمه ماده:** بیمه کېدونکی مکلف دی، په لنډ وخت کې د بیمې شرکت د حادثې له پېښېدو خبر کړي، له دې پرته به د بیمې شرکت کوم مسوولیت نه لري. مګر دا چې بیمه کېدونکی ثابته کړي، چې خبر ورکول، د ده له ارادې څخه د وتلیو لاملونو له امله شونی او مقدور نه و.

**اته ویشتمه ماده:** بیمه کېدونکی مکلف دی، د زیان له پېښېدو څخه مخنیوی وکړي، او همدا شان د زیان په کچه کې د کموالی راوستو په موخه معقول تدبیرونه پلي کړي.

**نهه ویشتمه ماده:** د زیان تر جبران وروسته د بیمې شرکت له حقوقي پلوه د بیمه کېدونکی د قایم مقام دریځ غوره کوي او د درېیم حقیقي او حکمي اشخاصو پر وړاندې د بیمه کېدونکی حقوق او مطالبات، د بیمې شرکت ته لېږدول کېږي.

**دېرشمه ماده:** که بیمه کېدونکی، د بیمې په سندونو کې ځینې ټکي نه وي څرګند کړی، یا د حقیقت خلاف ټکي یې څرګند کړی وي، په داسې ډول، چې د خطر ماهیت ته بدلون ورکړي، یایې د هغه اهمیت کم کړې وي، د بیمې شرکت د خطر تر پېښېدو مخکې، اضافي حق البیمه غوښتلی شي.

ketabton.com - The Digital Library

# د بطلان او فسخ موارد

**<u>یو دېرشمه ماده:</u>** بیمه په لاندېنیو مواردو کې باطله ګڼل کېږي:

۱.د عقد پر وخت د خطر له پېښېدو څخه د بیمه کېدونکی خبرتیا.

۲.د واقعیت له ښکاره کولو څخه د بیمه کېدونکی عمدي ډډه یا د هغه دروغ ښکاره کونې، چې د پېښې په ماهیت کې د بدلون یا د هغې د اهمیت د کمېدو لامل شي.

۳.هغه خطر، چې جنس یې په وړاندې بیمه کېږي، د بیمې تر عقد مخکې پېښ شوی وي.

**<u>دوه دېرشمه ماده:</u>** د بیمې تړون په لاندینیو حالاتو کې فسخ کېږي:

۱.د بیمې د شرکت افلاس او انحلال.

۲.د دغه قانون په دېرشمه ماده کې د درج شوې اضافي حق البیمې د پرېکړې په اړه د بیمه کېدونکی نه موافقه، په دغه حالت کې اخیستل شوی حق البیمه، بیمه کېدونکي ته مستردېږي.

۳.د بیمه کېدونکی مړینه او د تړون پر تاییدېدو د ورثې یا د بیمې د شرکت نه موافقه.

۴.په هغه صورت کې، چې بیمه کېدونکی بیمه شوی مال بل شخص ته ولېږدوي او نوموړی شخص یا د بیمې شرکت د تړون دوام ته حاضر نه شي. په دغه صورت کې او د دغې مادې په (۳) فقره کې په درج شوی حالت کې، دواړه خواوې کولی شي، د بیمه کېدونکی تر مړینې یا د مال تر انتقال یوه میاشت وروسته، بیمه فسخ کړي.

۵.په هغه صورت کې، چې د بیمې اصلي مال په کمیت، کیفیت، موقعیت یا مواصلاتي کرښو کې بدلون راشي، او په اړه یې دواړو خواوو پخوا موافقه نه وي کړې.

ketabton.com - The Digital Library

# متفرقه حکمونه

**دري دېرشمه ماده:** د بیمه کېدونکی د مړینې په صورت کې ټول حقوق د بیمه لیک له شرایطو سره سم قانوني ورثې ته لېږدول کېږي.

**څلور دېرشمه ماده:** په بیمې پورې د اړونده دعوو څېړل د تړون له مندرجاتو سره سم او په هغه صورت کې، چې په تړون کې نه وي ذکر شوی، د دغه قانون او سوداګرۍ قانون له حکمونو سره سم، د سوداګرۍ محکمې له واکونو څخه دی. دواړه لوري کولی شي، خپل د پام وړ اختلاف د حکمیت له لارې حل کړي.

**پنځه دېرشمه ماده:** هغه موارد، چې په دغه قانون کې نه دی اټکل شوی، د سوداګرۍ د قانون له حکمونو سره حل او فصل کېږي.

**شپږدېرشمه ماده:** دغه قانون په رسمي جریده کې تر خپرېدو وروسته نافذ دی او په انفاذ سره یې د رسمي جریدې د ۱۳۵۸/۴/۱۶ نېټې په ۴۳۰ مه ګڼه کې د بیمې خپور شوی قانون او د بیمې په اړه د ۱۳۳۴/۹/۲۱ نېټې خپور شوی د سوداګرۍ د قانون دیارلسم څپرکي ملغی ګڼل کېږي.

ketabton.com - The Digital Library

**سرچيني او اخځليکونه:**


۱- مقالات سمینار بیموی ملی افغان قبل از سال ۱۳۸۸.

۲- معلومات، ارقام و احصائیه ها مبنی بر گزارش کتبی از بیمه ملی افغان سال ۱۳۸۶.

۳- نشریه شرکت ملی بیمه افغان سال ۱۳۸۵.

۴- جوهریان، محمد ولی، ۱۳۵۸ ، بیمه برای همه، ایران.

۵- فخعی، امیر حسین، ۱۳۴۹، بیمه و نقش آن در توسعه اقتصادی، ایران.

۶- کیهان، محمود، ۱۳۲۸ اصول علم و اقتصاد، تهران.

۷- قانون بیمه سال ۱۳۸۶.

۸- یادداشت ها و لکچرنوت های موجود در انستیتوت اداره و حسابداری.

ketabton.com - The Digital Library

# د ښوونيز نصاب د پراختيا د رياست پيغام

د پوهنې وزارت د تخنيکي او مسلکي زده کړو معينيت د ښوونيز نصاب د انکشاف رياست د ټولنې د عيني او ښکاره ضرورت په درک کولو سره چې د محصلينو او شاګردانو د درسي کتابونو په برخه کې يې تخنيکي او مسلکي رشتې درلودې او لرې يې، په لومړي سر کې يې تصميم ونيو، چې په ښـــوونيزو پلانونو او درسي مفرداتو باندې بيا کتنه وکړي او ورپســـې بيا د شاګردانو او محصلينو د درسي کتابونو د تاليف لپاره مبادرت او کوښــښ وکړي. د خدای(ج) په فضل او مرحمت سره او د ادارې او حســـابدارۍ څانګې د ښـــوونکو په ميړانې او همت سره د ادارې او حســـابدارۍ درسي کتابونه تاليف شول تر څو په وړيا ډول د شاګردانو او محصلينو په واک او اختيار کې ورکړل شي.

د علم او معرفت له ټولو لوســـتونکو، علاقمندانو، د ادارې او حسابدارۍ د مکاتبو له ښوونکو، ګرانو شـــاګردانو او د تخنيکي او مســـلکي زده کړو د چارو له متخصصينو او همدا شـــان له ټولو څېړونکو او شنونکو څخه صميمانه هيله کيږي، چې د دې کتابونو په مطالعې سره چې په لومړي ځل د ښـــوونکو او د ادارې او حســـابدارۍ څانګې د مســـلکي غړو له لوري تاليف او تدوين شوي دي. د مســـلکي، تخنيکـــي او علمي مطالبـــو او مفاهيمو د څرنګوالي په هکلـــه خصوصاً د هغوی املايي او انشـــايي اشـــتباهاتو په اړه مونږ ته لارښوونه وکړي، ترڅو په راتلونکي کې وکړای شو، په همدې او نورو برخو کې ګرانو شـــاګردانو ته له دې څخه ښه، غوره، ګټور او ارزښتناکه موضوعات وړاندې کړو.

همدا شـــان له ګرانو شـــاګردانو او محصلينو څخه هيله کوو ترڅو د دې کتابونو د مطالعې او اســـتفادې پر مهال د هيواد اقتصادي ســـتونزې، فقر او وروســـته پاتې والی په نظر کې ونيسي او د کتابونو په ساتنه کې کوښښ او زيار وباسي، ترڅو د ډېرو شاګردانو او محصلينو د ګټې وړ وګرځي.

**پته:** د پوهنې وزارت- د مسلکي او تخنيکي زده کړو معينيت

د تعليمي نصاب د پراختيا رياست

د درسي کتابونو د چمتو کولو عمومي مديريت

# Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*